مدینه کښې چه اوسیږی نازولے محترم دے
په دیدن ئے لرے شوے دَهرچا دَ زړګی غم دے
هرعاشق ئے په دیدن پسے په زړه باندے قلم دے
پنځم جلدشولوتیارنوم ئے رحمتِ عالم دے

ټول حقوق دَمصنف په حق کښے محفوظ دی

---

دَ کتاب نوم ..... **رحمت عالم ﷺ**
( **پنځمه حصه** )
مصنف ..... **ڈاکټر الحاج لطیف الله سیفی**
تعداد ..... یوزر ——— ۱۰۰۰
دَ چاپ کیدو کال ....... ۲۰۱۹
هدیه ..... ۱۲۰
نظرثانی :
جناب فخرالشعراء مولاناظفرګل خادم نوری سیفی صاحب
کپوزنګ .... قاری حبیب الله حبیب رحمانی سیفی
(((( **میلاویدو پته** ))))
المکتبة النظامیه ریتی بازار پیښور



## حمد پاک عزوجل (۱)

اے زماپروردیګاره ستااحسان دے
چه راکړے دے نبیؐ آخرزمان دے
لوئے دِشان دے لویه ستاداخدائی ده
خدائیځ ته دِ حیران هریوانسان دے
ته اَحد ئے لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُوْلَدْ ئے
بغیرستانه فناکُل واړه جهان دے
ارض سماء دِکړه تخلیق په شپږوورځو
اودرولے دِهم بے ستنو آسمان دے
ستاسره برابرنشته په جهان کښے
په سجده درته غریب دے اوکه خان دے
بے حسابه دِ نومونه خائسته دی
نوم دِښکلے په نومونو کښے سبحان دے
لائق نه دے دَصفت ستالویه ذاته
دَسیفی لطیف الله جاری زبان دے

❁❁❁❁❁

## ذکرباری تعالیٰ (٢)

**لَآ اِلَـــــه اِلَّا اللّٰهُ ، لَآ اِلَـــــه اِلَّا اللّٰهُ**

ته ئے لاشریك ربه هم نشته بل شریك داستا
**لَآ اِلَـــــه اِلَّا اللّٰهُ ، لَآ اِلَـــــه اِلَّا اللّٰهُ**

خوږ لرے محبوبؐ الله ،محمدرسول اللهؐ
**لَآ اِلَـــــه اِلَّا اللّٰهُ ، لَآ اِلَـــــه اِلَّا اللّٰهُ**

تاته دے ډیر ګران الله ، ته ئے مهربان الله
ټولو مرسلانو کښے دِغوره کړو غنی مولا
**لَآ اِلَـــــه اِلَّا اللّٰهُ ، لَآ اِلَـــــه اِلَّا اللّٰهُ**

ځان ته دِ بللے دے ،لامکان ته تلے دے
سُبۡحٰنَ الَّذِیۡۤ اَسۡرٰی قرآن کښے ده هم ستا وینا
**لَآ اِلَـــــه اِلَّا اللّٰهُ ، لَآ اِلَـــــه اِلَّا اللّٰهُ**

اقتدا کښے شونبیان ، دومره لری اوچت شان
ځکه دے خطاب ورته میلاؤ امام الانبیآء
**لَآ اِلَـــــه اِلَّا اللّٰهُ ، لَآ اِلَـــــه اِلَّا اللّٰهُ**

سوال دخپل اُمت کوی، ستانه هرساعت کوی
یاد ورته اُمت دے بره پاس په عرشِ معلیٰ
**لَآ اِلَـــــه اِلَّا اللّٰهُ ، لَآ اِلَـــــه اِلَّا اللّٰهُ**



اُوسیږی مدینه کښے چه ، دهرعاشق سینه کښے چه
شین ګنبدلری ورسره شین منارلری زیبا
**لَآ اِلَـــــه اِلَّا اللّٰهُ ، لَآ اِلَـــــه اِلَّا اللّٰهُ**

عاشق پرے دَمودویمه ، تاته په زارویمه
رائے کړے دیدارارمان لرم سیفی لطیف الله
**لَآ اِلَـــــه اِلَّا اللّٰهُ ، لَآ اِلَـــــه اِلَّا اللّٰهُ**

## نعت شریف (٣)

سلام ته دِ ولاړدی اُمتیان خوندکوی
دَمینے په درشل کښے عاشقان خوندکوی
سُنبل وَل وَل زلفان دِ دَعنبرنه خوشبودارے
شمس والضحیٰ رخسارکښے نرګسی سترګے خمارے
رواړوه په مینه دِچشمان خوندکوی
دَمینے په درشل کښے عاشقان خوندکوی
جامونه شرموے په یونظرورکړے شراب
دعمرتږی راشی په دیدن ئے کړے سیراب
دمینے راوریږی دِباران خوندکوی
دَمینے په درشل کښے عاشقان خوندکوی
دَهجرپه تیغ مات زړونه را جوړکړے په یودم

نطر چه اولګی ئے ستا په ښکلی پاك حرم
زخمی زړونه رغے داسے درمان خوندکوی
دَمینے په درشل کښے عاشقان خوندکوی
قربت دِدَ مولی سره سَنددے لامکان کښے
سُبحَانَ الذی اَسریٰ عَبْدِہ ګوره قرآن کښے
رازونه بره خاص په لامکان خوندکوی
دَمینے په درشل کښے عاشقان خوندکوی
خلعت په تن طٰهٰ یٰسن محبوبه اوچت شان لرے
قباء دَ مزمل په غاړه دوست غنی سبحان لرے
زینت دَکُل عالم ئے داسے شان خوندکوی
دَمینے په درشل کښے عاشقان خوندکوی
دنیاز کچکول نیولے مِ سیفی لطیف اللّٰه یم
په زړه لکه غلبیل سورے محبوبه درکښے ستایم
اوچت لاس په دُعا سوال په زبان خوندکوی
دَمینے په درشل کښے عاشقان خوندکوی

❁❁❁❁❁



## نعت شریف (٤)

دی بختور په دُنیا ډیر چه بیت الله اُوینی
ښکلے روضه دَمحمد رسول الله اُوینی
چه شپه او ورځے دَکعبے نه طوافونه کوی
حجراسود ته ډیر په مینه سلامونه کوی
چه دسروزرونه ده ډکه دروازه اُوینی
ښکلے روضه دَمحمد رسول الله اُوینی
نفلونه کړی ډیربختوردی په حطیم مقام کښے
په زاریٔ رب ته وی ولاړ مؤمنان لاس په نام کښے
دعاشقانو سترګے سرے چه په ژړا اُوینی
ښکلے روضه دَمحمد رسول الله اُوینی
اُووه چکرے دَصفا اودمروه کوی خوند
داپه یادونو کښے دَ بی بی هاجره کوی خوند
هم پکښے دلته دَزم زم ښکلے چینه اُوینی
ښکلے روضه دَمحمد رسول الله اُوینی
حاجی صاحبه په یولاکھ دِرب قبلیٔ مونځونه
علاوه دے نه کوه دلته دَپاك رب سوالونه
چه وی په صدق خپل منزل به ډیراعلٰی اُوینی

ښکلے روضه دَمحمد رسول للّٰه اُوینی

چه په سفرروان شی بیا دَمدینے په طرف
زړه ئے تږپونه وهی بیا دَشنے روضے په طرف
دشین ګبندسره چۀ لوړه مناره اُوینی
ښکلے روضه دَمحمد رسول للّٰه اُوینی

چه په باب السلام بیا ورشی دَحضورسلام له
دغے بادشاه دَعالمینوپاك خیرالانام له
په سلامئ کښے ئے چه داښکلے جنګله اُوینی
ښکلے روضه دَمحمد رسول للّٰه اُوینی

ورسره خواکښے چه آرام کوی صدیق اکبرؓ
دا چه په خواکښے ورسره دے دویم یارئے عمرؓ
ددے دوستانوسره خواکښے چه آقا اُوینی
ښکلے روضه دَمحمد رسول للّٰه اُوینی

دَرب په درکښے کړی سوالونه مدینے ته درځی
جنګلوسره به دَجانان ښکلے روضے ته درځی
چه دا منظرعجب سیفی لطیف اللّٰه اُوینی
ښکلے روضه دَمحمد رسول للّٰه اُوینی

❁❁❁❁❁



## نعت شریف (۵)

ستادمخ جلوے دی چه داشمس قمرځلیږی
زارشمه زار ستارُخسارپردوکښے نه پټیږی

تۀ نورالانوارئے ستول جهان پتاروښان دے
ستاپه رُخسارشوے تول تخلیق دَدے جهان دے
تۀ دومره خائسته ئے حسینان درنه شرمیږی
زارشمه زار ستارُخسارپردوکښے نه پټیږی

ستاسو تول تابع دی که انسان شمس اوقمر دے
تول نظام روان دے ورته ستاسوخوږنظردے
ځکه ستاپه مخ باندے نظام تمام چلیږی
زار شمه زارستارُخسارپردوکښے نه پټیږی

پرے ئے کړلے ګوتے دیوسفؑ په مخ کتوباندے
سرونه ئے قربان کړل ستا دَښکلی مخ لیدوباندے
ستا حسین رُخسارته بل رُخسارکله رسیږی
زارشمه زار ستارُخسارپردوکښے نه پټیږی

بے لیدلوستاسودی بے شمیره عاشقان
اُویسِ قرنی درنه قربان کړل تول دندان
ستا دمینے اُورئے په سینه باندے بلیږی

زارشمه زار ستارُخسارپردوکښے نه پټیږی
مَل دبے کسانوئے نبیؐ خیرالابراره
اوکړه یونظرراته محبوبه رب دَپاره
ستاسوپه نظرهمه غمونه ټول ختمیږی
زارشمه زار ستارُخسارپردوکښے نه پټیږی
اوغواړه سیفی لطیف الله دِ مدینے ته
کله به اودریږی ستادے نورانی جنګلے ته
سوال کوومه ستا په وسیله مِ سوال قبلیږی
زارشمه زار ستارُخسارپردوکښے نه پټیږی

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (٦)

په مینه مینه وائۓ پاك رسول اللهؐ
راغے دَجانان وطن ، ښکاره شوګنبدخضرا
داخل شوم نن مدینے ښارته ځۀ
دسروګلونو نوبهارته ځۀ
پاك محمدؐ نبیؐ سردارته ځۀ
وه په زړګی کښے مِ دډیروخت تمنا
راغے دَجانان وطن ، ښکاره شوګنبدخضرا



زړه په ټوپونو باندے سرشولو
چه بے اختره نن اخترشولو
وخت دسحررنګین سحرشولو
سترګے مِ شولے په یودم باندے رنړا
راغے دَجانان وطن ، ښکاره شوګنبدخضرا
مخامخ ښکاری دروازه دسلام
دموربی بی ښکلے حجره دسلام
رنړاکوی ښکلے جنګله دسلام
روضے له ځمه دامام الانبیاء
راغے دَجانان وطن ، ښکاره شوګنبدخضرا
صدیقؓ عمرؓ ته مِ سلام اوکړو
ماپه ادب په احترام اوکړو
دجنګلے خواکښے مِ قیام اوکړو
سترګے مِ سرے شولے دغمه په ژړا
راغے دَجانان وطن ، ښکاره شوګنبدخضرا
ډیرعجیبه لری منظرمزیدار
دشین ګنبدسره لوړ ښکلے مینار
راخیژی هرخوانه بے حده انوار

تمام حرم نه ځی دنورسپینه بریښنا
راغے دَجانان وطن ، ښکاره شوګنبدخضرا

په ژوندکښے بے حده خوشحاله ئے تۀ
نن چه راغلے دیارخواله ئے تۀ
په مینه دے ښکلی آقاله تۀ
غم به دِ ختم شی سیفی لطیف الله
راغے دَجانان وطن ، ښکاره شوګنبدخضرا

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (۷)

دَمدینے ښکلے وطن پکښے جانان دے
ښکلے شین ګنبدښکاره شو،خومره روښان دے

دامدینه منوره ښکلے ده
ډکه دنُورئے مناره ښکلے ده
دَپاك وطن هره کوڅه ښکلے ده
دلته دفضل اورحمت عظیم باران دے
ښکلے شین ګنبدښکاره شو، خومره روښان دے

دلته دَکُل جهان سرداراُوسیږی
دهرعاشق دزړه قراراُوسیږی



په دِحسین اوښکلی ښاراُوسیږی
دلته دهرعاشق دخوږزړګی درمان دے
ښکلے شین ګنبدښکاره شو، خومره روښان دے

سیرابه ځان د، په دیدن کړه راشه
په دِرنګین ښکلی ګلشن کړه راشه
ترینه قربان دِمال بدن کړه راشه
زړونه راکاږی پکښے پاك نبیؐ سلطان دے
ښکلے شین ګنبدښکاره شو، خومره روښان دے

پکښے یارانوته سلام اوکړه تۀ
په ډیرادب او احترام اوکړه تۀ
دَدے جنګلو سره قیام اوکړه تۀ
دوه یاران دلته په بقیع کښے مِ عثمانؓ دے
ښکلے شین ګنبدښکاره شو، خومره روښان دے

پکښے زخمی زړونه رغیږی والله
فیضونه دلته میلاویږی والله
عُشّاق دلرے راچلیږی والله
فیض ورکوی هرچاته داسے فیض رسان دے
ښکلے شین ګنبدښکاره شو، خومره روښان دے

سیفی لطیف الله راغلے یمه

سوچ کښې روضې ښکلې ته تلې يمه
دخپل محبوب نه زاريدلې يمه
مخ راښکاره کړه دپردو دا مې ارمان دے
ښکلے شين ګنبد ښکاره شو، څومره روښان دے

## نعت شريف (۸)

ستا ددين په طمع شپې ورځې تيريږی ،، والله
کله صبريږی والله ،، زړګے نادان
ستا دَ وصال په تمنا يمه څۀ
محبوبه ستا دَ درګدا يمه ځۀ
رب ته هروخت لاس په دُعا يمه څۀ
ګنبدِ شين ښکلے هروخت په زړه وريږی ،، والله
کله صبريږی والله ،، زړګے نادان
څه عجيبه ګلشن لرے محبوبه
پکښې اوسيږی ياران درے محبوبه
دمدينې ،نورے محبوبه
ښکلی ياران مې ستا په خواکښې ډيريادېږی ،، والله
کله صبريږی والله ،، زړګے نادان
مرهم مې ئے دخوږ څګير ګلابه



ئے دهرچادزړګی سرګلابه
خائسته ئے ډيرله شمس قمرګلابه
آسمان کښې نمرسپوږمئ رُخسارنه دِ شرميږی ،، والله
کله صبريږی والله ،، زړګے نادان
دُنياده ستا په مخ روښانه ګُله
مدينه ده په هرچا ګرانه ګُله
ته پکښې ئے خوږه جانانه ګُله
چينې دفيض دِدَ روضې نه راخوريږی ،، والله
کله صبريږی والله ،، زړګے نادان
نظردَمينې اوکره ګرانه څما
دمدينې نبیؐ سلطانه ځما
بے لتا خُونه دَ زړه ورانه څما
ستاپه نظرباندے زخمی زړونه رغيږی ،، والله
کله صبريږی والله ،، زړګے نادان
لطيف الله سيفی له ورکره ديدن
زخمی پتاپسے لری تول بدن
دمودو دے ارمانی ستا دَوطن
دجدائ اُورئے سينه باندے بليږی ،، والله

کـلـــه صبـریـــږی والله ،، زړګــے نـــادان

## نعت شريف (۹)

ځه وطن کښے ستا وے نبیؐ ډیرزیات ارمانی یٔمه
زړۀ بانـدے زخمی یم نبیؐ ، زړۀ باندے زخمی یٔمه
هروخت مِ کولے خدمت ستاځه پرے راضی یٔمه
زړۀ بانـدے زخمی یم نبیؐ ، زړۀ باندے زخمی یٔمه
خپـل رب الـعزت نه دغه سوال صبابیګاه کووم
ستـــاپـــــه وسیـــلـــــه کـــووم
رائـے کـړه دیـدار دَروضـے ځۀ درتـه سوالی یٔمه
زړۀ بانـدے زخمی یم نبیؐ، زړۀ باندے زخمی یٔمه
سـوال ژړا فـریـادحیـمـه ستاپه لوئـے دربارکووم
ډیــــــرځـــــــه خـــواراوزارکـــووم
نـوردرتـه مـعلوم ده دمحبوب عشق کښے بندی یٔمه
زړۀ بانـدے زخمی یم نبیؐ ، زړۀ باندے زخمی یٔمه
زار دشیـن ګنبـداومـنـارو نـه دِ جانانـه شم
پـــاك نبـــیؐ ســلـــطـــانــــه شـــم
ستادَشیـن ګنبـددلیـدو ډیروخت نه شوقی یٔمه



زړۀ بانـدے زخمی یم نبیؐ ، زړۀ باندے زخمی یٔمه
غـوارِم مـدینـه منوره کښے خپل حیات ، الله
یـــــا پـــــکښـــــے وفــــــات ، الله
دلتـه دَهـجران غـمـونوویشتـے پـه زړګی یٔمه
زړۀ بانـدے زخمی یم نبیؐ ، زړۀ باندے زخمی یٔمه
کـاش چـه دبـقیـع په مقبره کښے دیارخواته وے
هـم نـــظـــرئـــے مـــاتــــــه وے
ډیـرارمـانـی ځـه دمزار دَعثمانؓ غنـی یٔمـه
زړۀ بانـدے زخمی یم نبیؐ ، زړۀ باندے زخمی یٔمه
کاش چه وے سیفی لطیف الله په مدینه کښے تل
وے ولاړ روضــــــــه کښـــــــے تـــــل
مـوراوپـلارنـه ګران دے عاشق ځه په خوږ نبیؐ یٔمه
زړۀ بانـدے زخمی یم نبیؐ ، زړۀ باندے زخمی یٔمه

❁❁❁❁❁

## نعت شريف (۱۰)

ګـرځـه پـه رو روعـاشقه ځومره خوشبودارے دی
دامِ دَجـانـان دَوطـن ځـومـره ښـکـلے لارے دی

ګـرځـه پـه رو رو ګُـلـه جانان دلتـه اُوسيږی
ږده قـدم دِ رو فـرشتـے ډيـرے راکـوزيـږی
دلتـه دَجانان هغه خائسته سترګے خمارے دی
دامِ دَجـانـان دَوطـن ځـو مـره ښـکـلـے لارے دی

خپـوپه ځائے دِ سترګے کيږده زمـکه ورله ښُکل کړه
دلتــه دَجـانــان وطـن کښـے هـريـوعـاشق خپـل کړه
سترګے ورلـه ښـکل کړه ترے دَ اُوښکوتلے دارے دی
دامِ دَجــانـــان دَوطـن ځـومـره ښـکـلـے لارے دی

دلتــه بــه صَفا شے تـه دَهـرے بيـمـارئ نـه
لاس بـه دِکړے پـورتـه خپـل محبوب ته دَزارئ نه
مخامخ جانان دے جنګلے ځو مره حسندارے دی
دامِ دَجــانــان دَوطـن ځـو مـره ښـکـلـے لارے دی

کـړی نـظـرپـه ميـنـه درتـه ګوری د روضـے نـه
ځـان ئـے کـړه قـربـان عـاشـقـه نورانی چهرے نـه
ځی تـرينـه انوار روضـے ئـے ډيرے جلوه دارے دی
دامِ دَجـانــان دَوطـن ځـو مـره ښـکـلـے لارے دی

اودِکـړه سلام پـه ميـنـه پـاك صديقِ اکبرؓ تـه



خـواتـه ورسـره بـل غيـرتـی حضرت عمرؓ تـه
يـارسـره پـه خـواکښـے پردے ډکے حيادارے دی
دامِ دَجـانـان دَوطـن ځـومـره ښـکـلـے لارے دی

سيفی لطيف اللّٰه ديارپه خواکښے دُعاګانے کړی
بيـابيـا دَ راتـلـلـوورتـه ډيـرے ارزوګـانـے کـړی
شيـن ګـنبـد سره مـنـارے ښـکلے مزيدارے دی
دامِ دَجـانـان دَوطـن ځـومـره ښـکـلـے لارے دی

❁❁❁❁❁

## نعت شريف (۱۱

نـمـردرنـه شـرميـږی پـه مخ ډيردی انوارونـه دی
زارشـمـه جـانـانـه سـتـا دَحُسـن مشـالـونـه دی

زلــفــے پــه اوګـودِ راخـورے نبـیؐ سـرداره
سـتـرګـو دِ دَهـرعـاشـق سيـنـه کـړلـه بيـماره
خـوالـه دِ درځی پـه ميـنـه ئـے تاته سلامونه دی
زارشــمــه جــانــانــه سـتــا دَحُسن مشـالـونـه دی

رخســارورتـــه ګـلابـــه دنـقــابـــه رابهـرکـړه
ولاړ دی عــاشـقـان درتـه غـمـونـه ئـے تهول لـرکـړه

ستامينے جورکړے ئے په زړه باندے زخمونه دی
زارشمه جانانه ستا دَحُسن مشالونه دی

تاسوکه ښکاره کړووړته سپين مخ دپردونه
پاتے به عُشاق نشي والله د سوزيدونه
تاباندے شيدا دی قربان تانه ئے ځانونه دی
زارشمه جانانه ستا دَحُسن مشالونه دی

ستامينه لری عاشقان زړه کښے تمناکوی
ستاخواته ولاړ وی ټول په مينه دادُعاکوی
ته موشے شفيع په محشر ډيرموګناهونه دی
زارشمه جانانه ستا دَحُسن مشالونه دی

هريوله ورکړے دِ قرارپه مدينه کښے
هريوته دمينه غورزولے په سينه کښے
څکلے دِ په مينه پرے دَمينے شربتونه دی
زارشمه جانانه ستا دَحُسن مشالونه دی

سيفی لطيف الله پتامئين نبی سرداردے
ستاسوديدن غواړی ستاپه مينه کښے بيماردے
خالی ئے ورله مه پريږده نيولی ئے لاسونه دی



زارشمه جانانه ستا دَحُسن مشالونه دی

❁❁❁❁❁

## نعت شريف (۱۲)

پاك رسول الله دے زما دين زما ايمان
زارشه دجانان نه زما واړه خاندان
نشته په دُنياکښے داسے بل ښکلے جانان
حيات النبیؐ دے زما دغه عقيده ده
جنګله جنګله ښکاری په جنګلوکښے شنه پرده ده
روضه روضه ډکه دانوارو شنه روضه ده

(۱)

الصلاتُ والسلام عليك يارسوله
قبول کړه سلامونه په درباردرب مقبوله
اے عاشق راشه دنيا ده ټوله فضوله
نه شے بے اَدبه ځان خبر کړه د اُصوله
ګرځه په آدب دبے آدب ژبه اوږده ده
جنګله جنګله ښکاری په جنګلوکښے شنه پرده ده
روضه روضه ډکه دانوارو شنه روضه ده

(۲)

وایه سلامونه پرے دا دوست دپاك الله دے
ظاهره كښے انسان په اصل كښے نورِ خُدا دے
لیکلے ئے نوم ځان سره خوذبح كښے جُدا دے
لیکلے ئے دځان سره دعرش په دروازه دے
نو بے دیاردنوم نه ئے نیمګړے کلمه ده
جنګله جنګله ښکاری په جنګلو کښے شنه پرده ده
روضه روضه ډکه دانوارو شنه روضه ده

(۳)

ډیر دی بے ادبه هیڅوك نه پریږدی جنګلو ته
وئ قبلے ته مخ كړه شا دِكړه ښكلو روضوته
خپله ئے شا كړے وی كه اوئے ګورے خپوته
شا بانده ے ولاړ وی دیا رانودے چهروته
ځان سره خفه شم رب راكړے حوصله ده
جنګله جنګله ښکاری په جنګلو کښے شنه پرده ده
روضه روضه ډکه دانوارو شنه روضه ده

(۴)



داداسے دربار دے چه بادشاه پكښے غریب وی
شی بادشاه غریب نودغه دومره خوش نصیب وی
دلته دنجدیانو حالت څه رنګه عجیب وی
دلته فرق كوی روضه دَښكلے پاك حبیب وی
دلته دفقیراو دبادشاه یوه كوڅه ده
جنګله جنګله ښکاری په جنګلو کښے شنه پرده ده
روضه روضه ډکه دانوارو شنه روضه ده

(۵)

څهٔ جواب به وركړے په محشر كښے پاك سردارته
تاولے كتلے نه دسوی زړه پرهارته
ماورله پتهٔ پرے لګول زړګی بیمارته
تا ئے قدر نه كوؤ چه راتلل به ځما لارته
یار په یار پوهیږی دباطن نه اشاره ده
جنګله جنګله ښکاری په جنګلو کښے شنه پرده ده
روضه روضه ډکه دانوارو شنه روضه ده

(٦)

دلته كښے ادب كړه دهریو عاشق ډیر زیات

دلته کښے محبوب دے هیرډنه کړے خپل اوقات
څو مره چه کیدے شی واخله ډیر ډیر برکات
دلتـه دِ بدل کړه دکینے بُعض عادات
ولے دِ دپاك نبیؐ دوستانو ته کینه ده
جنګله جنګله ښکاری په جنګلو کښے شنه پرده ده
روضه روضه ډکه دانوارو شنه روضه ده

(۷)

سیفی لطیف الله یارته ولاړ دے لاس په نام
نه پریدی نجدیان ئے دے جنګلے ته په ارام
کړی چه مخامخ ښکلے محبوبؐ وته سلام
دی په کرایه ولاړ حرم ئے کړو بدنام
کړی بے ادبی دَ پاك الله توره تیره ده
جنګله جنګله ښکاری په جنګلو کښے شنه پرده ده
روضه روضه ډکه دانوارو شنه روضه ده

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (۱۳)

د شنو پردونه دِ سپین مخ کړه راعیان



خیر دے خیر دے ،، بیاکه ژوندتیریږی دهجران
محبوبه ډیروخت نه لیواله یمه
روان روضے نه دِصباله یمه
داستاسو خواته ډیرخوشحاله یمه
اُوښکے مِ څاڅی درپسے یم پریشان
خیر دے خیر دے ،، بیاکه ژوندتیریږی دَهجران
ستاسو په خواکښے ډیرارام دے ګُله
که داسحردے که ماښام دے ګُله
تابانده تول حُسن تمام دے ګُله
ستوری سپوږمئ آفتاب دِحُسن ته حیران
خیر دے خیر دے ،، بیاکه ژوندتیریږی دهجران
مینه دِډیره زوره وره ګُله
نه مِ هیریږے دزړه سره ګُله
نشته بل ستاسو پشان غوره ګُله
ستادَ روضے نه رائحی ډیردَ نُور باران
خیر دے خیر دے ،، بیاکه ژوندتیریږی دَهجران
مینه مِ ډیره ده سینه کښے والله

یمه هروخت په مدینه کښې والله
ستادرحمت ښکلې چینه کښې والله
راته بل ځوك نشته والله لتانه ګران
خیر دے خیردے ،، بیاکه ژوندتیریږی دهجران

حرم کښې ډیرلرے قرارمحبوبه
پردے لرے په سپین رُخسارمحبوبه
لرے خائسته مدینه ښار محبوبه
بل رانشی اے ګلابه ستا پشان
خیر دے خیردے ،، بیاکه ژوندتیریږی دهجران

لطیف الله سیفی ستاخواته یمه
لاس مِ اوچت ولاړ دُعاته یمه
ځه دَ وِصال په طمع تاته یمه
ستاسودیدن مِ دے په زړه باندے ارمان
خیر دے خیردے ،، بیاکه ژوندتیریږی دهجران

## نعت شریف (۱٤)

دَ شنے روضے نه راته سپین مخ رانماکه
ګرانه ،، دغه یوارمان پوره ځماکه



درته ولاړ ډیرپه زارویمه ځه
ژړیږمه په سترګوسرویمه ځه
تیاره کړه ختمه په رُخساردے سپین صباکه
ګرانه ،، دغه یوارمان پوره ځماکه

ولاړ جنګلوسره دِغلے یمه
لکه معصوم سلګونیولے یمه
پتاپسے ډیرژړیدلے یمه
ځانته نزدے مِ کړه قراره مِ ژړاکه
ګرانه ،، دغه یوارمان پوره ځماکه

بے لتانشته دے قرار والله
نشته بل ستاسوپشان یار والله
عجیبه تهٔ لرے رُخسار والله
په یونظررالـه سینه ګُله صفاکه
ګرانه ،، دغه یوارمان پوره ځماکه

خواکښے دیارصدیقؓ اکبرښکلے دے
درسره یارحضرت عمرؓ ښکلے دے
یاردِ عثمان علی حیدرښکلے دے

یاران دِ ښکلی درسره ډیره وفاکه
ګرانه ،، دغه یوارمان پوره ځماکه
جنګلوکښے غلی دیدنونه کووم
ستادلیدوډیرارمانونه کووم
په مینه مینه زیارتونه کووم
ډك دِ بهیړی سمندرفیض راعطا که
ګرانه ،، دغه یوارمان پوره ځماکه
لطیف الله سیفی راغلے یمه
نزدے دِخواکښے اودریدلے یمه
ستاهجران چیووهلے یمه
پوره ځما دمودودغه تمناکه
ګرانه ،، دغه یوارمان پوره ځماکه

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (۱۵)

دیدن دِ راله راکړه زړګے تاپسے بیماردے
دَ زړهٔ په آئینه کښے مِ تل ستامدینه ښاردے
دیدن دِ راله راکړه چه دَعمرارمانی یم



داستاسوجدائئ کښے په سینه باندے زخمی یم
مرهم مِ په زړهٔ کیده ستاپه مینه کښے پرهاردے
دَ زړهٔ په آئینه کښے مِ تل ستامدینه ښاردے
سُنبل مشك اوعنبردِشه قربان دسرولبانو
هم وربه په دُنیانه کړم یوتاردِ دَزلفانو
داستادزلفودام کښے مِ وجودتول ګرفتاردے
دَ زړهٔ په آئینه کښے مِ تل ستامدینه ښاردے
دمینے په ګلشن کښے اُوسے ښکلی ګلستان کښے
ستااسم مبارك مِ ګُله پروت وی په زبان کښے
دیدن مِ دَ اللهٔ نه غوښتے ستاګُله باربار دے
دَ زړهٔ په آئینه کښے مِ تل ستامدینه ښاردے
که یوځل مستفیددِکړم دَښکلی پاك حرمه
احسان به دِهیرنه کړمه په ژوندکښے محترمه
په خیال اوتصورکښے مِ تل ستاښکلے رُخساردے
دَ زړهٔ په آئینه کښے مِ تل ستامدینه ښاردے
قریب مِ کړه روضے ته چهٔ دَډیروخت ارمانی یم
داستاسوفراقت سیزلے ځهٔ خاص په زړګی یم

یاران لرے په خواکښے هریوتاباندے نثاردے

دَ زړۀ په آئینه کښے مِ تل ستامدینه ښاردے

سیفی لطیف الله لکه بلبل په چغوسردے

داستاسو محبت کښے ئے تمام بدن پرهردے

پتاپسے محبوبه دډیروخت نه ناقراردے

دَ زړۀ په آئینه کښے مِ تل ستامدینه ښاردے

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (۱٦)

ستادَدیدن په طمع عمر تیره وومه

خوږه آقا ځما ،، راکړه دیدن

دزخمی زړګی دوا ځما،، راکړه دیدن

راغلمه ستاښکلے روضے ته

دموراښئ ښکلے حجرے ته

سلام له دے ښکلے جنګلے ته

راته ښکاره کړه دحجاب نه مخ زیبا

خوږه آقا ځما ،، راکړه دیدن



دزخمی زړګی دوا ځما،، راکړه دیدن

عجیبه ستاښکلے حرم دے

زړګی نه لرے هریوغم دے

پکښے بهارښکلے موسم دے

پوره کوے هریودعمرتمنا

خوږه آقا ځما ،، راکړه دیدن

دزخمی زړګی دوا ځما،، راکړه دیدن

دمینے بل لرے مشال

عاشق لرے حضرت بلال رض

ډیرنورانی لرے جمال

شمس اوقمرکړی دسپین مخ دِ تماشا

خوږه آقا ځما ،، راکړه دیدن

دزخمی زړګی دوا ځما،، راکړه دیدن

مینه ورکے دحدنه ډیره

کړے خپله موردهرچاهیره

پتا دمال اوسره تیره

هرچانه ګُله محبت لرے سِوا

خوږه آقا ځما،، راکړه دیدن
دزخمی زړګی دوا ځما،، راکړه دیدن
لړے صدیقؓ عمرؓ حجره کښې
عثمانؓ په ښکلے مقبره کښې
ددے بقیع په ادیره کښې
دی اَصحابان قربانی شوی تول پتا
خوږه آقا ځما،، راکړه دیدن
دزخمی زړګی دوا ځما،، راکړه دیدن
لطیف الله سیفی قربان دے
په مدینه کښې ئې جانان دے
دیدن ئې ډیر په زړۀ ارمان دے
نه لری بل ارمان والله په دے دُنیا
خوږه آقا ځما،، راکړه دیدن
دزخمی زړګی دوا ځما،، راکړه دیدن

## نعت شریف (۱۷)

زار شم مدینے غیږه کښې خوږنبیؐ سلطان لړے
ګل ګل جانان لړے ، ګل ګل جانان لړے



نمرغوندے ځلیږی پکښې شین ګنبدروښان لړے
ګل ګل جانان لړے ،ګل ګل جانان لړے
څومره منوره ئې
ته په نصیب غوره ئې
ډیره بختوره ئې
خواکښې دمحبوب سره چه دوه ښکلی یاران لړے
ګل ګل جانان لړے ،ګل ګل جانان لړے
زارستادګردونوشم
هم له تورو غرونوشم
ستا د دیدنو شم
جنت البقیع کښې دریم یارحضرت عثمانؓ لړے
ګل ګل جانان لړے ،ګل ګل جانان لړے
مسجدقباء لړے
هرمینارزیبا لړے
اُحدپه ځان ګواه لړے
حمزه صاحب مزارسره ډیرخومره شهیدان لړے
ګل ګل جانان لړے ، ګل ګل جانان لړے
ته دومره حسینه ئې

رب ته نازنینه ئے
هر چاته شرینه ئے
بے اُوره سوزیږی پتا ډیر زیات عاشقان لرے
ګل ګل جانان لرے ، ګل ګل جانان لرے
تا بانده سلام کووم
ډیر په احترام کووم
هر صبا ماښام کووم
جنت البقیع کښے نازولی ډیر ګلان لرے
ګل ګل جانان لرے، ګل ګل جانان لرے
څه لطیف الله سیفی
یم پتا والله ستی
ستا عشق کښے په زړه زخمی
یو نظر دمینے اوکړه نرګسی چشمان لرے
ګل ګل جانان لرے ، ګل ګل جانان لرے

## نعت شریف (۱۸)

مدینے تا پسے مِ زړه دے ناقراره ،، درځم به کله
زار شم سرداره ،، درځم به کله



پتا پسے هر وخت رنځیږم ،، درځم به کله
زار شم سرداره ، درځم به کله
عجم کښے یمه نه جوړیږم ،درځم به کله
زار شم سرداره، درځم به کله
دیدن دِ راکړه چه سینه لرم بیماره ،، درځم به کله
ستا دلیدو په تمنا یم ،، درځم به کله
زار شم سرداره ،، درځم به کله
مئین دډیرے مودے ستا یم ،، درځم به کله
دبیلتانه غمونو ویستے یم دکاره ،، درځم به کله
زار شم سرداره ، درځم به کله
الله درکړے فضلیت دے ،، درځم به کله
زار شم سرداره ،، درځم به کله
مقام دِ هر چانه اوچت دے ،، درځم به کله
زار شم سرداره ،، درځم به کله
تا کښے چلیږی فرشتے په هره لاره درځم به کله
ستا دوصال هر څوک ارمان کړی ،، درځم به کله
زار شم سرداره ،، درځم به کله

خوشحاله ستا خواته ګزران کړی ،، درځم به کله
زار شم سرداره ،، درځم به کله
نه پریدے هیڅوك بے نوادخپل درباره ،، درځم به کله
مینه لرمه په سینه کښے ،، درځم به کله
زار شم سردراه ،، درځم به کله
حاسِدان ګرځی په کینه کښے ،، درځم به کله
زارشم سرداره ،، درځم به کله
درځی عُشاق محبوبه صِرف ستا دپاره ،، درځم به کله
زارشم سرداره ،، درځم به کله
سوال ځه سیفی لطیف الله کړم ،، درځم به کله
زار شم سرداره ،، درځم به کله
په وسیله دخپل آقا کړم ،، درځم به کله
سوال مِ منظور کړے اے مولی پروردیګاره ،، درځم به
زار شم سرداره ،، درځم به کله

## نعت شریف (۱۹)

سپین دِ رُخسار کړه راعیان محبوبه
نشته بل ستاپشان جانان محبوبه



دهجران تیغ په زړه ویشتلے یمه
کله چه ستاخواته راغلے یمه
زړه درپسے دے پریشان محبوبه
نشته بل ستاپشان جانان محبوبه
په تمامی جهان کښے خوږدلبرئے
مرهم دهرچادزخمی پرهرئے
ته ئے دخوږ زړونودرمان محبوبه
نشته بل ستاپشان جانان محبوبه
تیاره به رانشی داستاسوښارکښے
نوردِ ځلیږی په هریومینارکښے
چه شین ګنبدلرے روښان محبوبه
نشته بل ستاپشان جانان محبوبه
ځان ته په مینه مِ نزدے کړه نبیؐ
مرهم مِ پورے په سینے کړه نبیؐ
درنه به زارکړمه خپل ځان محبوبه
نشته بل ستاپشان جانان محبوبه
تل به وی داسے نوبهارحرم کښے

عاشقان ګرځی به تهول ستا په چم کښے
چرے به رانشی خزان محبوبه
نشته بل ستا پشان جانان محبوبه
سیفی لطیف الله ارمان کوی ډیر
ستا دَ وِصال نبی ؐ سلطان کوی ډیر
راته دمور اوپلار نه ګران محبوبه
نشته بل ستا پشان جانان محبوبه

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (۲۰)

محبوبه ستا دمینے زار، وو زار خلوریاران
خپل مال وسرئے تهول پتا، وو پتا باندے قربان
محبوبه ستا دَمینے زار
یارِ دِ نزدے صدیق ؓ اکبر دے
ملګرے دادِ دَسفر دے
په توره شپه دهجرت ستا، وو ستا سره روان
خپل مال وسرئے تهول پتا، ووپتا باندے قربان
محبوبه ستا دَمینے زار
ستا دمعراج اول تصدیق



کړے وودا دِ خور رفیق
یارم ربنتیا وئ دروغ نه ، نه دے دافرمان
خپل مال وسرئے تهول پتا، ووپتا باندے قربان
محبوبه ستا دَمینے زار
دویم دِ بل یار حضرت عمر ؓ دے
چه غیرتی اوبهادر دے
چه ئے دَنُوم نه یریدل ، یریدل تهول کافران
خپل مال وسرئے تهول پتا، ووپتا باندے قربان
محبوبه ستا دَمینے زار
تشریف چه یوړو پاك سلطان
توره ئے راویسته پهلوان
که چاوے لاړو له دُنیا، دُنیا آخر زمان
خپل مال وسرئے تهول پتا، ووپتا باندے قربان
محبوبه ستا دَمینے زار
سر به ئے غوڅ کړم په خنجر
اوفرمائیل حضرت عمر ؓ
زما په مخکښے به ثوك نه ، نه کړی دابیان
خپل مال وسرئے تهول پتا، ووپتا باندے قربان
محبوبه ستا دَمینے زار
دریم یار دے حضرت عثمان ؓ

چه دسخاووعظیم کان
ځان ئے شهیدکړومبارك، مبارك په خوږجانان
خپل مال وسرئے تول پتا، ووپتاباندے قربان
محبوبه ستادَمینے زار

واخستو باغ ئے دکجهورو
کوهے ئے هم له دِکافرو
ترینه فیضیابه شوډیرزیات، زیات مسلمانان
خپل مال وسرئے تول پتا، ووپتاباندے قربان
محبوبه ستادَمینے زار

څلورم یارشیرخدادے
لقب ئے وړے دهرچادے
علیؓ ئے باب مدینه علم، علم دَ سلطان
خپل مال وسرئے تول پتا، ووپتاباندے قربان
محبوبه ستادَمینے زار

مونځ چه قضاء شو دَعلیؓ نه
نمرشو واپس هغه ځکی نه
دومره ئے لویه مرتبه، مرتبه اواوچت شان
خپل مال وسرئے تول پتا،وو پتاباندے قربان
محبوبه ستادَمینے زار

کاش مدینه کښے ئے مسکن وے



دلته دخوږ جانان دیدن وے
سیفی لطیف الله کوی، کوی دالوئے ارمان
خپل مال وسرئے تول پتا، ووپتاباندے قربان
محبوبه ستادَمینے زار

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (۲۱)

**ګُله فیضاب مِ کړه دښکلے مدینے نه**

اُومِ غواړه، اُومِ غواړه، فریادمِ ځی سوے سینه نه
دلته ریاض کښے ورځے شپے تیره ووم
دیدن ته ستادلته مودے تیره ووم
دډیره غمه شب ګیرے تیره ووم
بوسه به کله اخلم ستا ښکلے جنګلے نه
اُومِ غواړه، اُومِ غواړه، فریادمِ ځی سوے سینه

صدیقؓ عمرؓ ښکلی یادیږی ځما
عثمانؓ بقیع کښے نه هیریږی ځما
زړه په حیدرؓ پسے خوږیږی ځما
یاران دِښکلی زارئے شم له مرتبے نه

اُوِم غواړه ، اُوِم غواړه ، فریادِم ځی سوے سینه نه

عجیبه مسجد نبویؐ ښکلے دے

پردو دننه خوږ نبیؐ ښکلے دے

خواکښے ئے هر یو صحابی ښکلے دے

ځان سیرابومه دباب السلام کوځے نه

اُوِم غواړه ، اُوِم غواړه ، فریادِم ځی سوے سینه نه

محبوبه ستا هره کوڅه ښکلے ده

شین دِ گنبد شنه مناره ښکلے ده

ستا په مخ ټوله مدینه ښکلے ده

ځان زاروومِ دِ واللہ ټولے علاقے نه

اُوِم غواړه ، اُوِم غواړه ، فریادِم ځی سوے سینه نه

عجیبه مسجد قباء ښکلے دے

ستا قبلتین مسجد زیبا ښکلے دے

اُحد کښے تړۀ امیر حمزهؓ ښکلے دے

زارشمه زار دا اُحد ښکلے مقبرے نه

اُوِم غواړه ، اُوِم غواړه ، فریادِم ځی سوے سینه نه

لطیف اللہ سیفی دُعا کوومه



همیشه زۀ په خاطر ستا کوومه

محبوبه هر صبا بیگاه کوومه

سوال مِ قبلیږی زارشم ستا دوسیلے نه

اُوِم غواړه ، اُوِم غواړه ، فریادِم ځی سوے سینه نه

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (۲۲)

محبوبه خواته وے دِ مدام ، په مدینه کښے

دیدن ته دِ ولاړ وے کُله ، ښکلے جنگله کښے

دمینے نظر ستا وے روضے نه

فریاد مِ ختے زخمی سینے نه

سلام دمینے وے مِ درته ، په شنه روضه کښے

دیدن ته دِ ولاړ وے کُله ، ښکلے جنگله کښے

راځی حرم ته ډیر عاشقان

هم ته ئے ورته دځانه گران

خیرات دمینے غواړی ولاړ ، ستا سو کوڅه کښے

دیدن ته دِ ولاړ وے کُله ، ښکلے جنگله کښے

هر یو په مینه ځان ته نزدے کړے

مرهم ئے پورے تۀ په سینے کړے

هم مینه ورله ورکړے ډیره ، په اشاره کښے
دیدن ته دِ ولاړ وے ګُله ، ښکلے جنګله کښے

رحمت دپاره دَکُل عالم ئے
درب په درکښے ډیر محترم ئے
الله اوغوښتے بره ځانته، په نیمه شپه کښے
دیدن ته دِ ولاړ وے ګُله ، ښکلے جنګله کښے

ته نُور ئے میلاؤ د. نُور سره شوے
خبرے دَ راز په توره شپه شوے
هم مرحبا نعرے وے درته ، هره لحظه کښے
دیدن ته دِ ولاړ وے ګُله ، ښکلے جنګله کښے

لطیف الله دے په زړه رنځور
سیفی له کړه سوال ګُله منظور
هم مینه دمودے لری ستا، ګله سینه کښے
دیدن ته دِ ولاړ وے ګُله ، ښکلے جنګله کښے

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (۲۳)

دبهارښکلے موسم په مدینه کښے دے
زمونږ پاک نبیؐ اکرم په مدینه کښے دے



لاهوتی انوار وریږی مدینه ښکلے ده
خوږ جانان پکښے اُوسیږی شنه روضه ښکلے ده
نودا دَ خوږ زړګی مرهم په مدینه کښے دے
زمونږ پاک نبیؐ اکرم په مدینه کښے دے

ملائکے راکوزیږی دآسمان نه والله
اویازره ترے زاریږی دجانان نه والله
نوده چانه محترم په مدینه کښے دے
زمونږ پاک نبیؐ اکرم په مدینه کښے دے

په روضه ئے دعشاقو لوئے قطاره اوګوره
دجنګلو په خواکښے نورانی انوار اوګوره
دَ نُورډک ئے هریو چم په مدینه کښے دے
زمونږ پاک نبیؐ اکرم په مدینه کښے دے

که یوځل دِ دَ جانان ښکلے سلام اوکړو
دجنګلو سره په مینه دِقیام اوکړو
لربه شی درنه هرغم په مدینه کښے دے
زمونږ پاک نبیؐ اکرم په مدینه کښے دے

شین ګنبد او منارے دی په جانان خائسته
ترے راځی دَنُورجلوے دی په جانان خائسته

ترے رنړائی په هردم په مدینه کښے دے
زمونږ پاك نبیؐ اکرم په مدینه کښے دے
ځه سیفی لطیف الله تل مدینه یادووم
خوږ جانان پکښے اُوسیږی شنه روضه یادووم
ورله کله به ورځم په مدینه کښے دے
زمونږ پاك نبیؐ اکرم په مدینه کښے دے

## نعت شریف (۲٤)

اُوغواړه ما ځانته سردارِ دوجهانه نبیؐ
تیر شولو عمرے لتامِ دهجرانه نبیؐ
اُوغواړه ما ځانته

بے لتاګران مِ دے ژوندون ، درنه قربان شمه
نه راځی زړۀ ته مِ سکون ، درنه قربان شمه
ژوندون مِ تیرشو په عجم کښے دخفګانه نبیؐ
تیر شولو عمرے لتامِ دهجرانه نبیؐ
اُوغواړه ما ځانته

دمینے یو نظر محبوبه ، دروضے نه اوکړه
ستا دَ وِصال یمه مطلوبه ، دروضے نه اوکړه
سپین دِ رُخسار ځائسته له شمس ماهِ تابانه نبیؐ



تیر شولو عمرے لتامِ دهجرانه نبیؐ
اُوغواړه ما ځانته

خواته لرے ښکلی یاران ، ترینه جهان زاریږی
صدیقؓ عمرؓ ښکلی ګلان ، ترینه جهان زاریږی
په خوږه غیږه کښے لرے دوست دسبحانه نبیؐ
تیر شولو عمرے لتامِ دهجرانه نبیؐ
اُوغواړه ما ځانته

زخمی یم تاپسے په ټول وجود ، محبوبه ځما
اصل مِ ته دزندګئ مقصود ، محبوبه ځما
پتاپسے اُوښکے بهیږی له چشمانه نبیؐ
تیر شولو عمرے لتامِ دهجرانه نبیؐ
اُوغواړه ما ځانته

دَ فراقت سلګئ وهمه ، دهجران دلاسه
مړبه شم ځه له ډیره غمه ، دهجران دلاسه
ختم مِ هجرکړه ئے ګران خوږه جانانه نبیؐ
تیر شولو عمرے لتامِ دهجرانه نبیؐ
اُوغواړه ما ځانته

لطیف الله سیفی زخمی زخمی ، پتاپسے ئم
په ټول وجود والله ستی ستی ، پتاپسے ئم

بے لتانه راځی ارام دزړه درمانه نبیؐ
تیر شولو عمر بے لتام دهجرانه نبیؐ
اُوغواړه مـاځانتنه

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (۲۵)

دَمینے په ګلشن کښے دوه یاران ،، لرے تهٔ
په غیږه کښے محبوبه دوه ګلان ،، لرے تهٔ
خادر چهٔ پرے راخور ستاسودَ مینے دے محبوبه
بقیع کښے بشکلے حضرتِ عثمانؓ ،، لرے تهٔ
په غیږه کښے محبوبه دوه ګلان ،، لرے تهٔ
داستابشکلی وطن کښے شپه او ورځ انوار وریږی
خائست دَمدینے په کُل جهان ،، لرے تهٔ
په غیږه کښے محبوبه دوه ګلان ،، لرے تهٔ
خائسته صفائے راولے غمونه ورله لرکړے
دهرعاشق غم کُله په خپل ځان ،، لرے تهٔ
په غیږه کښے محبوبه دوه ګلان ،، لرے تهٔ
روضے نه دِ راخیژی خوشبویانے په هرلور
خزان به پرے رانشی ګلستان ،، لرے ته
په غیږه کښے محبوبه دوه ګلان ،، لرے ته



دمینے عاشقان دی کمے نه راځی دَسره
په خوا کښے دِ ولاړ ډیرعاشقان ،، لرے تهٔ
په غیږه کښے محبوبه دوه ګلان ،، لرے تهٔ
چه تاورته دمینے نظر کړے وی په مینه
په زړهٔ وی زخمی شوے تورچشمان ،، لرے تهٔ
په غیږه کښے محبوبه دوه ګلان ،، لرے تهٔ
نظر ورته دمینے اوکړه تاپسے کریږی
سیفی لطیف الله ډیر په ارمان ،، لرے تهٔ
په غیږه کښے محبوبه دوه ګلان ،، لرے تهٔ

## نعت شریف (۲۶) تصیح پاتے ده

پاك نبیؐ سلطانه ،، راکړه دیدن کرم فریادونه
ګرانه په ماګرانه ،، دره نیولے مِ لاسونه
درنه روان نبی سلطانه یم ،اوښکے روانے پریشانه یم
اوښکے روانے پریشان یم ،دَخورِ دیدن دِ په ارمانه یم
خوږه درمانه ، هجران تازه مِ کړه زخمونه
ګرانه په ماګرانه ،، درته نیولے مِ لاسونه
قدم مِ کله اوچتیږی ، اوښکے مِ سترګونه بهیږی
اوښکے مِ سترګونه بهیږی، چه ستادخوانه روانیږی

زړۀ بے لتانه ، سینه کښے ډیرکوی دردونه
ګرانه په ماګرانه ،، درته نیولے مِ لاسونه
راته دمینے یونظره کړه ، تمام غمونه رانه لرکړه
تمام غمونه رانه لرکړه ، جورمِ نن دازخمی پرهرکړه
بے زماستانه ، وایم به چاته خپل حالونه
ګرانه په ماګرانه ،، درته نیولے مِ لاسونه
ته دهرچادزړګی سرئے ، دهرعاشق دحال خبرئے
دهرعاشق دَحال خبرئے ، محبوبه نوراوهم بشرئے
شمع ئے روښانه ، ځی دِ رخسارنه انوارونه
ګرانه په ماګرانه ،، درته نیولے مِ لاسونه
ته خومحبوب دپاك الله ئے ، یاد په یاسین اوپه طه ئے
یادپه یاسین اوپه طه ئے
بللے ځان ته پاك الله ئے
ته ئے مهمانه ، عرش دِ ښکل کړے قدمونه
ګرانه په ماګرانه ،، درته نیولے مِ لاسونه
لطیف الله سیفی راغلے ، ستاسوجنګلے ته اودریدلے
ستاسوجنګلے ته اودریدلے ، دغمه ډیرسلګو نیولے
ځی دِله خوانه ، ختم ئے کړه تماغمونه



ګرانه په ماګرانه ،، درته نیولے مِ لاسونه

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (۲۷) پاتے

د ښکلے مدینے پشانے ښاربه داسے نه وی
سودا دمینے کیږی بل بازار به داسے نه وی
اربونه عاشقان وی اویوه ئے معشوقه وی
ولاړ ورته په مینه خریداربه داسے نه وی
سودا دمینے کیږی بل بازار به داسے نه وی
روضے د انبیاؤ اصحابو اولیاؤ
روضے به وی خوپاك نبیؐ سرداربه داسے نۀ وی
سودا دمینے کیږی بل بازار به داسے نۀ وی
کولے چه ئے نشی طبیبان هډوعلاج
زخمونه به وی ډیرخوبل قراربه داسے نۀ وی
سودا دمینے کیږی بل بازار به داسے نه وی
ولاړ ورته سوالی وی که امیردے که فقیر
لاسونه ئے وی پورته بل مزاربه داسے نۀ وی
سودا دمینے کیږی بل بازار به داسے نۀ وی
دَزړۀ دُنیارنړاکړی دباطن صفائی راشی

جنګلو سره دیو نظر آثار به داسے نۀ وی
سودا دمینے کیږی بل بازار به داسے نۀ وی
زینت ورته میلا ودے په زرچنده خائسته دے
که شین ګنبدلری خولوړ میناربه داسے نۀ وی
سودا دمینے کیږی بل بازار به داسے نۀ وی
په یو شپه کښے دعرش معلٰی نه شوورتیر
که تیزوی خودبرق نه تیزرفتاربه داسے نۀ وی
سودا دمینے کیږی بل بازار به داسے نۀ وی
سیفی لطیف الله په دُنیا ډیرلرے یاران
سکون پرے میلا ویږی بل دلداربه داسے نۀ وی
سودا دمینے کیږی بل بازار به داسے نۀ وی

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (۲۸)

دَدیدن په ارمان راغلمه جانان دلته دے
مدینه منوره ده قدردان دلته دے
په باب السلام داخل شوم په نازونو ادا
دَجنګلے سره ولاړیم سترګے سرے په ژړا
یو صدیقؓ او بل عمرؓ لوئے پهلوان دلته دے



مدینه منوره ده قدردان دلته دے
دَجنګلو سره ولاړ په زړۀ زخمی یمه څۀ
تصورکښے تلے ډیرد خوږ نبیؐ یمه څۀ
چه زخمی زړونه رغیٔ هغه درمان دلته دے
مدینه منوره ده قدردان دلته دے
دا مسجد دے چه جوړلختو دَنخلونو نه وو
در دیوار د پاك اصحابو دَ لاسونو نه وو
دا صحابو دوختونو هرنشان دلته دے
مدینه منوره ده قدردان دلته دے
مدینه منوره ده برکتونو لری
خوږجانان پکښے اُوسیږی عظمتونه لری
پوره کیږی دهرچا هریوارمان دلته دے
مدینه منوره ده قدردان دلته دے
دجانان حرم کښے روح همیش خوشحاله تل وی
هریو خلاص دَدے شیطان لعین دَخیاله تل وی
دهرغم او مصیبت نه په آمان دلته دے
مدینه منوره ده قدردان دلته دے
څه سیفی لطیف الله په مدینه کښے یم نن
دخپل هاشمی جانان په شنه روضه کښے یم نن

ډیر خوشحال یم ځما دین ځما ایمان دلته دے
مدینه منوره ده قدردان دلته دے

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (۲۹)

دَمدینے منورے نبیؐ سلطانه ،، قربان شم
اے په الله ګرانه ،، قربان شم

ته خو دَ حُسن بل مثال ئے
مخلوق کښے ګُله بے مِثال ئے
په مخ پیدا دِکړه الله دواړه جهانه ،، قربان شم
اے په الله ګرانه ،، قربان شم

ته خو زینت دَ کُل عالم ئے
مخلوق کښے ګُله محترم ئے
ځکه الله بللے ئے ترلامکانه ،، قربان شم
اے په الله ګرانه ،، قربان شم

ګواه پتا دَرب قرآن دے
مئین پتا غنی سبحان دے
پتاشو ختم نبوت آخرزمانه ،، قربان شم
اے په الله ګرانه ،، قربان شم



ستر ګے دِ تورے مزیدارے
شارے دِ کړے دمصر لارے
مخ نه راخیژی دِ انوار ماهِ تابانه ،، قربان شم
اے په الله ګرانه ،، قربان شم

یو دیدن راکړه اے ګلابه
بهر رُخسار کړه له نقابه
ستا دَوصال ارمانی یمه دپخوانه ،،قربان شم
اے په الله ګرانه ،، قربان شم

پتا پسے په زړۀ زخمی ئیم
سوال کړم لطیف الله سیفی ئیم
یو نظر او کړه لږ په ماشه مهربانه ،، قربان شم
اے په الله ګرانه ،، قربان شم

## نعت شریف (۳۰)

ستا دَ مینے درد مِ په سینه کښے دے
ځکه مِ زړګے په مدینه کښے دے

اے درب حبیبهؐ درنه زار شمه
ډیر سکون دِ پروت هره کوڅه کښے دے
ځکه مِ زړګے په مدینه کښے دے

شی زړګے قرار عجیبه حال راشی
هرڅوک چه ولاړ درته جنګله کښے دے
څکه مِ زړګے په مدینه کښے دے

ته ورته دمینے نظرونه کړے
سپین رُخساردِ پټ په شنه پرده کښے دے
څکه مِ زړګے په مدینه کښے دے

ریاض الجنت کښے درته یم ولاړ
څه عجیبه خوندپه دے لحظه کښے دے
څکه مِ زړګے په مدینه کښے دے

زړۀ راکاږی څانته لری ډیرکمال
ډیراثردِ پروت شنه مناره کښے دے
څکه مِ زړګے په مدینه کښے دے

تاسوپکښے کړئ ارام قربان شمه
ډیررونق دَ مورابئ حجره کښے دے
څکه مِ زړګے په مدینه کښے دے

کاش چه وے سیفی لطیف الله مدام
نن چه موجود ستاسو علاقه کښے دے
څکه مِ زړګے په مدینه کښے دے

❁❁❁❁❁



## نعت شریف (۳۱)

واوره، مسلمانه ، واوره
دَدِ فانی دُنیاکوے به رُخصتونه، واوره
غم او کړه ته دَ آخرت ،، واوره
چه شرمنده نه ئے په قیامت ،، واوره
واوره ، مسلمانه ، واوره

مرورے به لاس تیربه وی تاباندے وختونه
واوره ،، مسلمانه ،، واوره
مینه کوه دپاك رسول ،، واوره
مینے پریده عبث فضول ،، واوره
واوره ، مسلمانه ، واوره

الله به معاف کړی درله واړه ګناهونه
واوره ، مسلمانه ، واوره
هرڅوك به لاړ شی له دُنیا نه ،، واوره
خبرپه دِ شه اے انسانه ،، واوره
واوره ، مسلمانه ، واوره

کُل نفسٍ ذائقة الموت دی آیاتونه ،، واوره
واوره ، مسلمانه ، واوره

د دُنیا لړه زندګی ده ،، واوره
ګټه دَرب دِ بندګی ده ،، واوره
واوره ، مسلمانه ، واوره
دَ پاك نبیؐ سره کوه محبتونه
واوره ، مسلمانه ، واوره
قافله مخکښې درنه لاړه ،، واوره
دُنیا فانی کډه دِ نغاړه ،، واوره
واوره ، مسلمانه ، واوره
یو ورځ به ستا دَ مرګی راشی آوازونه
واوره ، مسلمانه ، واوره
الله مو اُوساته عذاب نه ،، واوره
قهر دپاك رب دَ وهاب نه ،، واوره
واوره ، مسلمانه ، واوره
دخپل بخشش دَپاره کړه رب نه سوالونه
واوره ، مسلمانه ، واوره
شفیع ځمونږه خوږ نبیؐ دے ،، واوره
خوشحال لطیف الله سیفی دے ،، واوره
واوره ، مسلمانه ، واوره



چه پاك رسولؐ به موکوی شفاعتونه
واوره ، مسلمانه ، واوره

## نعت شریف (۳۲)

ځمه مدینے نه نن دَ دوه کونو سرداره
راکړه لږ دیدن دَ رب پاره
ځمه درنه نن آخر روان نبیؐ سرورشومه
خواله دِ راغلے یم په زړه باندے پرهرشومه
لرے کړه نقاب راته دښکلی سپین رُخساره
راکړه لږ دیدن دَ رب پاره
ځمه دِ له خوانه خوپه په زړه باندے زخمی یمه
ستا هجر سیزلے دَ ډیر وخت نه په زړګی یمه
نن مِ کړه پوره ارمان سینه لرم بیماره
راکړه لږ دیدن دَ رب پاره
نه ووهیځ غمونه ستاسو خواته اُوسیدل به وو
هروختے روضے سره دَ مینے شراب څکل به وو
هروخت په سلام به شوه زخمی سینه قراره

راکــــړه لږ دیـــدن دَ رب پــــاره

درد مِ دَسینـے ځکـه سِوا شونـن روان شومـه

خُلے نه فریادونه ځی ستاغم کښے پریشان شومه

سترګـے مِ لـمدے د اُوښکونـه وینـمـه لاړه

راکــــړه لږ دیـــدن دَ رب پــــاره

پاتے رانـه شی به نن صدیقؓ او هم عمرؓ ښکلے

ریاض الجنت کښے هم محراب او هم منبرښکلے

نـۀ مِ اوچتیـږی قـدم ستـا دَپـاك دربـاره

راکــــړه لږ دیـــدن دَ رب پــــاره

ځم په زړه سورے درنـه لطیف الله سیفی ګُله

اومِ کـړه عـلاج او دوا تـه دَخوږ زړګی ګُلـه

ستاسو محبـت کښے چـه لـرم سینه پرهاره

راکــــړه لږ دیـــدن دَ رب پــــاره

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (۳۳)

زړه ډك وے لـه ارمانه ،، زاریږم به ځه کله ستا دَ ګنبدخضرانه

قـربـان شـم مـحـتـرمـه ،، قـربـان شـم مـحـتـرمـه



دَډیـروخـت نـه آرمـان کـووم ستـادوطـن

لـرے ښـکـلـے یاران دِ خواتـه پـه ګلشـن

زیـنـت لـرے بـے شـانـه

حـرم پتـاخـائستـه دے اے زماخوږه جانانه

قـربـان شم مـحتـرمـه ،، قـربان شم محترمـه

دنـمـرنـه سپیـن رُخسارپردوکښے دِپنادے

عـاشق پـه سلام سرلاس پورتـه پـه دُعادے

زاریـږی تـول لتـانـه

جنګلوسره زاریږی درنـه پـاك نبیؐ سلطانه

قـربان شم مـحتـرمـه ،، قـربان شم محترمه

دمـخ پـه پـلـوشودِ تـمام جهان روښان دے

داستـادمـخ رنړاده ځلیږی کـه آسمـان دے

سپیـن مـخ مـاهِ تـابـانـه

خورشید درنـه پټیږی په سحاب کښے قدردانه

قـربـان شم مـحتـرمـه ،، قـربان شم محترمـه

پـه نـورانـی رُخسـارِدِ الله کـړے قسم دے

پـه واړه کـائـنات کښے داستاپشان کم دے

لـه رب سره مهمانه

معراج له تلے ئے ګلابه برترلامکانه
قربان شم محترمه ،، قربان شم محترمه
تورات ، زبور، انجيل منسوخ ستاپه راتلوشو
چه راغلے شيطانان همه په ژړيدوشو
لعين شوپريشانه
دُنياته چه ته راغلے پاك نبیؐ آخرزمانه
قربان شم محترمه ،، قربان شم محترمه
اُمت کښے چه دِ شمارشوم ډيرشکردالله کرم
سجدے په در درب کښے سيفی لطيف الله کړم
بخشش غواړم الله نه
په مخ به مِ ستامعاف کړی رب دهريوے ګناه نه
قربان شم محترمه ،، قربان شم محترمه

❁❁❁❁❁

## نعت شريف (٣٤)

ستا دَ ګلی شين ګنبد اومنارونه
اجازت مِ واخستلو دَجنګلو نه
ستا دَهجرتيغ په زړۀ باندے زخمی کړم



زخم بياشولوتازه مِ دَ راتلونه
اجازت مِ واخستلو دَجنګلو نه
دَفراق اُورمِ وجود باندے بليږی
مړکوومه ئے اُوښکے څاخی سترګوسرونه
اجازت مِ واخستلو دَجنګلو نه
دَ سُنبل ګُلِ لالا ګُلِ ريحان نه
مُعطر حرم د ګُلو دِ سهرونه
اجازت مِ واخستلو دَجنګلو نه
ستادَ مينے بازار ګرم صبح وشام دے
ډکه هره يو کوڅه دفرشتونه
اجازت مِ واخستلو دَجنګلو نه
دومره مينه ورکړے هريوعاشق له
چه بياسترګے ناړه وی دشنو پردونه
اجازت مِ واخستلو دَجنګلو نه
ته دمينے شراب ډيرپه مينه ورکړے
شی سيرابه ستا دمينے دَدے څکو نه
اجازت مِ واخستلو دَجنګلو نه

په دیدن دِ نه مړیږمه قسم دے
شم قربان دپاك حرم د شوګیرونه
اجازت مِ واخستلو دَجنګلو نه
دَسیفی لطیف الله دین اوایمان ئے
سینه ډکه مِ راوړے دجذبونه
اجازت مِ واخستلو دَجنګلو نه

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (۳۵)

نظر دمینے اُوشو دجانان دَشنے روضے نهٔ
ځمه ځان زارومه مدینے منورے نهٔ
ځمه مدینے منورے ته مِ سفرشولو
شولومِ زړګے خوشحاله څه عجب منظرشولو
زړهٔ شوپه ټوپونوچه په غوږ دَتلو خبرشولو
زخم به مِ ختم شی والله زخمی سینے نه
ځمه ځان زارومه مدینے منورے نه
چرته مدینه منوره ډیرګنهګاریمه
ډیروخت نه لیواله ځهٔ دَتلوپه انتظاریمه



ځه ئے دَ دیدن ښکلی دَ ډیروخت طلبګاریمه
کله به بوسه اخلم دَ نورانی جنګلے نه
ځمه ځان زارومه مدینے منورے نه
کله به سلام اوکړم صدیقؓ اوبل عمرؓ ته
کله به ئے اودریږمه څه محراب منبرته
کله به نظراوکړم جنګلو کښے مِ دلبرته
فیضیابه به شم کله د بقیع دَ مقبرے نه
ځمه ځان زارومه مدینے منورے نه
نه مړیږی سترګے په ګنبداو مناروباندے
کړی به مِ جانان نظرپه سترګوخمارو باندے
یارپه یارپوهیږی په هرقسمه اِشاروباندے
ګوری جانان هرعاشق ته ښکلے باغیچے نه
ځمه ځان زارومه مدینے منورے نه
وایم به جانان ته ټول دخپل زړګی حالونه
ختم راله کړه په یونظرټول ګناهونه
لاس مِ پورته کړی وی کووم درته سوالونه
بل یودرمِ نشته دمعافئ ستادَکوڅے نه
ځمه ځان زارومه مدینے منورے نه

ستا یمه عاشق کُله سیفی لطیف الله یمه
ستا خواله راغلے یم محبوبه درکښے ستایمه
ځه دِ دَ وِصال دموودویرپه تمنا یمه
لرے کړه حجاب راته دَ نورانی چهرے نه
ځمه ځان زاروم مدینے منورے نه

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (٣٦)

ځان به په مینه کړمه درنه زارمحبوبه
که درغلم یو ځلے ستا په ښکلے لارمحبوبه
تاسو پکښے ایښے قدم مبارك دے بیشکه
کاش دَ قدم خاوره دِښُکل کړم په باربارمحبوبه
که درغلم یو ځلے ستا په ښکلے لار محبوبه
زړونه راکاږی مینه شی شروع یودم په والله
چه ورداخل شی خوك داستاپه ښکلی ښارمحبوبه
که درغلم یو ځلے ستا په ښکلے لار محبوبه
ستاسووجود مبارك دے پکښے حیات کلابه
مدینه ځکه وره وی هروخت انوار محبوبه
که درغلم یو ځلے ستا په ښکلے لار محبوبه



قبول مِ نه دی که دُنیاستاپه بدله کښے راکړی
وابه ئے نه خلم ستا د زلفوپه یوتارمحبوبه
که درغلم یو ځلے ستا په ښکلے لارمحبوبه
چه دِ تشریف راوړودنیاته خزان ختم دِ کړو
رادِ ویستوپه ټول جهان ښکلے بهارمحبوبه
که درغلم یو ځلے ستا په ښکلے لارمحبوبه
زړونه راکاږی ځان ته ډیرلری رونق کلابه
دَشین گنبدسره لرے ښکلے مینار محبوبه
که درغلم یو ځلے ستا په ښکلے لارمحبوبه
سیفی لطیف الله له ورکړه دیدن رب دَپاره
طمع لری ستا دَ دے سپین ښکلی رُخسار محبوبه
که درغلم یو ځلے ستا په ښکلے لارمحبوبه

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (٣٧) دځائے پورے شوے دی

زړهٔ مِ دلگیرشو دریسے نبیؐ سرداره
یو ځل دیدن راکړه رب دَپاره
ستا مینے دَ ډیروخت نه په زړهٔ باندے سیزلے یم
ستا دَ بنړوغشو په سینه باندے ویشتلے یم

کیده مرهم راله سینه مِ ده پرهاره
یوځل دیدن راکړه رب دَپاره
دَل مِ شو تمام وجود پتاپسے بیماریمه
کله نه راغلے چه محبوبه ستاپه لاریمه
ځانته مِ بیااُوغواړه عجم کښے ناقراره
یوځل دیدن راکړه رب دَپاره
نشته دِثانی دَمِثل دومره جلوه دارئے
رب دربانده دے مئین بے حده حسندارئے
اویازره پردے لرے په نورانی رُخساره
یوځل دیدن راکړه رب دَپاره
رب دَخپل قدرت په قلم جوړکړے خومره ښکلے ئے
ځکه ئے په نیمه شپه کښے خپل ځان ته بللے ئے
رب کړه خدائی سرګنده ستاپه مخ سرداره
یوځل دیدن راکړه رب دَپاره
ته چه شوے ظُهورلارے شاړے دَکنعان
پرے ئے کړل سرونه ستاسومینه کښے قربان
ستاسوپتنګان دی په دُنیابانده بے شماره
یوځل دیدن راکړه رب دَپاره



تاباندے مئین یمه سیفی لطیف الله یمه
هروختے درځمه مدینے ته درکښے ستایمه
اوکړه یونظرراته لرے سترګے خماره
یوځل دیدن راکړه رب دَپاره

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (۳۸)

زړونه پرے رغیږی عجیبه مدینه ښاردے
کلے دَسرداردے،، ښکلے کلے دَسرداردے
زړونه پرے رغیږی مدینه منوره ښکلے
ځان ته چه راکاږی عاشقان پکښے روضه ښکلے
نه راځی خزان همیشه دلته نوبهاردے
کلے دَسرداردے،، ښکلے کلے دَسرداردے
دلته کښے اویازره ملکے راکوزیږی
وائی سلامونه په یارشپه ورځے چلیږی
لویه مرتبه لری مئین پرے کردیګاردے
کلے دَسرداردے،، ښکلے کلے دَسرداردے
روره په آدب ګرځیږه خوږ جانان اُوسیږی
دلته کښے دَمینے سوداګانے میلاویږی

هريوئے دَمينے وړے کوره خريدار دے
کلے دَ سرداردے،، ښکلے کلے دَ سرداردے
خواته دوه ياران اُوسی صديقؓ اوبل عمرؓ ښکلے
ستوروسره خواکښے نورانی شمس وقمرښکلے
اويازره پردوکښے پټ دننه ئے رُخسار دے
کلے دَ سرداردے،، ښکلے کلے دَ سرداردے
پاك نبیؐ سردارمِ هرعاشق په مينه غواړی
ځکه ئے جنګلو سره هريوپه مينه ژاړی
هريوارمانی ئے بس دَ ښکلے خوږ ديدار دے
کلے دَ سرداردے،،ښکلے کلے دَ سرداردے
سيفی لطيف الله دے زخمی شوے په سينه باندے
دے عاشق دَډيرے مودے ښکلے مدينه باندے
دِ ښکلے وطن پسے په زړهٔ باندے بيمار دے
کلے دَ سرداردے،، ښکلے کلے دَ سرداردے

❀❀❀❀❀

## نعت شريف (۳۹)

نُورهم بشرئے ،، خوږ دلبرئے
دَرب دِ کړی ، په لامکان کښے ، ديدنونه



نُور هم بشرئے
پتا ګواه قرآن ښکلے دے ،، دومره خائسته ئے
مولا دِ کړے تعريفونه
نُور هم بشرئے
پټ په پردودننه لړے ،، بل کړے تادی
اودَسپين مخ مشالونه
نُور هم بشرئے
تاکړلے لارے شاړے ، او دَکنعان
پتامئين شوعالمونه
نُور هم بشرئے
نشته دُنيا کښے ستايومِثال ،، دومره حسين ئے
تمام پتادی خائستونه
نُور هم بشرئے
الله ته خوږ ئے هرچانه ته،، په خپله وائی
پتاسودَرودونه
نُور هم بشرئے
ستا محبت سينه کښے لرم ،، ګران راته ډيرئے
رالره دِ راکړه زيارتونه

نُور هم بشرئے

سیفی لطیف الله یم بیمار،، ستامحبت کښې

او رالــه نــه راځـي خـوبـونـه

نُور هم بشرئے

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (٤٠)

آسمان کښې شرموی نمرمِ سرداربنکلے دے

اویازره پردوکښې ئے پټ رُخسار ښکلے دے

چه اُم المؤمنین ته وئ که یوه پرده مِ لر شوه

ایره به شي جهان داسے انوار ښکلے دے

اویازره پردوکښې ئے پټ رُخسار ښکلے دے

چه اوکړی تبسم په مبارکه خُله محبوب

هرغاښ مبارك داسے چمکدار ښکلے دے

اویازره پردوکښې ئے پټ رُخسار ښکلے دے

محبوب به چه قدم کیخود شوے شاړے به زرخیزه

قدم مبارك داسے دَ پیزار ښکلے دے

اویازره پردوکښې ئے پټ رُخسار ښکلے دے

وس هم په مدینه منوره انوار وریګی



دشین ګنبد سره هریو مینار ښکلے دے

اویازره پردوکښې ئے پټ رُخسار ښکلے دے

په غیږه کښې لری یاران څه ښکلي بختور دی

اُوسیږی په ګلشن کښې هریویار ښکلے دے

اویازره پردوکښې ئے پټ رُخسار ښکلے دے

یو ځل که دِ په مینه قدم واخست مدینه کښې

سودا دَ مینے کیږی داسے ښار ښکلے دے

اویازره پردوکښې ئے پټ رُخسار ښکلے دے

سیفی لطیف الله برکتی ددوی په مخ دے

داځکه ئے دَمینے هر اشعار ښکلے دے

اویازره پردوکښې ئے پټ رُخسار ښکلے دے

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (٤١)

دجنګلوسره جانان کتے قربان

مخامخ ئے راته وے ښکلي چشمان

ډیرارمان کوم ارمان، ډیر ارمان کوم ارمان

چه جنګلوته مخامخ وے دَحضورؐ

ماکتلے سترګو سترګو کښې رنځور

سوال مِ وے دلته منظور، سوال مِ وے دلته منظور
دَ دیدن سوالونه وے مِ په زبان
مخامخ ئے راته وے ښکلی چشمان
ډیرارمان کوم ارمان ، ډیر ارمان کوم ارمان
په قطار کښے ورته وے ولاړ زخمی
هر عاشق ئے دَ دیدن طمع لری
هریو دا ارمان لری ، هریو دا ارمان لری
خالی نه پریدی محبوب خپل عاشقان
مخامخ ئے راته وے ښکلی چشمان
ډیرارمان کوم ارمان ، ډیر ارمان کوم ارمان
جولئ ډکے ورکوے دخپل دربار
چه هرڅوک راځی دا ستا په ښکلے لار
سوال لتا کوی سردار، سوال لتا کوی سردار
فقیران وی دلته هرڅومره شاهان
مخامخ ئے راته وے ښکلی چشمان
ډیرارمان کوم ارمان ، ډیر ارمان کوم ارمان
عجیبه خوشبو راځی دشنے روضے
کړی محبوب پکښے ارام دَ مدینے



دے مرهم مِ دَ سینے،، دے مرهم مِ دَسینے
دَ هر چا دے دَ ډِسوی زړه درمان
مخامخ ئے راته وے ښکلی چشمان
ډیرارمان کوم ارمان ، ډیر ارمان کوم ارمان
حاجتونه پوره کیږی دلته زیات
معلوم تا ته دی د هر عاشق حالات
دادی ستاسو کمالات ، دادی ستاسو کمالات
مینه ډیره ورسره کړے دخپل ځان
مخامخ ئے راته وے ښکلی چشمان
ډیرارمان کوم ارمان ، ډیر ارمان کوم ارمان
دے سیفی لطیف اللہ ادنٰی غلام
دروضے کوومه هروخت دِ سلام
راکوے دَمینے جام ، راکوے دَ مینے جام
زما ځان ئے ځمادین زما ایمان
مخامخ ئے راته وے ښکلی چشمان
ډیرارمان کوم ارمان ، ډیر ارمان کوم ارمان

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (۴۲)

زمکه دِ ډيره بختوره
پتاګُل دَجانان زمادَمدينے
پتاګُل دَجانان زمادَمدينے

ته پکښے اُوسے خوږ جانانه
ځکه ئے هرچابانده ګرانه
دَ مدينے نبی ؐ سلطانه
نه مِ هيريږے دَزړه سره
پتاګُل دَ جانان زما دَمدينے
پتاګُل دَجانان زمادَمدينے

خواکښے لرے ښکلی ياران
صديقؓ عمرؓ دَ ګُل پشان
ځليږی ستوری دَ آسمان
ته ئے خائسته دَشمس قمره
پتاګُل دَجانان زمادَمدينے

سکون دِ ډيردے په حرم کښے
هره کوشه اوهريو چم کښے
کمے راځی هرقسمه غم کښے
ستادے کمال خيرالبشره



پتاګُل دَجانان زمادَمدينے

روښانه ښکلے مدينه لرے
زخمی دَهرعاشق سينه لرے
جاری والله دَفيض چينه لرے
اے دَ فيوضو بحروبره
پتاګُل دَجانان زمادَمدينے

ډکه سينه کړے دَ انوارو والله
چه ديدن کړی ستا دَدربار والله
لرے خائسته مدينه ښاروالله
دلته هيڅ غم نه وی دسره
پتاګُل دَجانان زمادَمدينے

لطيف الله سيفی خوشحاله يمه
نن چه راغلے ستاسوخواله يمه
شکرګزار دَ ذوالجلاله يمه
نظر کړم اوکړه دلبره
پتاګُل دَجانان زمادَمدينے

❁❁❁❁❁

## نعت شريف (۴۳)

شنه پرده په شنه روضه باندے خوره لری یار
خائسته دَنمر نه نورانی چهره لری یار
ګُل اُوسیږی مدینه کښے ګلستان دے خائسته
راوریږی شپه اوورځ دَ نورباران دے خائسته
فیض راځی ترے نورانی ښکلے روضه لری یار
خائسته دَنمر نه نورانی چهره لری یار
دَجانان خواکښے اُوسیږی دوه یاران عجیبه
یو صدیقؓ اوبل عمرؓ ښکلے ګلان عجیبه
نودا منظر ښکلے روښان په مدینه لری یار
خائسته دَنمر نه نورانی چهره لری یار
دروضے نه ښی طرف ته دجنت دے منظر
پکښے پروت دے دَمحبوب ښکلے محراب اوممبر
پکښے ښکلے اُستَوان حَنانه لری یار
خائسته دَنمر نه نورانی چهره لری یار
کمال دلته کښے دښکلی شنے روضے ګوره
ډیر هجوم دَپتنګانو په جنګلے ګوره
هرعاشق له فیض ورکئ لویه سینه لری یار
خائسته دَنمر نه نورانی چهره لری یار



په آدب ګوره صدیقؓ سره عمرؓ پهلوان
ورسره په خواکښے اُوسی مِ سردارِ جهان
په ګلشن دننه ښکلے باغیچه لری یار
خائسته دَنمر نه نورانی چهره لری یار
دَسیفی لطیف الله په دُنیا نشته ارمان
صرف غواړی دیداردلته کښے دَ ښکلی جانان
نمرسپوږمئ دَ خپل رُخسارپه تماشه لری یار
خائسته دَنمر نه نورانی چهره لری یار

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (٤٤)

زلفے تارپه تارلری، سپین ښکلے رُخسارلری
سپین ښکلے رُخسارلری ، هرچانه راته ګران
جانان زما ښکلے جانان ، جانان زما
ستادیدن یادیږی ځما، اُوښکے له سترګوبهیږی ځما
ته مِ دلدار ،، ئے مِ سردار
نشته لتا مِ بل یو قرار
ستاسو محبت کښے خپل لوانده لرم چشمان
جانان زما جانان ښکلے ، جانان زما

ستا پسې یمه ګُله بیمار، اوکړه نظر ماته یووار

ته مِ حبیبؐ ،، ته مِ طبیب

څکه خویمه څه خوش نصیب

تاسولرم دین تاسولرمه خپل ایمان

جانان زما جانان ښکلې ، جانان زما

ستا محبت کښې ژړیږمه څه

دلته ریاض کښې اُوسیږمه څه

اوکړه نظر ،، ډك دَ اثر

بې لتا نشته بل مِ دلبر

ته مِ ئې دلبر هم مِ دَخوږ زړګی درمان

جانان زما جانان ښکلې ، جانان زما

ستاسو دیدن پسې یمه بې تاب

نشته دنیا کښې بل داسې ګلاب

ته ئې ګلاب ،، ته ئې جناب

پوهه یم زه ستا دعشق په باب

ستامینه سینه کښې لرم څه نبی سلطان

جانان زما جانان ښکلې ، جانان زما

سیفی لطیف الله یم ناقرار



غواړم محبوبه ستاسپین رُخسار

درد دَ مودې ،، پروت په سینې

غواړم دیدار ستادَ روضې

ګران راته ډیرئې هم دخپل ځان

جانان زما جانان ښکلې ، جانان زما

❀❀❀❀❀

## نعت شریف (۴۵)

اوکړه یو ځلې نظرونه

ډیرلرم ارمان دلیدو ستاروضې

راله پوره کړه ارمانونه

ډیرلرم ارمان دَ لیدو ستا دَ روضې

ځان به کړم زار ستا دَ روضې نه

ستاسو دښکلې مدینې نه

که مِ نصیب شو دیدونه

ډیرلرم ارمان دَ لیدو ستا دَ روضې

ډیرارمانی دِ دَلیدو یم

دَ نورانی ښکلو جنګلو یم

دَ نُور وریږی بارانونه

ډیر لرم ارمان دَ لیدو ستا دَ روضے
سلام چه کړم صدیقؓ اکبر ته
ستا سو خوږ یار حضرت عمرؓ ته
ویم به په تا سو درودونه
ډیر لرم ارمان دَ لیدو ستا دَ روضے
چه شین گنبد ته مِ نظر شی
په ستر گو دا ښکلے منظر شی
ختم به شی تمام غمونه
ډیر لرم ارمان دَ لیدو ستا دَ روضے
محبوبه ستا ښکلے حرم دے
نورانی ستا سو هر یو چم دے
تا سو پکښے کړئ ارامونه
ډیر لرم ارمان دَ لیدو ستا دَ روضے
په دیدن مو ړم کړه جانانه
غمونه ختم کړه زمانه
بے لتانه راځی خوبونه
ډیر لرم ارمان دَ لیدو ستا دَ روضے
ستا په وِصال پسے زخمی دے



غم جن لطیف الله سیفی دے
جوړ را له کړه تمام زخمونه
ډیر لرم ارمان دَ لیدو ستا دَ روضے

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (۴٦)

راشه گُله راشه
انصار ولاړ دی ستا راتلو طمع کوینه، راشه
مدینه شی به منوره ،، راشه
شی به په ټول جهان کښے غوره ،، راشه
راشه گله راشه
ستا استقبال له لوئے واړه راغلے دینه ، راشه
انصار ولاړ دی ستا راتلو طمع کوینه، راشه
وړو نیولی دی تمبلونه ،، راشه
په خُله وهی ښکلے سازونه ،، راشه
راشه گله راشه
په خوږو مدحو معصومان گُله ستائینه ، راشه
انصار ولاړ دی ستا راتلو طمع کوینه، راشه
په قدر ستا انصار پوهیږی ،، راشه

ستانه په مینه ټول زاریږی ،، راشه
راشه ګله راشه
شمع بلیږے ستاپه رُخسارځان سیزینه ، راشه
انصارولاړ دی ستا راتلوطمع کوینه، راشه
په نالیدلے مخ مئین دی ،، راشه
زاریږی ټول دمال بدن دی ،، راشه
راشه ګله راشه
دخوشحالئ نه ئے د سترګواُوښکے ځینه ، راشه
انصارولاړ دی ستا راتلوطمع کوینه، راشه
ځانونه ټول به درنه زار کړی ،، راشه
ارمان دِهریود رُخسار کړی ،، راشه
راشه ګله راشه
ورته ئے خوږله شهدوقند اودَشرینه ، راشه
انصارولاړ دی ستا راتلوطمع کوینه، راشه
مئین لطیف الله سیفی دے ،، راشه
پتا پسے په زړۀ زخمی دے ،، راشه
راشه ګله راشه
ستا مدینه منوره تل یاده وینه ،راشه



انصارولاړ دی ستا راتلوطمع کوینه، راشه

## نعت شریف (۴۷)

انوارله راځه،،راځه راځه، په جانان وایه سلامونه
ګلزارله راځه ،راځه،دمدینے دګلشن اوکړه دیدنونه
دمدینے منورے خوږ دلبردے
لګوه سترګے په جنګلے ډیرخوږ دلبردے
انوارله راځه ،نشته دنیاکښے داسے بل ځمازیارتونه
ګلزارله راځه ،راځه،دمدینے دګلشن اوکړه دیدنونه
اوکړه جنګلے سره رتعظیم ، جانان اوسیږی
چه غورے دے خلق عظیم ، جانان اوسیږی
انوارله راځه ، دجانان خواکښے کړی یاران دواړه خوبونه
ګلزارله راځه ،راځه،دمدینے دګلشن اوکړه دیدنونه
دلته قبلے طرف ته شاکړه ، جانان ګوری
لاسونه پورته په دُعاکړه ، جانان ګوری
انوارله راځه ، چه دامُت غم کښے ئے ډیرکړی سوالونه
ګلزارله راځه ،راځه،دمدینے دګلشن اوکړه دیدنونه
دلته د زړونوصفائی وی، جانان خواکښے
دهرمرض ښه دوائی وی ، جانان خواکښے

انوارله راځه ، اوبه کړے دلته دباطن دِ علاجونه
ګلزارله راځه ،راځه،دمدینے دګلشن اوکړه دیدنونه
دلته دَمینے سوداګانے ، قیمت نه لری
دهرچاډیرے ارزوګانے ، قیمت نه لری
انوارله راځه ، هرڅوك جانان ته وئ دَخپل زړګی حالونه
ګلزارله راځه ،راځه،دمدینے دګلشن اوکړه دیدنونه
دلته سیفی لطیف الله ډیر، سوالونه کوه
قبلیږی دلته خامخاډیر، سوالونه کوه
انوارله ځه، په وسیله دَمحبوب کړه رب نه سوالونه
ګلزارله راځه ،راځه،دمدینے دګلشن اوکړه دیدنونه

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (۴۸)

مدینه مدینه ، جانان خوږوطن لرینه
شنه روضه ، شنه روضه ، دَنورشمعے بلوینه
دلته اوسیږی مِ جانان ارام کوینه
مدینه مدینه ، جانان خوږوطن لرینه
دَمدینے ښکلے دربار دے
پکښے وسم ښکلے بهاردے



دَبلبلانو پرے چغاردے
پکښے محبوب دے خزان هرونه راځینه
مدینه مدینه ، جانان خوږوطن لرینه
شنه روضه ،شنه روضه ، دَنورشمعے بلوینه
دَجنتونونه خائسته ده مدینه هرچاته خوږه ده
دسروګلونه باغیچه ده
دَنورباران پرے الله هروخت وَرَوِیُنه
مدینه مدینه ، جانان خوږوطن لرینه
شنه روضه ،شنه روضه ، دَنورشمعے بلوینه
محبوب سره خواکښے یاران
صدیقؓ عمرؓ دَ ګُل پشان
ښکاریږی ستوری دآسمان
ځلیږی شمع پتنګان پرے ځان سیزینه
مدینه مدینه ، جانان خوږوطن لرینه
شنه روضه ،شنه روضه ، دَنورشمعے بلوینه
باب السلام ښکلے ځلیږی
دروازه لرے نه ښکاریږی
په کتوسترګے نه مړیږی

عاشقان ځان ورله په مینه رسوینه
مدینه مدینه ، جانان خوږوطن لرینه
شنه روضه ،شنه روضه ، دَنورشمعے بلوینه

عجیبه مسجدنبویؐ دے
پسے هریوپه زړه زخمی دے
دَمینے ډك مِ خوږنبیؐ دے
عاشقان ځان ته ډیرپه مینه رابلینه
مدینه مدینه ، جانان خوږوطن لرینه
شنه روضه ،شنه روضه ، دَنورشمعے بلوینه

سیفی لطیف الله زاریږی
دَ مدینے نه قربانیږی
هروخت ئے زړه باندے وریږی
په انتظارانتظارعمره تیروینه
مدینه مدینه ، جانان خوږوطن لرینه
شنه روضه ،شنه روضه ، دَنورشمعے بلوینه

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (۴۹)

کوځے باب السلام باندے په مینه وے روان



دیدن له دَجانان ، لرم دغه ارمان
درودباندے ګویان وے ، په درودباندے ګویان

ارمان مِ په زړګی دے
ورپسے مِ زړه زخمی دے
ډیرخوږ زما نبیؐ دے
بهیږی پسے اوښکے همیشه مِ له چشمان
دیدن له دَجانان ، لرم دغه ارمان
درودباندے ګویان وے ، په درودباندے ګویان

جانان ته مِ نظروے
زما شام اوسحروے
والله ډیربه اثروے
په خواکښے چه لری ښکلے صدیقؓ عمرؓ ګلان
دیدن له دَجانان ، لرم دغه ارمان
درودباندے ګویان وے ، په درودباندے ګویان

سلام صدیق اکبرؓ ته
هم یارحضرت عمرؓ ته
هم وے مِ خوږ دلبرته
رحمت راوریدے لکه شیبے شیبے باران

دیدن لـه دَجانان ، لرم دغه ارمان
درودباندے گویان وے ، پـه درودباندے گویان
ادب لاندے کتل وے
ستاخواته اوسیدل وے
دَمینے شراب څکل وے
نظر مووے پـه مینـه پـه دِ ښکلی گلستان
دیدن لـه دَجانان ، لرم دغه ارمان
درودباندے گویان وے ، پـه درودباندے گویان
پـه ریاض الجنت کښے
ستاخواته محبت کښے
دے ستاسو پـه صحبت کښے
دَمینے نظر ستاسو وے پـه مابدے قربان
دیدن لـه دَجانان ، لرم دغه ارمان
درودباندے گویان وے ، پـه درودباندے گویان
سیفی لطیف الله یم
وِصال پـه تمنا یم
همیش لاس پـه دُعا یم
داستاسو وِصال غواړمه هروخت دپاك سبحان



دیدن لـه دَجانان ، لرم دغه ارمان
درودباندے گویان وے ، پـه درودباندے گویان

## نعت شریف (۵۰) آمدمرحبا ... رمضان المبارك

آمَدُ مرحبا راځه رمضانه
دافضل دے لوئے دپاك سبحانه
آمَدُ مرحبا وایو ټول تاته
برکت به راړوے گوره هرچاته
زاریږی ځکه هرڅوك لتانه
دافضل دے لوئے دپاك سبحانه
پـه دِمیاشت کښے ډیرخفه شیطان دے
خوشحاله پکښے هرنیك انسان دے
فائده ترے واخله اے مسلمانه
دافضل دے لوئے دپاك سبحانه
ذکرونه کوه تلاونه
درب کوه ډیرثناحمدونه
ساتے ځان بچ هرے گناهونه
الله به ورکـئ اجرونه
ثواب ئے ډیردے مکړه فکرونه

کوه تلاوت دَپاك قرآنه
دافضل دے لوئے دپاك سبحانه
روژے اونیسه په محبت
خوشحال کړه خپل رب العزت
محشرکښے خلاص کړه ځان دَسزانه
دافضل دے لوئے دپاك سبحانه

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (۵۱) رمضان شریف

راغله مبارکه ښکلے میاشت دِ رمضان
تختی پخپله په دِمیاشت کښے شیطان
دِکښے نازل شوے دے عظیم ښکلے قرآن
وریږی رحمتونه ډیرد لوری دَسبحان

(۱)

کړه عبادتونه په دِمیاشت کښے مسلمانه
یوذره غافل نه شے دَ ذکردَ الله نه
کړه تِلاوتونه دَقرآن واروه انسانه
نفس به ساتے مسلمه هرے یوے ګناه نه
چه بچ شے په محشرکښے دالله غتے سزانه



هروخت راوریږی رحمتونه دَآسمانه
فضل دے په مونږه دا دپاك غنی سبحان
رمضان ، رمضان راوړه رمضان برکتونه

(۲)

میاشت درمضان کښے اوریږی ډیر انوار
اویا چنده میلاؤ شی پکښے هردَ ثواب کار
خپله ئے بدله ورکوی پاك پروردګار
غواړه مغفرت پکښے کوه ډیراستغفار
غوره دے الله ته دخلے لوئے دَ روژه دار
اَلصَومُ لَیُ وَاَنَااَجزِیُ بِهٖ ،دے دافرمان
رمضان ، رمضان راوړه رمضان برکتونه

(۳)

لس اَوولنۍ ورځے شروع وی دَ رحمت
کړی په بندګانو خپل مولاډیرعنایت
نه پریدی خالی لاسونه غواړه هرساعت
ټولے دروازے پکښے کهولاوی دَجنت
لرے کړه دَ زړه نه دِحَسَدُ بُغُض نفرت

ژاړه پاك اللّٰه ته کوه ډیرزاری جنت
ډیر دے مهربانه پاك اللّٰه رحیم رحمان
رمضان ، رمضان راوړه رمضان برکتونه

(٤)

دویمه عشره دمغفرت ده خبردار شه
غواړه دَاللّٰه نه رحمت ئے امیدوار شه
رب به دِ معاف کړی ګناهونه طلبګار شه
هرقسم غَلَطُونه پاك رب ته توبه ګار شه
اوباسه توبه بنده صالحه پرهیزګارشه
نورب به درله معاف کړی بنده کُل واړه عصیان
رمضان ، رمضان راوړه رمضان برکتونه
وریږی رحمتونه ډیرد لوری دَسبحان

(۵)

دریمه دَ نجات عشره اُورنه دَ خلاصی ده
دِکښے پکار ډیره دَاللّٰه پاك بندګی ده
هره یوه لحظه ئے والله ډیره قیمتی ده
دِ کښے نفع ډیره دَ محبوب دَ اُمتی ده



سینه مِ په وصال پسے دَ ډیروخت نه زخمی ده
ډیره مینه زړه کښے دَ لطیف اللّٰه سیفی ده
کله به دیدن اوکړمد هاشمی جانان
رمضان ، رمضان راوړه رمضان برکتونه
وریږی رحمتونه ډیرد لوری دَسبحان

❁❁❁❁❁

## واقعه کربلا (۵۲)

بند په بند ترلے ظالمانو
رحم پکښے نشته ظالمان دی ، کربلا کربلا
ځومره تګے تګے معصومان دی ، کربلاکربلا
خیال کړه دَحسین ابن حیدر دے
دا خونازولے دَ سرور دے
دادَ پاك نبی ښکلے ګلان دی ، کربلا
ځومره تګے تګے معصومان دی ، کربلاکربلا
ستا دَ ظلم ختمه به نشه نن
دوی ته به دُنیا په تماشه شی نن
دا خوغیرتی مردِ میدان دی، کربلا

ځو مره تګے تګے معصومان دی ، کربلا کربلا
ځان ئے کړو قربان په ښکلے پاك اسلام
او چو شونډو باندے ئے کینځو دجام
دومره دَ نیکه په دین قربان دی، کربلا
ځو مره تګے تګے معصومان دی ،کربلا کربلا
اے یزید ظالمه ستا بیعت نه کړی
ته خپل دین چالئ ستا همایت نه کړی
نو دا مئین په ښکلے پاك قرآن دی ،کربلا کربلا
ځو مره تګے تګے معصومان دی ،کربلا کربلا
یاد چه دَ دوی غم شی په ژاړه شمه
سوچ کښے زهٔ سیفی لطیف الله شمه
قائم موکړه اے ربه په دے ایمان ، کربلا کربلا
ځو مره تګے تګے معصومان دی ، کربلاکربلا

❁❁❁❁❁

## دوئمه واقعه دَ کربلا (۵۳)

نن مِ بیا دَ زړه بلبل په فریاد سر شو
چه را یاد دَ کربلا ظالم لښکر شو



دَ یزید ظالم دَ لاسه دا څه اوشول
په سرو وینو رنګ اولاد دَ پیغمبرؐ شو
چه را یاد دَ کربلا ظالم لښکر شو
سکینه بی بی په چغو چغو ژاړی
چه دَ پلار په مبارك سر ئے نظر شو
چه را یاد دَ کربلا ظالم لښکر شو
دا خو غم دے دَ حسینؓ هیر به ئے نه کړم
په سینه کښے مِ دَ غمه جوړ پرهر شو
چه را یاد دَ کربلا ظالم لښکر شو
تګے تګے معصومان دَ دُنیا لاړل
انتظار کښے ورته جنتی کوثر شو
چه را یاد دَ کربلا ظالم لښکر شو
دَکم وخت نه لا تراوسه تر دے وخته
په تُرزن حُسینؓ ګواه هر یو بشر شو
چه را یاد دَ کربلا ظالم لښکر شو
داسے را به نشی بل په دُنیا چرته
چه ګواه پرے دَ فُرات لوئے سمندر شو
چه را یاد دَ کربلا ظالم لښکر شو

دَ سیفی لطیف الله دَ سترګو تُور دے
کربلا په مظلومانو خوږ ځیګر شو
چه رایاد دَ کربلا ظالم لښکر شو

## واقعه حضرت اُویسی قرنیؓ (۵٤)

دَ حضورؐ ښکلے تابعی نه شم زار
حضرت اُویسی قرنیؓ نه شم زار
دَ محبوبؐ مینه لری زړهٔ کښے ډیره
دَ محبوبؐ هر یو صحابی نه شم زار
که صحابه یا تابعین دی ټول
لری محبوبؐ سره په زړه کښے مینه
هیڅوک ئے نشی رسیدلے شان ته
دَ نُور جلوے ئے دَ رُخسار نه ځینه
ته هم په صدق شه عاشق په محبوبؐ
دَ جانان شوندو ګلابی نه شم زار
دَ حضورؐ ښکلے تابعی نه شم زار
حضرت اُویسی قرنی نه شم زار
عاشق اُویسی قرنیؓ یادیږی
دَ حضورؐ مینه کښے ګرزیږی بیمار



مورئے دَ تللو اجازت نه ورکئ
په زړهٔ ئے ارمان دے دَ محبوب دیدار
ارمانی ډیر دے دَ جانان دَ لیدو
دَ خپل محبوبِ مدنی نه شم زار
دَ حضورؐ ښکلے تابعی نه شم زار
حضرت اُویسی قرنیؓ نه شم زار
دَ محبوبؐ غاښ چه شو اُحد کښے شهید
خبر چه شولو اُویس قرنیؓ کله
دو دریرش غاښونه ئے کړل مات له ځانه
ورځ به له سخته وی له دینه بله
لاړو دَ مینے په جذبه کښے ډیر
دَ خپل حبیبؐ او خوږ نبیؐ نه شم زار
دَ حضورؐ ښکلے تابعی نه شم زار
حضرت اُویسی قرنیؓ نه شم زار
په نالیدلے مخ پرے وائی سلام
رسول اللهؐ زمونږه خیر الانام
دُعا ترے اُوغواړئ اُمت دَ پاره
پریخودو داسے مِ محبوبؐ خپل پیغام

الله دے مونږ هم عاشقان کړی داسے
دَخپل محبوبِ مدنی هم زار
دَحضورؐ ښکلے تابعی نه شم زار
حضرت اُویسی قرنیؓ نه شم زار

سیفی لطیف الله نامه لرمه
په مدینه کښے چه اُوسیږمه زۀ
دا دَ جانان کرم په ما باندے دے
ځکه په مینه ترے زاریږمه زۀ
زار او قربان دَ مدینے نه شمه
دَ محبوبؐ هریو اُمتی نه شم زار
دَحضورؐ ښکلے تابعی نه شم زار
حضرت اُویسی قرنیؓ نه شم زار

## نعت شریف (۵۵) ده پاتے دے

محبوبؐ پکښے دے مدینه ډیره رنگینه ده
ښکلے چهره سپینه ده
ډیر دے حسین، سپین ئے جبین

گل دَ مدینے پکښے اُوسیږی
دا چه ځلیږی ښکلے ښار



رنړا رنړائے هر لار
چمک کوی هر مینار
ډیره خوږه والله دَشهدونه شرینه ده
ښکلے چهره سپینه ده
ډیر دے حسین، سپین ئے جبین

زړونه راکاږی ښکلے ښار
پکښے وی هروختے بهار
موجود پکښے خیرالابرار
دا زمکه ځکه دجنت نه نازینه ده
ښکلے چهره سپینه ده
ډیر دے حسین، سپین ئے جبین

محبوب کوی نظر هرچا ته
پکښے بادشاه او هم گدا ته
غمونه ټول غورځوی شا ته
ځکه خو گرانه په هرچا باندے مدینه ده
ښکلے چهره سپینه ده
ډیر دے حسین، سپین ئے جبین

سیفی لطیف الله یم گرانه

نظر په ما اوکړه جانانه
هيڅوك م نشته بې لتانه
تاوسيله ګرځوم تاسره م مينه ده
ښکلې چهره سپينه ده
ډيردې حسين، سپين ئې جبين
ګل دَ مدينې پکښې اوسيږي

## نعت شريف(۵۶)

نوراني مخ دې راښکاره کړه رب دَپاره
زلفې دِ وَلُ وَلُ مزه که، په اُوګوتل مزه که
نبيؑ سرداره، نبيؑ سرداره
نوراني مخ ته دِ رسيږي نه آفتاب دَآسمان
ته دَ نُورشمع ئې بليږې ځلنده دې جهان
ستا په مخ کړې قسم پاك پروديګاره
زلفې دِ وَلُ وَلُ مزه که، په اُوګوتل مزه که
نبيؑ سرداره، نبيؑ سرداره
کله به اُوينم ستا نرګسي چشمان محبوبه
ګلابي شونډې کړې مسکا دګُل په شان محبوبه
ديدن دِراکړه اے نبي خيرالابراره



زلفې دِ وَلُ وَلُ مزه که، په اُوګوتل مزه که
نبيؑ سرداره ، نبيؑ سرداره
صِفت دِرب دې بيان کړې په قرآن حبيبهٔ
خلق عظيم باندې ستائيلې رب منان حبيبهٔ
شان ته رسيږي نه بل څوك ستا حسنداره
زلفې دِ وَلُ وَلُ مزه که، په اُوګوتل مزه که
نبيؑ سرداره، نبيؑ سرداره
ورځ دَ محشربه شي اخترچه ستارخسارښکاره شي
ورکه به سختنه دَمحشرشي چه انوارښکاره شي
ستا دَ ليدوپه طمع يم ډيرناقراره
زلفې دِ وَلُ وَلُ مزه که، په اُوګوتل مزه که
نبيؑ سرداره، نبيؑ سرداره
دَمدينې ګلابه زړه باندې پرهريمه څه
طمع لرمه ارماني دِدَ نظريمه څه
نظردَ مينې راته کړه مدني ياره
زلفې دِ وَلُ وَلُ مزه که، په اُوګوتل مزه که
نبيؑ سرداره، نبيؑ سرداره
لطيف الله سيفي ترڅوپورې به ژاړمه څه

ستاسپین رخسار او مدینه به ترځو غواړمه څه
نقاب اُوچت کړه راته لږ دَ سپین رخساره
زلفے دِ وَلُ وَلُ مزه کړه، په اُوګوتل مزه کړه
نبیؐ سرداره، نبیؐ سرداره

## نعت شریف(۵۷)

انوار پرے راوریږی ښکلے ګنبدِ خضرا ښکاری
لاندے ترے روضه دَ محمد رسول الله ښکاری
جلوے ترے خیژی هر طرف ته لوړے منارے دی
عشاق ورته ولاړ دی ټول دهریو ستر ګے سرے دی
حرم رنګین حرم دے د جنت نه ډیر اعلی ښکاری
لاندے ترے روضه دَ محمد رسول الله ښکاری
پکښے شمع ده بله پتنګان پرے ټول سوزیږی
اُورونه دهجران د هر عاشق په زړه بلیږی
هریوئے په دِ شمع باندے ګوره پروانه ښکاری
لاندے ترے روضه دَ محمد رسول الله ښکاری
پکښے دُرِ مرجان دَ زړه قرار صدف لال دے
دَ قاب قوسین ښکلے نبیؐ شاهِ باکمال دے
وَجودِ اطهر دوست دَ اکبر فخر الآنبیاء ښکاری



لاندے ترے روضه دَ محمد رسول الله ښکاری
چه وے ئے فرشتے منتظر بره په سماء
معراج له تلے بره پاس له صدرِ منتهیٰ
دَ رب شو ملاقی مهمان په عرش معلیٰ ښکاری
لاندے ترے روضه دَ محمد رسول الله ښکاری
رنګین ئے ټول حرم دے ورته ګورم ګیر چاپیره
حیران یمه چه خوب دے او که ویخه زمارو ره
چه کوم طرف ته ګورمه هرځائے رڼا رڼا ښکاری
لاندے ترے روضه دَ محمد رسول الله ښکاری
سیفی لطیف الله ډیر ارمانی دَ شنے روضے وے
ستاسو حرم غواړی ارمانی دِ دَ جنګلے دے
ستا مینه مِ زړه کښے ده خپل ځان راته بادشاه ښکاری
لاندے ترے روضه دَ محمد رسول الله ښکاری

❁❁❁❁❁

## نعت شریف(۵۸)

رُخسار باندے وَل وَل دِ تور زلفان خوند کوی
دا ستا په مینه سوزی عاشقان خوند کوی
په مخ دِ راخورے چه تورے زلفے نوتیاره شی

چه واړوے زلفان رخسار نه ټول په ننداره شي
وریځ کله رنړادِ په آسمان خوند کوی
داستاپه مینه سوزی عاشقان خوند کوی
په سرولبانواوکړے چه مُسکا رنړا رنړاشی
که وَرکَه دګنډلوستن وی هغه دم پیداشی
داهم دَعائشے ابئ فرمان خوند کوی
داستاپه مینه سوزی عاشقان خوند کوی
رخسارِدِ نورانی دے نمرسپوږمئ نه ځلیدلے
چه کله وے معصوم دَ دوی سره به لوبیدلے
داستاسره ښائیږی دالوئے شان خوندکوی
داستاپه مینه سوزی عاشقان خوند کوی
یو سفؑ که دَکنعان ووګُله تاته نه رسیږی
اویازره پردوکښے دِ رخسارزیباځلیږی
والیل اذا سجیٰ دِ په قرآن خوند کوی
داستاپه مینه سوزی عاشقان خوند کوی
ته هغه عظیم ذات ئے چه مولیٰ دِ کړی صفت
په ټولو مُرسلانو کښے ډیرستادے فضیلت
مئین پتا مولیٰ غنی سبحان خوند کوی



داستاپه مینه سوزی عاشقان خوند کوی
سیفی لطیف الله چه نن پتاپسے بیماردے
خپل ځان درنه زاریٔ ګُله مئین دِ په رُخسار دے
صفت دِ په قلم او په زبان خوندکوی
داستاپه مینه سوزی عاشقان خوند کوی

## نعت شریف (۵۹)

پاکه مدینه ده کړه ارام پکښے ګلونه ډیر
ګنبدِ خضریٰ دے ترے راخیژی انوارونه ډیر
ځه په مینه مینه ستادِپاك وطن ته ګورمه
څومره ښکلا ګانے دی رنګین ګلشن ته ګورمه
کوم په مینه مینه دحرم دِ دیدیونه ډیر
ګنبدِ خضریٰ دے ترے راخیژی انوارونه ډیر
ډیر په مینه مست راځی روضے ته سلامونه کړی
ګوری په جنګلوکښے غلے غلے دیدنونه کړی
مواجیه شریف کښے کړی محبوبه زیارتونه ډیر
ګنبدِ خضریٰ دے ترے راخیژی انوارونه ډیر
الصلوتُ والسلام علیك یا رسول اللهؐ
کله په دیدن دِ څوك مړیږی یاحبیب اللهؐ

کړی درته په مینه هریوداسے اوازونه ډیر
ګنبدِخضرئ دے ترے راخیژی انوارونه ډیر

دوه یاران په خواکښے دِ اوسیږی درنه زارشم
یوصدیقؓ اکبر اوبل عمرؓ نه هزاروارشم
تاسره اوسیږی تاسره محبتونه ډیر
ګنبدِخضرئ دے ترے راخیژی انوارونه ډیر

ستا دَ مینے بل دی مشالونه په حرم کښے
تاله چه راځی کمے راځی ئے ډیرپه غم کښے
ستاپه خواکښے لرے شی دَهرعاشق غمونه ډیر
ګنبدِ خضرا دے ترے راخیژی انوارونه ډیر

سیفی لطیف اللہ چه نن روضے ته سلامی کړی
ستا دَخادمانوپه حرم کښے غلامی کړی
داپرے وی محبوبه هروخت ستاسونظرونه ډیر
ګنبدِخضرئ دے ترے راخیژی انوارونه ډیر

## نعت شریف(٦٠)

آقاآقا،مینه مِ لتاسره دَ زړه ده
صبا صبا ،ځمه دلته نن آخری شپه ده
راغلم دے روضے له اجازت غواړم جانانه



هم دِ دَ یارانونه نبیؐ آخرزمانه
اوګوره په سترګوخماروکښے قدردانه
بے لتانه نه نوره زندګی شوه راته ګرانه
حال به دَ زړه چاته وایم پاك نبیؐ سلطانه
راکړه یودیدن نورانی ستا ښکلے چهره ده
آقاآقا،مینه مِ لتاسره دَ زړه ده
صبا صبا ،ځمه دلته نن آخری شپه ده

نن دِخواته ناست یم ټوله شپه ښکلے حرم کښے
اوښکے مِ روانے درته ناست سترګے په نم کښے
اے خوږه جانانه ټول غمونه راله کم کښے
اوسوه زی دی ستادُښمنان ټول په جهنم کښے
ستاسره کوی عناد اخته ئے په خپل غم کښے
ستاسره چه بعض کړی په زړه کښے ئے کینه ده
آقاآقا،مینه مِ لتاسره دَ زړه ده
صبا صبا ،ځمه دلته نن آخری شپه ده

مسجدنبویؐ کښے عجیبه ښکلے اثردے
ښکلے دَجنت نه دلته نورانی منظردے
هیربه دَچانشی که سحرکه مازیګر دے

خواکښے دِ اُوسیږی یو صدیقؓ اوبل عمرؓ دے
ستانه قربان کړی ئے ګلابه مال وسر دے
څومره بختوردی چه ئے ستاخواکښے روضه ده
آقا آقا، مینه مِ لتاسره دَ زړه ده
صبا صبا، ځمه دلته نن آخری شپه ده

ډیر په اُمیدونوراشی ستاښکلے روضے ته
اودریږی سلام دَپاره ستاښکلے جنګلے ته
اوګوره دَهریو عاشق صبر حوصلے ته
دا څوکیداران ئے نه پریږی دیوال نزدے ته
داپه کرایه ولاړ دی ستاښکلے کوټے ته
دومره بے آدب دی ورکیٔ هریوله دیکه ده
آقا آقا، مینه مِ لتاسره دَ زړه ده
صبا صبا، ځمه دلته نن آخری شپه ده

په ډك اُمیدراځم خواله دِ دامِ څوپیرے دی
یه خوږه محبوبه ستاسو خواته شوګیرے دی
غمه درپسے مِ ګُله دواړه سترګے سرے دی
اوکړه یو نظر ښکلے دِ سترګے خمارے دی
یو نظر دَ مینے باندے ټول ارے ارے دی



ستاپه خوږ نظر پسے ځماسوے سینه ده
آقا آقا، مینه مِ لتاسره دَ زړه ده
صبا صبا، ځمه دلته نن آخری شپه ده

لږ که دَ روضے نه راته سپین مخ رانما کړے
ټول جهان کښے جوړه به دَ نُوریو تجلا کړے
ولاړ دَ مشررور سره ارمان پوره ځماکړے
دعمر ژړیدلے سترګے ماله په خنداکړے
هیربه ئے چرے نه کړم که ارزوپوره ځماکړے
نودغه انتظارته تیره کړے مِ موده ده
آقا آقا، مینه مِ لتاسره دَ زړه ده
صبا صبا، ځمه دلته نن آخری شپه ده

ستاسو دلیدلو دډیروخت نه یم لیواله
لږ وصال دِ راکړه چه روان یمه صباله
دا سینه به ډکه دَ فریاد اُوړه مه چاله
نشته مِ بل څوك ځکه راغلے یمه تاله
پوره کړه دا ارمان لږ دِ سیفی لطیف الله له
نه مِ ځی قدم جنګلے نه مینه عجیبه ده
آقا آقا، مینه مِ لتاسره دَ زړه ده

صبا صبا، ځمه دلته نن آخري شپه ده

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (٦١)

دا دَمحبوب دَوطن دی ښکلے کوځے

لړ پـه خیال ګرځه
دلته ګرځی ډیرے فرشتے
لړ پـه خیال ګرځه

عاشقان ښکلے مدینه کښے دی ډیر
دپاك رسولؐ ښکلے روضه کښے دی ډیر
ولاړ پـه نوراني جنګله کښے دی ډیر
دلته دے هر عاشق پـه زړه ارے ارے
لړ پـه خیال ګرځه
دلته ګرځی ډیرے فرشتے

دَ مدینے جانان ارام کړی دلته
پـه مینه هر عاشق تـه فام کړی دلته
نوش هر عاشق دمینے جام کړی دلته
خلاصے وی دلته دَ انواورو دَروازے
لړ پـه خیال ګرځه



دلته ګرځی ډیرے فرشتے

دَمحبوب خواکښے دوه یاران اُوسیږی
صدیقؓ عمرؓ دَ ګُل پشان اُوسیږی
بقیع کښے حضرتِ عثمانؓ اُوسیږی
محبوب سره دی پـه ګلشن کښے یاران درے
لړپه خیال ګرځه
دلته ګرځی ډیرے فرشتے

دامدینه منوره ښکلے ده
دَمحبوب چم هره کوځه ښکلے ده
ښکلے ګنبداومناره ښکلے ده
لس چه ځلیږی پکښے ښکلے منارے
لړپه خیال ګرځه
دلته ګرځی ډیرے فرشتے

لطیف الله سیفی حرم کښے یمه
دخپل جانان پـه ښکلی چم کښے یمه
دخپل محبوبؐ نظرِ کرم کښے یمه
دلته قرار دے دَ زخمی سَوے سینے
لړپه خیال ګرځه

دلتـــه ګــرځـــی ډیـــرے فـــرشتـــے

## نعت شریف(٦٢)

دَمـدینـے جـانـانـه پـه زړه وریـږے زمـا
زړه کبنـے اُوسیږے زما ، زړه کبنـے اُوسیږے زما

ستـادَ دیـدن سـوالـونـه دَ پـاك الله نـه کـووم
یـوځـل وِصـال کـه راکـړے طـمع پخوانـه کووم
ډیرنازنیـن جانـان ئـے، ډیرزیات شرین جانان ئے
دَ زړګـی سـره ئـے زمـا، نبـیؐ سـرورئـے زمـا
والله کـه یـوسـاعـت مـحـبوبـه تـه هیریږے زمـا
زړه کبنـے اُوسیږے زما ، زړه کبنـے اُوسیږے زما

ستـا دَ دیـدن پـه طـمـع ځـه زنـدګـی تیـره ووم
والله تـایـوسـاعـت زړګـی نـه نـه هیـره ووم
درپسـے ژاړمـه ځـه ، وِصـال دِغـواړمـه ځـه
ډیـریـم نـاتـوان حبیبـهؐ ، یـم پـریشـان حبیبـهؐ
دهـرعـاشـق نـه اے ګـلابـه ډیـرزاریـږے زمـا
زړه کبنـے اُوسیږے زما ، زړه کبنـے اُوسیږے زما

کـاش مـدیـنـه مـنـوره وے زمـاکـلـے ګـرانـه
ستـاسو روضـے تـه بـه هروختـے زه راتللـے ګرانه



دغـه ارمـان لـرمـه ،نبـیؐ سـلـطـانـه لـرمـه
پتـاپسـے کـړیـږم ، عـجـم کبنـے نـه صبـریـږم
شـمـس وقـمـرنـه خائستـه ښکلـے ځلیږے زما
زړه کبنـے اُوسیږے زما ، زړه کبنـے اُوسیږے زما

یـوځـل نـظـرراتـه ګـلابـه مـدینـے نـه اوکـړه
درځـم دِخوالـه راتـه ښکلـے شنـے روضـے نه اوکړه
چـه مسـافـریمـه ځـه ، ستـاسوپـه دریمـه ځـه
بـے لتـا ژاړمـه ځـه ، مـدام دِ غـواړمـه ځـه
دخپـل اُمـت غـم کبنـے دَرب پـه درژړیـږے زمـا
زړه کبنـے اُوسیږے زما ، زړه کبنـے اُوسیږے زما

لـطیف الله سیـفـی یـم ډیـرګـهـنـګـاریـمـه ځـه
ستـاسـود فـضـل رحـمـت ډیـر اُمیدواریمـه ځـه
ورځ دقیـامـت چـه راشـی ، دشـفـاعـت چـه راشی
نشتـه بـل څـوك بـے لتـا، ځـه یمـه ډیربـے نوا
پـلِ صـراط کبنـے شـفـارس تـه بـه اودریږے زمـا
دَمـدینـے جـانـانـه پـه زړه وریـږے زمـا
زړه کبنـے اُوسیږے زما ، زړه کبنـے اُوسیږے زما

## نعت شریف(٦٣)

سترګې ژړېږي زما يمه ډېرپه غم حبيبهٔ
آخري شپه ده په حرم کښې صباځم حبيبهٔ

دشپې يوه بجه ده راغلمه روضې نه دِځه
په ډېره مينه دباب السلام کوځې نه دِځه
درته ولاړووم مخامخ ښکلې جنګلې نه دِ ځه
په راوتوکښې شو زړګې قلم قلم حبيبهٔ
آخري شپه ده په حرم کښې صباځم حبيبهٔ

دَ زړه نه يو الله خبردے خوږجانانه پاتې شو
دمدينې منورې نبيٌ سلطان پاتې شو
په دِ بقيع کښې رانه ډيرښکلے ګلان پاتې شو
صبابه ځم دمدينې دَښکلې چم حبيبهٔ
آخري شپه ده په حرم کښې صباځم حبيبهٔ

ځمه خو بيا مِ ځانته راوله سوالونه کووم
چه دِ په مينه مينه ښکلې زيارتونه کووم
ستادَ ديدن محبوبه ځه ډير ارمانونه کووم
چه ستا دَمينې شراب بيابه کله څکم حبيبهٔ
آخري شپه ده په حرم کښې صباځم حبيبهٔ

درد دَسينې مِ شو په زړه زخمي يمه ځه



ډېرے مودے نه ستا دمينې سودائي يمه ځه
څه اوکړم اے محبوبه ستادعِشق کښې بندي يمه ځه
ستاستو فراق کښې په وجود کښې نشته دِم حبيبهٔ
آخري شپه ده په حرم کښې صباځم حبيبهٔ

که دِ نظر دَمينې اوکړودرنه زارشمه ځه
چه مشرف به کله ستادَ خوږ ديدارشمه ځه
په تماشه به کله ستادسپين رخسار شمه ځه
چه درته ناست وے په حرم کښې صباځم حبيبهٔ
آخري شپه ده په حرم کښې صباځم حبيبهٔ

لطيف الله سيفي سره دے احتشام دلته
توصيف احمد اونوراني په دِ مقام دلته
ښکلے محبوب مِ مخامخ کوي ارام دلته
زړهٔ مِ خفه درپسے دے خورمه قسم حبيبهٔ
آخري شپه ده په حرم کښې صباځم حبيبهٔ

## نعت شريف(٦٤) حج مبارکی

حاجيانو مبارك شئ طوافونه دَکعبے
زيارت دَشنے روضے، زيارت دَشنے روضے
دَرب ووډيرا احسان ، پوره موشوارمان

په تورغلاف نظریه، ووستاسو هرزمان
په خله باندے به وے مودلبیك لبیك نعرے
زیارت دَشنے روضے، زیارت دَشنے روضے

اُوه ووچکرونه ، کعبے نه طوافونه
صفااوپه مروه کښے، دُعاته مُولاسونه
یادونه به تازه وودَدے بی بی حاجرےؓ
زیارت دَشنے روضے، زیارت دَشنے روضے

مٰنی کښے چه کښے چه موشپے وے،
خائسته ډیرے خیمے وے
چه تلئ بیاعرفات ته، رنګینے نظارے وے
یوه شپه به شوه تیره بیاپه دِ مزدلفے
زیارت دَشنے روضے، زیارت دَشنے روضے

ویشتل به ئے شیطانان ، منیٰ کښے دِحاجیانو
سنت ابراهیمیٴ به ، اداشوپه ښه شانو
سرونه خرول به ئے بیاهم په دے موقعے
زیارت دَشنے روضے، زیارت دَشنے روضے

فارغ چه شی حاجیان، جانان له شی روان
طرف دَمدینے ته ، ورځی په زړه شادان



سلام به ورته اوکړی په دِ نورانی جنګلے
زیارت دَشنے روضے، زیارت دَشنے روضے

خائسته باب السلام دے ، دَډیراداب مقام دے
محبوبؐ خپله موجود دے، ګلشن کښے په ارام دے
مسکن لری حجره ښکلے دَ بی بی عائشے
زیارت دَشنے روضے، زیارت دَشنے روضے

اُحد دے که قبادے، مقام هریوزیبادے
دیدن ته ئے په طمع ،سیفی لطیف الله دے
ارمان کووم همیش دَمدینے منورے
زیارت دَشنے روضے، زیارت دَشنے روضے

❁❁❁❁❁

## نعت شریف(٦٥)

جنګلو سره دَمینے نظرونه خوندکوی
جانان ته ډیردَمینے سلامونه خوندکوی

ډیرادب میلاؤ دے مدینے منورے ته
خیال کړه په ادب ورزه دَیارښکلے روضے ته
نواوچت پورته جنګلوسره لاسونه خوندکوی
جانان ته ډیردَمینے سلامونه خوندکوی

داګوره بختوردی چه دَیارخواکښے اُوسیږی
صدیقؓ دے بل عمرؓ دے نورانی شمعے بلیږی
ګلشن کښے نازولی دوه ګلونه خوندکوی
جانان ته ډیردَمینے سلامونه خوندکوی

روضے نه نبی طرف ته ګوره ریاض الجنت دے
محراب اوهم منبرزړونه راکاږی محبت دے
مسجد نبویؐ کښے زیارتونه خوندکوی
جانان ته ډیردَمینے سلامونه خوندکوی

دَمینے په بازارکښے یم ورك شوے جانان ګورم
دَ زړه په آئینه کښے بس هم دغه ارمان ګورم
فراق لمبو وهلے دیدنونه خوندکوی
جانان ته ډیردَمینے سلامونه خوندکوی

داڅه رنګه زخمونه مِ جوړ شوے په بدن دی
داټول دَ مدینے منورے دَخوږ وطن دی
دَیار په جدائۍ کښے دا زخمونه خوندکوی
جانان ته ډیردَمینے سلامونه خوندکوی

سیفی لطیف الله محبوبه ستاپه مینه پائی
شپه ورځے دِمحبوبه په زبان اوقلم ستائی



داستا په مینه لیکمه نعتونه خوند کوی
جانان ته ډیردَمینے سلامونه خوندکوی

❁❁❁❁❁

## نعت شریف(٦٦)

نسیمه سوال درته کوومه
ماله دَجانان دَوطن حالونه راوړه
دغمه اوښکے تویوومه
ماله دَجانان دَوطن حالونه راوړه

یادیږی ډیرمِ خوږ جانان
راته یادیږی هرزمان
څنګه به زړه خپل صبرووومه
ماله دَجانان دَوطن حالونه راوړه

دَهجران سختے راخورے دی
په زړه مِ بلے سرے لمبے دی
ځان ئے دَکلی زارووومه
ماله دَجانان دَوطن حالونه راوړه

یُوسه سلام نبیؐ سرورته
دَ دوجهانونازپرورته

وایه شپه ورځ دِ یادوومه
ماله دَجانان دَوطن حالونه راوړه
په بقیع وایه سلامونه
په مینه ئے اوکړه دیدنونه
دَ بقیع خاورے ښکلوومه
ماله دَجانان دَوطن حالونه راوړه
امیر حمزهؓ صاحب له ورشه
ورته په چغو چغو سرشه
دَاُحد غرنه هیروومه
ماله دَجانان دَوطن حالونه راوړه
سیفی لطیف الله په طمع
ناست په ریاض کښے دے دَدغمه
ریاض کښے عمر تیره وومه
ماله دَجانان دَوطن حالونه راوړه

## نعت شریف(۶۷)

ولاړ دِ یم جنګلو ته ځه ، اے زما دَزړه قرار
راکړه یو دیدن له راله ، ستادَ مینے یم بیمار
ستا دَ مینے یم بیمار



زړه مِ شو زخمی زخمی تاپسے کړیږمه ، تاپسے کړیږمه
ته مرهم مِ دَ زړګی ، تاپسے کړیږمه
درد مِ دَسینے سِوا سوزمه په سور انګار
راکړه یو دیدن له راله ، ستادَ مینے یم بیمار
تهول وجود بے کاره شو، ستامینے ځه کړم رنځور
تاپسے سرداره شو، رنګ مِ درپسے شو تور
بلے سرے لمبے په ما مخ کړه رانما یو وار
راکړه یو دیدن له راله ، ستادَ مینے یم بیمار
ګورمه جنګلوکښے ځه ، اوښکے بارانونه دی
ښکلو شنو پردوکښے ځه ، خواته دِ ګلونه دی
یوصدیقؓ اوبل عمرؓ، ګران دے ستاسو هریویار
راکړه یو دیدن له راله ،ستادَ مینے یم بیمار
ډیر اثر لرے والله ، شونډے ګلابی لرے
سترګے خمارے والله ، تهول په زړه زخمی لرے
سپین جبین روښان دے ستا، خیژی ترینه ډیرانوار
راکړه یو دیدن له راله ، ستادَ مینے یم بیمار
دی ولاړ په طمع ډیر ، خواته پتنګان نبیؐ
تاسو ته راجمع ډیر ، ښکلے عاشقان نبیؐ

هریو انتظارکوی ، غواړی درنه خوږدیدار
راکړه یو دیدن له راله ، ستادَ مینے یم بیمار
ځان بانده عاشق لرے ، دالطیف الله سیفی
دایو نالائق لرے ، ډك دے دَګناه نبیؐ
معاف ورله ګناه کړه ته ، نشته ئے بل یودربار
راکړه یو دیدن له راله ، ستادَ مینے یم بیمار

## نعت شریف(۶۸)

راغلے دِروضے له یم دشمس قمرنه سپینه
زما دَ زړه قرار
جنګلو سره ولاړیم راښکاره کړه سپین رخسار
راغلے دِ روضے له

(۱)

ارمان دِ دَدیدارکووم محبوبه دمودو
دَډیروخت نه راغلے دلته یم په شب ګیرو
په تیتوسترګوراشم نظراوکړم په جنګلو
چه کله به ښکاره کړے سپین رخساردَشنوپردو
هریوعاشق دِ ارمانی دے ستاسودلیدو
داستادواليل زلفودچشمانوخمارو



سلام درته کوی په مینه ځی بیاپه رورو
دَهریوزړګے سوے دهجران په سرولمبو
بادشاه دے که ګدادے ولاړدے په اسویلو
هم اوښکے ئے راځاځی ژاړی تاته په سلګو
لاسونه ئے پورته کړی پاك الله ته په زارو
بخشش ستاپه مخ غواړی پاك الله ته په توبو
نو راغلے دِ روضے له یم دَ شمس قمرنه سپینه
زما دَ زړه قرار

(۲)

داستا دَمخ په شمع باندِ سوزی پتنګان
موسم پکښے بهاروی تازه تل وی ګلستان
مالیاره ځان سره لرے خائسته ښکلی ګلان
یاران څلورلرے صدیقؓ عمرؓ علیؓ عثمانؓ
پتاسوتول مئین وؤستاپه ښکلی دین قربان
داستا پشان پیدا به نشی بل چرته جانان
که اوګوری په یوخپه باندے ثوك داټول جهان
په خپله دے مئین پتا الله غنی سبحان
صفت دے ځائے په ځائے کړے الله پاك په قرآن

دا واړه کائنات کړه الله ستا په مخ عیان
داځکه ورته ئے محبوبهٔ هرچانه ډیرګران
نظر دَ کرم اوکړه لږ په ماشه مهربان
راغلے دِ روضے له یم دشمس قمرنه سپینه
ځـــمـــا دَ زړه قـــرار
جنګلو سره ولاړ یم راښکاره کړه سپین رخسار
راغــلــے دِ روضــے لـــه

(۳)

رخصت چه درنه اخلمه محبوبهٔ په ژړایم
روان په روستو روستوګورم لاس اوچت په دُعایم
دُعاکړم دَ راتللو دوباره په تمنا یم
دِشین ګنبد اولورو مناروته ولاړ ستایم
راځم چه دِحرم ته والله ډیرمئین پتایم
معاف راله ګناه کړه والله څه ډك دَ ګناه یم
دالوئے احسان دَرب دے چه څه ستاپه مخ شیدایم
په الصلوٰة والسلام حرم پاك کښے ګویایم
په مینه دِ لیکم صفت عاشق دِ په ربتیایم
داستاپه مینه مست څه لیونے سرپه سودایم



خاص کلے چکدره آدم ډهیرئ کښے څه پیدایم
په خپل نوم باندِ یاد ګُله سیفی لطیف الله یم
راغلے دِ روضے له یم دشمس قمرنه سپینه
زمـــا دَ زړه قـــرار
جنګلو سره ولاړ یم راښکاره کړه سپین رخسار
راغــلــے دِ روضــے لـــه

**نعت شریف**(۶۹)

داستاسوفراقت کښے مِ زړګے شولوپرهر
په خواکښے دِ ولاړ یم راته اوکړه یونظر
دا ستاسوفراقت کښے په سینه باندے زخمی یم
دیدن ته دِ په طمع یمه بے اوره ستی یم
پردو دننه کړه رخسار دِښکلے رابهر
په خواکښے دِ ولاړ یم راته اوکړه یونظر
داستادَ مخ په شمع باندے تول عُشاق سوزیږی
رنړا دِ دَ رخسار ده چه تمام جهان ځلیږی
سماء کښے پتوی ځان که آفتاب دے که قمر
په خواکښے دِ ولاړ یم راته اوکړه یونظر
دَ مینے شربت غواړم په دیدن مِ کړه سیراب

دَښکلے والضحٰی رخسار نه لرے کړه حجاب
زاری درته کوومه یانبیؐ خیرالبشر
په خواکښے دِ ولاړ یم راته اوکړه یونظر

دَ زړه په آئینه کښے مِ ګلابه ئے موجود
سوزیږی درپسے ځکه ځماتمام وجود
طبیب مِ دَ زړګی ئے هم مرهم مِ دَځیګر
په خواکښے دِ ولاړ یم راته اوکړه یونظر

هر چالره دوائے اے نبیؐ خیرالابراره
جوړیږی ستاسو خواته که دَ عمروی بیماره
محبوبهؐ دَهریوعاشق بیمار نه ئے خبر
په خواکښے دِ ولاړ یم راته اوکړه یونظر

په خواکښے لرے ښکلے نازولی دوه ګلونه
صدیقؓ دِکه عمرؓ په خواکښے ستاکوی خوبونه
دَمینے په ګلشن کښے لرے دانبیؐ سرور
په خواکښے دِ ولاړ یم راته اوکړه یونظر

سیفی لطیف الله له دیدن ورکړه رب دَپاره
حجاب دِ ورته لرے کړه دَښکلی سپین رُخساره
خالی نه پریدے اے ګلابه هیڅوك دَ خپل در



په خواکښے دِ ولاړ یم راته اوکړه یونظر

## نعت شریف (۷۰)

محبوبه مبارکه ،، یودَمینے نظراوکه
یودَ مینے نظراوکه ډیرراته یادیږے
یارسول اللهؐ والله کله مِ هیریږے

ستاښکلی نظرته په حرم کښے زندګی تیروم
ستادمینے درد محبوبه ځه په خپل زړګی تیروم
ګرانه قدردانه ،، اے خوږه جانانه
ته لکه شبنم مِ په زړه هروخت راویږے
یارسول اللهؐ والله کله مِ هیریږے

زړه درپسے غوځ سینه کښے دِ محبوبه زار شم
یوځل دیدن راکړه څه لوګے دِدَ رخسار شم
دادرته سوالونه کړم ،،ګوره منتونه کړم
ستاسونه پټ نه دی په هرباندے پوهیږے
یارسول اللهؐ والله کله مِ هیریږے

بل دَ مینے اُوردِ په حرم کښے لګولے دے
ډیرپه اُمیدونودرله هرعاشق راغلے دے
تاسوته ژړاکوی ،، لاس پورته دُعاکوی

مینه تاسره کوی هریو درنه زاریږے
یارسول اللّٰہؐ والله کله م هیریږے
یو ځلے رخسار ورته ښکاره دَشنے پردے نه کړه
ختم ئے دعمرغم دښکلے شنے روضے نه کړه
داډیرغټ ارمان لری ،، تاسو خوږجانان لری
هغه دِرب اونه کړی چه تهٔ پرے خفه کیږے
یارسول اللّٰہؐ والله کله م هیریږے
سیفی لطیف الله له دیدن ورکړه رب دپاره
لرے کړه پردے ورته یو ځل دسپین رخساره
ختم ئے غمونه کړه ،، لرے ئے سوچونه کړه
ته ئے یو جانان ئے چه په زړهٔ کښے اوسیږے
یارسول الله والله کله م هیریږے

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (۷۱)

تهٔ پکښے اُوسے ډیرحسین مدینه ښاردے ګُله
سپین دے رُخساردے ګُله دَ نمرنه زیات
ستاپه انوارومدینه ښکلے ده
شین دِ ګنبدشنه دِ روضه ښکلے ده



ستاد وطن هره کوڅه ښکلے ده
ګلونه اُوسی پکښے ډیرښکلے ګلزار دے ګُله
سپین دے رُخساردے ګُله دَ نمرنه زیات
ستاسو دیدن پسے ستی ګلابه
په مینه تول عُشاق درځی ګلابه
ستادَ رُخساردی ارمانی ګلابه
جنګلو دننه دے خاسته مخ حُسندار دے ګُله
سپین دے رُخساردے ګُله دَ نمرنه زیات
درپسے وختِ کړیږمه ځه
ستاپه دیدن پسے ژړیږمه ځه
بے اُوره تاپسے سوزیږمه ځه
بے لتاژوندراته وطن کښے سورانګاردے ګُله
سپین دے رُخساردے ګُله دَ نمرنه زیات
دهجران غم م نه کمیږی
چه ستا حرم راته یادیږی
اُوښکے م ستا په مخ بهیږی
تازه م ستا پسے دخوږ زړګی پرهاردے ګُله
سپین دے رُخساردے ګُله دَ نمرنه زیات

کاش مدینه کښې اُوسیدلې
ستاسوسلام له تلې راتللې
هروخت مِ ستا دیدن کولې
که شي قسمت مِ رابیدارډیرانتظاردےګُله
سپین دےرُخساردےګُله دَ نمرنه زیات

لطیف الله سیفی یم ګرانه
ګُله په ماشه مهربانه
زندګی ده بې لتاګرانه
راکړه دیدن ارمانی ډیرډِ دَدیداردےګُله
سپین دےرُخساردےګُله دَ نمرنه زیات

❁❁❁❁❁

## نعت شریف(۷۲)

کاش اُوکړم چه دی دارګُله داستادَشنې روضې
مرهم مِ دَزړګی ئې هم ارام مِ دَسینې

دَزړه دَتَلَ نه وایم چه عاشق ډِ په رښتیایم
دَډیرے مودے راسې په قلم شبه ګویایم
دیدن ته تیروومه ګُله ستاسوروځے شپې
مرهم مِ دَزړګی ئې هم ارام مِ دَسینې



تصویرمِ په زړه لیك دے ستادخوږوطن جانانه
والله چه بې لتانه زندګی ده ډیره ګرانه
سلام به درته کله کرم په نوراني جنګلے
مرهم مِ دَزړګی ئې هم ارام مِ دَسینې

دَ مینے دردمِ پروت دے په سینه کښې دموودونه
زاریږمه لتانه دَیارانو دَ روضونه
ګلشن ښکلے ښکاریږی دَجنت دباغیچے
مرهم مِ دَزړګی ئې هم ارام مِ دَسینې

داستادَخوږے غیږے مُدّعا لرم سینه کښې
په خواکښې چه ډِناست وے په ډِ ښکلے مدینه کښې
والله چه بې لتانه یم عجم کښې بې آسرے
مرهم مِ دَزړګی ئې هم ارام مِ دَسینې

دَشین ګنبدنه زارشم په انوارباندے ځلیږی
سکون ئے په کتوکښې ډیرزړګی ته میلاویږی
په خواکښې لری ښکلے ځلیدونکے منارے
مرهم مِ دَزړګی ئې هم ارام مِ دَسینې

سیفی لطیف الله په مینه ستانه قربانیږی
بیا اُوغواړه مِ ځان ته زړګے کله مِ صبریږی

هم نشته راته بے لتانه بل زړه ته نزدے
مرهم مِ دَزړګی ئے هم ارام مِ دَسینے

❁❁❁❁❁

## نعت شریف(۷۳)

آرام سکون پکښے دے مدینے له راشه راشه
دیدن ته دَجانان ښکلے روضے له راشه راشه

دَ زړونو صفائی راولی داسے خوږجانان دے
مرهم دَ سوے زړه او هم دَ سوے زړه درمان دے
یوځلے دباب السلام کوځے له راشه راشه
دیدن ته دَجانان ښکلے روضے له راشه راشه

که اُودریدے جنګلوته دَجانان محترم
مرهم به دِ شی پورے په زخمی زړګی مرهم
فیضونه ترے بهیږی دِچینے له راشه راشه
دیدن ته دَجانان ښکلے روضے له راشه راشه

اسودقلب به دِصاف شی دمحبوب په یونظر
خمارو سترګوکښے لری جانان دومره اثر
وسیع چه لری صدر دِ سینے له راشه راشه
دیدن ته دَجانان ښکلے روضے له راشه راشه



که اودِکړو یوځل دَ مدینے ښکلے دیدار
انکارنه به شی خلاص حیات به شی ګُلِ ګلزار
یوځلے خودِ نورانی جنګلے له راشه راشه
دیدن ته دَجانان ښکلے روضے له راشه راشه

مجروح قلبونه جوړکړے دَرُخسارنه دِ زاریږم
عُسرت کښے مِ حیات دے په عجم کښے چه اوسیږم
نوعرب له دَخپل جانان چهرے له راشه راشه
دیدن ته دَجانان ښکلے روضے له راشه راشه

سیفی لطیف الله دَ عندلیب غوندے چغارکړی
محبوبه ارمانونه دَسپین ښکلے رُخسارکړی
نودَشین ګنبدپه خواکښے منارے له راشه راشه
دیدن ته دَجانان ښکلے روضے له راشه راشه

## نعت شریف(۷۳)

لرے شی غمونه خوندستاخواته اُوسیدوکښے دے
خومره چه دَ زړه آرام ستانورانی جنګلوکښے دے

ستاخواکښے ولاړدی ډیرپه مینه ژړیدل کوی
ګوره عاشقان دَجنګلوخواکښے اوسیدل کوی
سترګے شی روښانه آثرډیرپه شنوپردوکښے دے

خومره چه دَ زړه آرام ستانوراني جنګلو کښـے دے
تـه ورتـه پـه میـنـه میـنـه ګـورے دَ روضـے نـه
سترګـے بـه خـنـګ واړه وی ستانوراني چهرے نه
نـوراني رخسـارلرے کشـش دِ پـه کتو کښـے دے
خومره چه دَ زړه آرام ستانوراني جنګلو کښـے دے
خومره خـائسـتـه ئـے چـه راکاږے زړونـه ځانته
نشی رسیدے محبوبه هیڅوك ستاسوشانته
هـریـو دِ دَ خـوانـه وتـے دیـرپـه ژړیدو کښـے
خومره چه دَ زړه آرام ستانوراني جنګلو کښـے دے
ځـه عـجـب رونـق دِشیـن ګـنبداومـناره کوی
تـه پـکښـے اوسیږے ځـلا هریوه کوځـه کوی
دلته کښے باران دَ رحمت هروخت وریدو کښـے دے
خومره چه دَ زړه آرام ستانوراني جنګلو کښـے دے
ورشـے چـه بقیـع تـه پاك حضرت عثمانؓ اوسیږی
تـول اصـحـابان دی لـکـه ستـوری چـه ځلیږی
زړه ځـانـتـه راکـاږی اثرډیرډِ مقبرو کښـے دے
خومره چه دَ زړه آرام ستانوراني جنګلو کښـے دے
سیـفـی لـطیف الله دِ یـو عـاشق دے دپخـوانـه



تـه ئـے ورتـه ګـران مـحـبوبـه واوره دَ هر چـانـه
ستادَ وِصال طمع کړی دیروخت نه په ارزو کښـے دے
خومره چه دَ زړه آرام ستانوراني جنګلو کښـے دے

❁❁❁❁❁

## نعت شريف (٧٤)

ښکلـے مدینـه لرے انوارترینه راځینه
لس منارے ښـکلـے په هرخوا رڼرا کوینه
ډیـره حُسـنـداره مـدیـنـه مـنـوره ده
مخ لری پردو کښـے پټ پکښـے ښکلـے چهره ده
شمـع ده بلیـږی پتـنـګـان پرے ځان سیزینه
لـس مـنـارے ښـکـلـے پـه خـوارنړا کـوینـه
نمرترینـه شرمیږی داسے نوراني رخساردے
غیـره کښے خـواړه لـری صدیقؓ اوعمرؓ یاردے
بره پـه سماء کښـے تـرے اافتاب ځان پټوینه
لـس مـنـارے ښکلـے پـه خوارنړا کـوینـه
راشـی دَ دیـدن تـړی سیـرابـه پـه دیدارشی
ډکـے جـولـئ یـوسی منورپـه ښکلی ښارشی
وی دَدیدن تـړی ستاشراب پـه مینـه څکینـه

لـس مـنـارے ښکلـے پـه خوارنړا کـویـنـه

جمے غفیرجوړ دے مجمع الانوارته ګوره
هرعاشق راغلے په اُمیدِخپله ګوره
مال وسر محبوبه تهول پتاقربانه وینه
لـس مـنـارے ښکلـے پـه خوارنړا کـویـنـه

ته ورله دمینے شراب ورکړے په پیالوکښے
خواته دِ ولاړ دی درته ګوری په جالوکښے
تهول په مینه دی ولاړ کوی درسره مینه
لـس مـنـارے ښکلـے پـه خوارنړا کـویـنـه

سیفی لطیف الله دَاغیاردلته څه پرواکوی
ګوری په جنګلوکښے دَجانان خپل ننداره کوی
څومره خادمان چه ئے جنګلے ته ولاړدینه
لـس مـنـارے ښکلـے پـه خوارنړا کـویـنـه

## نعت شریف(۷۵)

اے په ناموسِ رسالتؐ باندے قربان عاشقه
رسئ که تینګه دَحدیث اودَ قرآن عاشقه

وَجهُ الجمیل زیبامحبوبؐ نه قربانیږه همیش
دَدِ باطل سره په حق ویناجنګیږه همیش



هریومشکل به کړی الله پتاآسان عاشقه
رسئ که تینګه دَحدیث اودَ قرآن عاشقه

دَپاك رسولؐ نه دِ زاریږه مدینه کښے چه دے
په محبت کښے ئے ژړیږه شنه روضه کښے چه دے
دَ دوی قدم باندِ قدمږده قدردان عاشقه
رسئ که تینګه دَحدیث اودَ قرآن عاشقه

فداك روحی یامحمدؐ دَالله دے محبوبؐ
دَ تهول عالم دَپاره ښکلے رهنمادے محبوبؐ
مخ ئے زیبا بدرِمنیرلری روښان عاشقه
رسئ که تینګه دَحدیث اودَ قرآن عاشقه

ژوندون هغه دے چه شی تیردَپاك رسولؐ په غیرت
دَجانان مینه کښے دِنه کړی تَحمّل په غیرت
چه ګستاخی کړی ختموه دغه انسان عاشقه
رسئ که تینګه دَحدیث اودَ قرآن عاشقه

چه سراوچت ئے په محشرکښے دَحضورؐ دَ وړاندے
چه شفاعت درله کوی دَپاك غفوردَ وړاندے
یوسه تحفه ځان سره ته دَخوږ ایمان عاشقه
رسئ که تینګه دَحدیث اودَ قرآن عاشقه

لطیف الله سیفي په یارسول اللهؐ قربان دے
که په چابدلګی همیش په دِ ندا قربان دے
لوګے دَیارسول اللهؐ نه مِ خپل ځان عاشقه
رسئ که تینګه دَحدیث اودَ قرآن عاشقه

## نعت شریف(۷۶)

ډیرسکون دے پروت په شنه روضه کښے دے
شین ګنبد اولوړه مناره کښے دے
اے دَرب حبیبهٔ درنه زارشمه ،، تکرار
ستاسو په دِ نوراني جنګله کښے دے
شین ګنبد اولوړه مناره کښے دے
رش دے په باب السلام دمینے ډیر،، تکرار
هرعاشق ولاړ دِ په کوځه کښے دے
شین ګنبد اولوړه مناره کښے دے
خواته دوه یاران لرے دَمینے ته ،،تکرار
درد دَمینے ډیردَ دوی سینه کښے دے
شین ګنبد اولوړه مناره کښے دے
نه راځي خزان همیشه وی بهار ،،تکرار
تل موسم بهارپه مدینه کښے دے



شین ګنبد اولوړه مناره کښے دے
ځي چه عاشقان وی په ژړا کُله ،،تکرار
هریودِ فیضیابه په چینه کښے دے
شین ګنبد اولوړه مناره کښے دے
زارږدِ دَمحراب اودَممبرنه ځه ،،تکرار
خوند ډیردَبلالؓ آذان خانه کښے دے
شین ګنبد اولوړه مناره کښے دے
ستادنیٰ غلام لطیف الله سیفي ،،تکرار
ریاض الجنت دِباغیچه کښے دے
شین ګنبد اولوړه مناره کښے دے

❁❁❁❁❁

## نعت شریف(۷۷)

نسیمه اووایه دلبرته، حال مِ جانان ته په رو رو
دَمدینے نبیؐ سرورته، حال مِ جانان ته په رو رو
په زړه زخمی وریسے ژاړی
ستاسو رُخسارمحبوبه غواړی
یوځل ئے اوغواړه خپل درته ، حال مِ جانان ته په رو رو
دَمدینے نبیؐ سرورته، حال مِ جانان ته په رو رو

عاجز بنده کړی فریادونه
غواړی دِ ګُلله دیدنونه
طمع کوی ستاسو نظرته ،حال مِ جانان ته په رو رو
دَمدینے نبیؐ سرورته،حال مِ جانان ته په رو رو

درپسے هروختے ژړیږی
دَسپین جمال نه دِ زاریږی
اُوئے ګوره زړګی پرهرته،حال مِ جانان ته په رو رو
دَمدینے نبیؐ سرورته،حال مِ جانان ته په رو رو

په اُمیدتیره ئے زندګی کړه
سینه ئے ستاعِشق کښے زخمی کړه
مرهم ئے ته زخمی ځیګرته،حال مِ جانان ته په رو رو
دَمدینے نبیؐ سرورته،حال مِ جانان ته په رو رو

ژوند تیره وی بے لتاګران
هریو مشکل ئے کړه آسان
ئے دَزړګی نه مِ خبرته ،حال مِ جانان ته په رو رو
دَمدینے نبیؐ سرورته،حال مِ جانان ته په رو رو

تنګ دے عجم کښے دَ غماز
ځکه کوی دَ سوز آواز



ښکلے حسین محراب ممبرته ،حال مِ جانان ته په رو رو
دَمدینے نبیؐ سرورته،حال مِ جانان ته په رو رو

په طمع ناست چه دَ مودودے
ډیر ارمانی دِ دَ لیدو دے
لطیف الله سیفی نمبرته ،حال مِ جانان ته په رو رو
دَمدینے نبیؐ سرورته،حال مِ جانان ته په رو رو

## نعت شریف(۷۸)

فیض ډیر راوریږی مدینه باندے
سترګے مِ رنړا شوے په روضه باندے

شین ګنبد ته زۀ ئے باربار ګورمه،،تکرار
لړی مِ والله خوږ په سینه باندے
سترګے مِ رنړا شوے په روضه باندے

خواته درسره دی منارے لوړے،، تکرار
ښکاری دَ آسمان په کناره باندے
سترګے مِ رنړا شوے په روضه باندے

ګرځمه کوځو دَمدینے کښے زۀ،،تکرار
اړدم قدم کوځو کښے په مزه باندے
سترګے مِ رنړا شوے په روضه باندے

وی ښکلے موسم پکښے زړګے خوشحال ،،تکرار
نۀ راځی خفګان په یوذره باندے
سترګے مِ رنړا شوے په روضه باندے

دا چه عاشقان خپے ابله خپے ګرځی ،، تکرار
عشق کښے سوے دغه علاقه باندے
سترګے مِ رنړا شوے په روضه باندے

ولے به دَ سوزه پکښے نه ګرځم،،تکرار
ځان ئے زاروم هره کوځه باندے
سترګے مِ رنړا شوے په روضه باندے

کړمه دَ بلبل پشان ځه چغار،، تکرار
دغه دَجنت دِ باغیچه باندے
سترګے مِ رنړا شوے په روضه باندے

زۀ لطیف الله سیفی کړم شکرډیر،،تکرار
اُمید لرمه ستاپه وسیله باندے
سترګے مِ رنړا شوے په روضه باندے

## نعت شریف(۷۹)

اُومِ غواړه ځانته درپسے یم ناقراره
ستاښکلے دیدن له به درځم نبیؐ سرداره



ځه اوکړمه لړے رانه ګُله ستاسو کلے دے
ستا مینه لرم سینه کښے زړه مِ سوزیدلے دے
اوکړه یو نظر دَمینے هاشمی نامداره
ستاښکلے دیدن له به درځم نبیؐ سرداره

ئے مرهم دَ زخم بے لتاکله رغیږم
ستاښکلے دیدن له به درځم کله صبریږم
ځان ته مِ نزدے کړه اے نبیؐ خیرالابراره
ستاښکلے دیدن له به درځم نبیؐ سرداره

رب دِکړوښکاره په سپین رُخسار باندے جهان نبیؐ
سترګے خمارے لرے هم والیل دِ زلفان نبیؐ
عرش هم دے ښُکل کړے قدم ستاسودَ پیزاره
ستاښکلے دیدن له به درځم نبیؐ سرداره

نشته خوږ والله بل په دُنیا کښے ستاپشان نبیؐ
مینه درسره کووم دهرچانه ئے ګران نبیؐ
تاسوالونه کړے دَ مولیٰ نه مونږ دَپاره
ستاښکلے دیدن له به درځم نبیؐ سرداره

ډیروخت نه ارزو دِ ګُله ځه دَمدینے کووم
تاباندے عاشق یمه داستا دَ شنے روضے کووم

اُوښایه دِ ماته نوراني ښکلے رُخساره
ستاښکلے دیدن له به درځم نبیؐ سرداره
مینه کښے ژړیږم دِ سیفی لطیف الله یمه
اوکړه یونظردَمینے ډیرمئین پتایمه
ستاسومحبت کښے لرم څه سینه پرهاره
ستاښکلے دیدن له به درځم نبیؐ سرداره

## نعت شریف(۷۹)

تاکښے محبوبؐ اُوسی په مینه چه راځینه
مدینے لتازارشم په مینه مینه

اوځلیدے په سپین جمال
تاکښے اُوسیږی باکمال
تاکښے پراته مِ دی دَسوے زړه اَهونه
مدینے لتازارشم په مینه مینه

یادپه یٰسین اوپه طٰهٰ ئے
په خپل کلام کښے پاك الله ئے
رب دِ په خپله کوی ډیر ډیرتعریفونه
مدینے لتازارشم په مینه مینه

نفسی نفسی به وئ نبیان



هریوپه غم به وی دَځان
رسول الله به مِ الله ته کړی سوالونه
مدینے لتازارشم په مینه مینه

ګنبددِ ښکلے راښکاره شو
هریوعاشق په ننداره شو
ترے راوریږی دَ انواروبارانونه
مدینے لتازارشم په مینه مینه

شکر بیدارم شونصیب
نظرمِ وودَ خوږِ حبیبؐ
دَنازه اخلوپه کوخوکښے قدمونه
مدینے لتازارشم په مینه مینه

تصویربه ستاوو په سینه کښے
اوس به سیراب شو په چینه کښے
اُوس به دَ ښکلی جانان اوکړو زیارتونه
مدینے لتازارشم په مینه مینه

لطیف الله سیفی ترے زاردے
محبوبهؐ ستاسوښکلے ښاردے
دَخوشحالئ نه مِ سینه وهی موجونه

مدینے لتازارشم پہ مینہ مینہ

## نعت شریف(۸۰)

داچہ بے اُورہ سوزیرم ، ګُلہ ستادَمینے زوردے
بے دیدنہ چہ کړیرم ، دَ ژوندون حالت م نوردے
دہ تیرہ ازغوپہ مینځ کښے پہ عجم کښے زندګی دہ
تول ګُلان دی ستاسوخواکښے ، باغ پتاباندے سمسوردے
بے دیدنہ چہ کړیرم ، دَ ژوندون حالت م نوردے
تږے یمہ دَوِصال لږ شربت دَمینے راکړہ
تہ دریاب غوندے بهیږے، زما ژوندبے لتاأوردے
بے دیدنہ چہ کړیرم ، دَ ژوندون حالت م نوردے
سپین رخسارعنبری زلفے ، پہ اُوګودِ راخورے دی
ستا دَزلفوپہ هرتارکښے ، یم بندی دغہ م کوردے
بے دیدنہ چہ کړیرم ، دَ ژوندون حالت م نوردے
ښکلے سترګے بے رنجونہ ، قدرتی پہ رنجوتورے
خځ مژګان م پہ سینہ کښے زخم جوړپہ هریولوردے
بے دیدنہ چہ کړیرم ، دَ ژوندون حالت م نوردے
چہ داستاسرہ کړی بُغض ، زړہ بہ ئے عمرلہ کندہ وی
صفا نہ بہ شی هیچرے ازلی بدبختہ توردے



بے دیدنہ چہ کړیرم ، دَ ژوندون حالت م نوردے
داچہ هروختے پہ مینہ ، درځی ښکلے مدینے تہ
داسیفی لطیف اللہ دے ، پہ دُعادَخپلے موردے
بے دیدنہ چہ کړیرم ، دَ ژوندون حالت م نوردے

## نعت شریف(۸۱)

دَنمرنہ زیات ځلیږی ښکلے شنے پردے تہ ګورہ
عاشقہ پہ جنګلو کښے دَجانان روضے تہ ګورہ
لورایہ چہ ښکارہ شوہ خومرہ ښکلے دروازہ دہ
رو رو قدم پرے کیدہ باب السلام کوځے تہ ګورہ
عاشقہ پہ جنګلو کښے دَجانان روضے تہ ګورہ
دایوصدیقؓ اکبردے بل فاروقؓ اعظم ګران
یارانو سرہ خواکښے درحمت شیبے تہ ګورہ
عاشقہ پہ جنګلو کښے دَجانان روضے تہ ګورہ
دا سترګے پہ ادب پورتہ کوہ دلتہ جانان دے
خپل لاس پہ نامہ کیدہ دادب لمحے تہ ګورہ
عاشقہ پہ جنګلو کښے دَجانان روضے تہ ګورہ
لورایہ چہ ځلیږی شین ګنبد سرہ پہ خواکښے
دہ لوړہ منارہ رڼاکوی جلوے تہ ګورہ

عاشقه په جنګلو کښې دَجانان روضې ته ګوره
شی سترګې منورې چه جانان ته پرې نظرشی
په زړه یودم رنړاشی تختی بیاتیرې ته ګوره
عاشقه په جنګلو کښې دَجانان روضې ته ګوره
سیفی لطیف الله په ادب ګوره مخامخ
درود او سلام وایه نورانی چهرې ته ګوره
عاشقه په جنګلو کښې دَجانان روضې ته ګوره

## نعت شریف(۸۲)

رحمة العالمین ،، راحة اللعاشقین
پاك الله درکړې درله شان دې ګُله ډیراعلیٰ
مونږ درته لبیك لبیك وایو یارسول الله ﷺ
لَا اِلَـهَ اِلَّااللّٰه پسې ګوره نوم ستادې
صرف ذبح کښې الله نه ستاسونوم جُدادې
وینې نه تویږ ستاپه خوږ اِسم باندې پاك الله
مونږ درته لبیك لبیك وایو یارسول الله ﷺ
تاحیات نبی ګنړوز مونږ داعقیده ده
ستاپه نوم هرڅه غواړورب ته ستامووسیله ده
شتاپه لارروان چه وی جوړیږی ترې ولی الله



مونږ درته لبیك لبیك وایو یارسول الله ﷺ
څنګه اُمتی دې چه دَیانه نافرمان دې
یَارسول الله باندې خو هرعاشق قربان دې
وابه ترې نه نورږم که تنې نه مِ شی سرجُدا
مونږ درته لبیك لبیك وایو یارسول الله ﷺ
تاباندې الله مئین دې دومره مرتبه لرې
سُبحن الذی اَسرَیٰ دقرآن آیات ښکاره ده
بل نبی دیدارله نه دې تلې ماسِوالتا
مونږ درته لبیك لبیك وایو یارسول الله ﷺ
ستاسووسیلې نه چه منکروی جاهلان دی
رونړو دَ شیطان دی په غلطه لار روان دی
شفیع به په محشرکښې دَ هرچائې یاحبیب الله ﷺ
مونږ درته لبیك لبیك وایو یارسول الله ﷺ
یوځلې رخسارورته ښکاره کړه رب دَپاره
هروختې راځی حرم ته ګُله ستادَپاره
تاباندې مئین دې دَ مودوسیفی لطیف الله
مونږ درته لبیك لبیك وایو یارسول الله ﷺ

## نعت شریف(۸۳)

نن يمه روان محبوبه ستاله پاك حرمه
تيرے شولے ورځے دَديدن په طمع طمع
ځه يمه روان محبوبه راکړه اجازت ماله
آخرى ديدن ته دِ ولاړ يمه رخصت ماله
لوندمِ تهول گريوان شوترمے اُوښکے ځي له غمه
تيرے شولے ورځے دَديدن په طمع طمع
روان يم شنے روضے نه دِمنهِ ورځے تيرے شوے
سخته دَهجران ده په زړگی مِ چپے ډيرے شوے
لس پنځلس منته پس به ستاسوخوانه ځمه
تيرے شولے ورځے دَديدن په طمع طمع
نه مِ اوچتيږى قدم ستاښکلے روضے نه زار
اے محبوبه ځان مِ نه کړوزارستادَجنگلے نه زار
ځکه مِ فريادخيژى روضے سره دفمه
تيرے شولے ورځے دَديدن په طمع طمع
ماوئيل سينه به اُولگومه دَجنگلوسره
چه شى به دَفيوضوډکه دِښکلے چينے سره
خواته نزدے نه پريدى نجديان ولاړپه جمع
تيرے شولے ورځے دَديدن په طمع طمع



يمه ډيرخفه چه اسم بياکله ديدارله دے
ښکلے شين گنبدله ورسره دِلوړمينارله دے
خدائے مودِ نصيب کړى دَ راتللو بياورځ سَمه
تيرے شولے ورځے دَديدن په طمع طمع
ځه لطيف الله سيفى غلے راروان شومه
روستوروستوگورمه ډيرپه ويردځان شومه
پاتے شوے زمانه اے محبوبِ محترمه
تيرے شولے ورځے دَديدن په طمع طمع
نن يمه روان محبوبه ستاله پاك حرمه
تيرے شولے ورځے دَديدن په طمع طمع

❁❁❁❁❁

## نعت شریف (۸٤)

ستادَمينے په زندان کښے يم بندى خيرالبشر
خلاص مِ کړه دهره غمه راته اوکړه يونظر
چه دَ زلفودام کښے ستاکله بندى شومه محبوبهٌ
داسے اونختم په جال کښے چه وتے نشم بهر
خلاص مِ کړه دهره غمه راته اوکړه يونظر
رب خفه دِ نه کړه مانه ئے زما دَ زړه مرهم

مینے جوړ دِ کړو سینه کښے راله ډیر زخمی پرهر
خلاص مِ کړه دهره غمه راته اوکړه یو نظر
هجران ډیریمه زپلے لړ سینے ته مِ نزدے کړه
اُونغاره مِ ځان سره ګُله دَمینے په څادر
خلاص مِ کړه دهره غمه راته اوکړه یونظر
ئے راحت دَعاشقانو فقیرنه پریدے خالی
خوك خالی راغلے نه دی اے ګلابه ستادَ در
خلاص مِ کړه دهره غمه راته اوکړه یونظر
نشته داسے حرم چرته مدینه منوره ده
دَجنت نه خائسته دے لړی ډیر ښکلے منظر
خلاص مِ کړه دهره غمه راته اوکړه یونظر
ستانه زارمِ موراوپلار شه هم تمام بدن زما
دسیفی لطیف الله درنه قربان شه مال اوسر
خلاص مِ کړه دهره غمه راته اوکړه یونظر

## نعت شریف (۸۵)

دانمر ستوری سپوږمئ دِ مخ کتو ته حیران
رخسارنه دِ راخیژی دَ انواروباران
محبوبه په رخسار دِ اپردے ځکه پرتے دی



سپوږمئ درنه شرمیږی درته تول ګوته په خلے دی
ګوهر دِ شرمولے دی لعلونه اومرجان
رخسارنه دِ راخیژی دَ انواروباران
محبوبه تبسم باندے دے توره شپه رڼاشی
که وَرَکه دَ ګندلوستن وی هغه دم پیداشی
دادے دَعائشے ابئ ډیر ښکلے فرمان
رخسارنه دِ راخیژی دَ انواروباران
اُویسی قرنیؓ دے که بلالؓ په عاشقئ کښے
داغونه خوری سینه باندی په خپله زندګئ کښے
غاښونه ئے په مینه کښے کړه تانه قربان
رخسارنه دِ راخیژی دَ انواروباران
شوے شاړے دَکنعان لارے چه ستادَمخ رڼاشوه
یوسفؑ ئے شولو هیرتوله دُنیاپه تماشه شوه
تندی کښے ځلیدو دَیوسفؑ ستا دَنورنشان
رخسارنه دِ راخیژی دَ انواروباران
ستی ستی عُشّاق شو ګُله بے ستادَوِصاله
که چرے دِ ښکاره کړو ورته ښکلے سپین جماله
چه اوکړے ورته یونظر لرے تورچشمان

رخسارنه دِ راخیزی دَ انواروباران

سیفی لطیف الله له دیدن ورکړه رب دَپاره

داستاسو فراقت کښے دَمودودے ناقراره

بے لتائے نشته په دُنیابل جانان

رخسارنه دِ راخیزی دَ انواروباران

## نعت شریف (۸۶)

شین ګنبدنه لاندے، شین ګنبد نه لاندے

پاك نبیؐ سرداردے ورسره ښکلے یاران دی

شین ګنبد نه لاندے

اُوسی نبیؐ خیرالبشر

ورسره بل صدیقؓ عمرؓ

شین ګبندنه لاندے

دویٔ تهٔول داسلام په ښکلے دین باندے قربان دی

پاك نبیؐ سرداردے ورسره ښکلے یاران دی

شین ګنبد نه لاندے

کړے دَ دین ئی خدمتونه

ډیرئی تیرکړے تکلیفونه

شین ګنبد نه لاندے



اوس تشریف فرما ستاسو په خواکښے دا ګلان دی

پاك نبیؐ سرداردے ورسره ښکلے یاران دی

شین ګنبد نه لاندے

شو چه جهان پرے منور

عرب عجم پرے جلوه ګر

شین ګنبدنه لاندے

تهٔول شو ترے فیضیابه که ملك، جن اوانسان دی

پاك نبیؐ سرداردے ورسره ښکلے یاران دی

شین ګنبد نه لاندے

داپه ګلونو کښے بادشاه دے

عاشق پرے شاه هم پرے ګدا دے

شین ګنبد نه لاندے

تهٔول عُشاق ئے تورو زلفو دام کښے بندیوان دی

پاك نبیؐ سرداردے ورسره ښکلے یاران دی

شین ګنبد نه لاندے

جنګلے کوی ئی رِنړاکانے

پکښے پرتے دی درے هستیانے

شین ګنبد نه لاندے

ښکلے ځلیدونکی لکه ستوری دَ آسمان دی
پاك نبیؐ سردار دے ورسره ښکلے یاران دی
شین ګنبد نه لاندے
سیفی لطیف الله دُعا کړی
چه صفتونه دَ آقا کړی
شین ګنبد نه لاندے
داتول برکات مِ دَخواجه سیف الرحمنؒ دی
پاك نبیؐ سردار دے ورسره ښکلے یاران دی
شین ګنبد نه لاندے

❁❁❁❁❁

## نعت شریف(۸۷)

راکړه اجازت قربان شم
ستادَ روضے نه ځمه راکړه رخصتونه
قربان شم
نن به ځم ښکلے مدینے نه ، قربان شم
ځکه آرام مِ ځی سینے نه ، قربان شم
راکړه اجازت قربانشم
تازه به شی زما دَ سوے زړه حالونه ، قربان شم



ستادَ روضے نه ځمه راکړه رخصتونه
قربان شم
ستاپه دیدن کله مړیږم ، قربان شم
په خواکښے ستایمه ژړیږم ، قربان شم
راکړه اجازت قربان شم
پاتے زمانه به شی ستاسودیدونه، قربان شم
ستادَ روضے نه ځمه راکړه رخصتونه
قربان شم
اخلم یارانونه رخصت ، قربان شم
په ډیر مینه محبت ، قربان شم
راکړه اجازت قربان شم
آرام کوی درسره داښکلے ګلونه ،قربان شم
ستادَ روضے نه ځمه راکړه رخصتونه
قربان شم
په زړه سورے سورے به لاړم شم ، قربان شم
په تول وجود به ځه لتاړشم ، قربانشم
اجازت قربان شم
دومره خائسته ئے چه راکاږے ځانته زړونه

ستادَ روضے نه ځمه راکړه رخصتونه
قربان شم
جنګلو سره یم روانیږم، قربان شم
ډیرپه سلګو سلګوژړیږم ، قربان شم
راکړه اجازت قربان شم
په شا شاګورم ځی مِ خلے نه فریادونه
ستادَ روضے نه ځمه راکړه رخصتونه
قربان شم
لطیف اللہ سیفی بهرشو ، قربان شم
ستادَ کوځے دَښکلے ورشو، قربان شم
راکړه اجازت قربان شم
په ژوندکښے رابه کله شی داسے وختونه
ستادَ روضے نه ځمه راکړه رخصتونه
قربان شم

## نعت شریف(۸۸)

تاپسے مِ زړه ګله بیماردے
لرے رانه ستامدینه ښاردے
اے دَرب حبیبهٔ مادر اُوغواړه ، تکرار



روح مِ په سینه کښے ناقراردے
لرے رانه ستامدینه ښاردے
ستاخواته په مینه چه خوبونه کړی، تکرار
تاته ګران محبوبهٔ هریویاردے
لرے رانه ستامدینه ښاردے
درد مِ دَ سینے سِواشوتاپسے
بل پکښے دَهجر سورانګاردے
لرے رانه ستامدینه ښاردے
لرے نه راکاږی زړه رونق لری
شین ګنبدپه خواکښے شین مناردے
لرے رانه ستامدینه ښاردے
ډیردَبرکت نه ډك راغلے دی
هریو چه درغلے په دِلاردے
لرے رانه ستامدینه ښاردے
سیفی لطیف اللہ همیش کوی دُعا
ډیر زیات ارمانی دِ دَ دیداردے
لرے رانه ستامدینه ښاردے

## نعت شریف(۸۹)

يارسول اللهؐ وايم نوتاته ډيرګهنګاريم
مه چيرہ مادمحبوب مينه کښے ځه ډيرګرفتاريم
مينه مِ ډيره حقيقي ده وربه ئے نه کړم په دُنيا
ځه وربه ئے نه کړم په دُنيا
دَموراوپلارنه راته ګران عاشق په داسے يوياريم
مه چيرہ مادمحبوب مينه کښے ځه ډيرګرفتاريم
مخ دِ تك تورشه چه صلوة سلام کښے کړے خبرے ته
سلام کښے کړے خبرے ته
يَاايُّهَاالَّذِيْنَ آمَنُوْ صَلُّوْ په دِ لاريم
مه چيرہ مادمحبوب مينه کښے ځه ډيرګرفتاريم
دَيارسره خپله واسطه لرم پتا دے څه اُوربل
واوره پتا دے څه اُوربل
بغض دِلرے کړه دَزړه نه ستاپه سوچ کښے بيمايم
مه چيرہ مادمحبوب مينه کښے ځه ډيرګرفتاريم
الله پخپله پرے سلام وائی په قعده کښے وائے څه
ته په قعده کښے وائے څه
لرِ راته اووايه منكره كه بيا هم خطاكاريم
مه چيرہ مادمحبوب مينه کښے ځه ډيرګرفتاريم



كه نوم ښكلومه تعظيم كومه ښكارى تاته دالوئے شرك
والله چه ښكارى تاته شرك
تاكښے مِ كارنشته ماپريږده ځه لګياپه خپل كاريم
مه چيرہ مادمحبوب مينه کښے ځه ډيرګرفتاريم
سيفي لطيف الله لوګے چه ستادَزلفودهرتار
ستادَزلفودَهرتار
لرے چه ښكلے عنبرى زلفان مئين په هرتاريم
مه چيرہ مادمحبوب مينه کښے ځه ډيرګرفتاريم

## نعت شريف (۹۰)

يارسول اللهؐ لوګے شم،مدينه كښے دِزيارت دے
چه ولاړ دِيم په خواكښے،ګُله ستاسوعنايت دے
يارسول اللهؐ لوګے شم
داخوستاسولوئے كرم دے چه دِ راوستمه خواته
په جنګلو باندِ محبوبه تنده ډيره شوله ماته
كاش چه بياراشى په ژوندكښں،نن چه دلته كوم ساعت دے
چه ولاړ دِيم په خواكښے،ګُله ستاسوعنايت دے
يارسول الله لوګے شم
شاهان درنه قربان شه ستاسويونظركتونه
چه كوے نظردَمينے دغے ستركوخمارونه

کتل ستاښکلے چهرے ته والله دایوعبادت دے
چه ولاړ دِیم په خواکښے ،ګُله ستاسوعنایت دے
یارسول الله لوګے شم

پیتے راوړی دګناه لوئے ستا روضے لره ژړیږی
په اُمید راشی ستاخواله سوال ئے ستا درکښے قبلیږی
ته معاف ورته هرڅه کړے که دے ډك دَمعصیت دے
چه ولاړ دِیم په خواکښے ،ګُله ستاسوعنایت دے
یارسول الله لوګے شم

دَجنګلوسره رتی ئے عاشقان وی ډیرخاموشه
دیدن غوښے ئے سوزی ستاسومینه کښے دَجوشه
هرعاشق له دِورکړے دلته ډیرزیات قناعت دے
چه ولاړ دِیم په خواکښے ،ګُله ستاسوعنایت دے
یارسول الله لوګے شم

دَسیفی لطیف الله دَزخمی زړګی مرهم ئے
په تمام جهان کښے ګُله نازنین اومحترم ئے
نن چه یم ولاړ دِخواته لاس دُعاته مِ اوچت دے
چه ولاړ دِیم په خواکښے ،ګُله ستاسوعنایت دے
یارسول الله لوګے شم

## نعت شریف(۹۱)



دَرُدُونه دَجانان ، غمونه دَجانان
اُوردَمینے بل دے خپل زړګے مِ پرے سیزلے دے
دا مِ دَیارکلے دے،ګنبد چه ئے رنړاکوی

زړه مِ پرے بائیلے په جانان مدنی دے
نمرچه ترے شرمیږی سپین رخسارنورانی دے
پاس له منتهیٰ نه بره لامکان ته تلے دے
دامِ دَیارکلے دے،ګنبد چه ئے رنړاکوی

شولومزین په نُوردِعرش معلیٰ نبیؐ
بحرِکرم نُورِظُلم ئے په مدینه نبیؐ
افلاك ئے کړوښکل قدم پنړوسره ختلے دے
دا مِ دَیارکلے دے،ګنبد چه ئے رنړاکوی

دِل اوجان مِ دواړه په محبوب باندے فدا دی
څومره عاشقان چه دی محبوب باندِ شیدا دی
مال وسرعشاقوخپل محبوب باندے بائیلے دے
دا مِ دَیارکلے دے،ګنبد چه ئے رنړاکوی

زاردَعاشقانونه په مینه چه سلام کوی
شنے روضے ته ګوری خپل محبوب طرفته فام کوی
هریومدنی جانان په زړه باندے داغلے دے

دا مِ دَیارکلے دے،ګنبد چه ئے رنړاکوی
خواته چه اُوسیږی یاران ډیرپه الله ګران دی
دی صدیقؓ عمرؓ فاروق محبوب باندے قربان دی
مجمع الانوار سره هریوډیر نازولے دے
دا مِ دَیارکلے دے،ګنبد چه ئے رنړاکوی
سیفی لطیف الله کاش مدام دلته مدینه کښے وے
وئیلے مِ صلات سلام محبوب خواته جنګله کښے وے
دالری ارمان محبوبه تاله چه راغلے دے
دا مِ دَیارکلے دے،ګنبد چه ئے رنړاکوی

## نعت شریف(۹۲)

دَ ډیره مبارکه ، دَ ډیره مبارکه
ربیع الاول میاشت راغله سپرلے شروع شوځکه
محبوب پکښے پیدا دے دَانوارو نه ده ډکه
دَډیره مبارکه ، دَډیره مبارکه
محبوب راغے دُنیاته، مکے اُم القُریٰ ته
چه نمردَسماء راغے ، پاك کوردَعبداللهؓ ته
نوراغلے خادمانے ئے خدمت له دَفلکه
دَډیره مبارکه ، دَډیره مبارکه



سپرلے په جهان راغے ، دخوږ زړه درمان راغے
شوتهول بُتان ګزار، اجل دشیطان راغے
دَډیره غمه پریوتو شیطان لعین په زمکه
دَډیره مبارکه ، دَډیره مبارکه
دنیا شوله روښانه ، نبیؐ آخرزمانه
داستاسوبرکت دے، رنړا راغله هرخوانه
نو هرچادرباندے جوړه کړه ددین عقیده کلکه
دَډیره مبارکه ، دَډیره مبارکه
هرخوا راغے راحت ، دَدوی په برکت
دَشرك اړے شوے ختمے ، دَکفر جهالت
چه اوئے ځلیدو رخساردَګُلونه نازکه
دَډیره مبارکه ، دَډیره مبارکه
اُوسیږی مدینه کښے ، دَهرعاشق سینه کښے
الله مو ورله بوځه ، سیراب به شے چینه کښے
د ډیره مبارکه ده ډیره اوکه
دَډیره مبارکه ، دَډیره مبارکه
سیفی لطیف الله یم ، قلم ژبه ګویایم
په مدحه دَجانان کښے، چه شپه ورځے لګیایم

سینه لرم په عشق کښې دَجانانډَمینې ډکه
دَډیره مبارکه ، دَډیره مبارکه
محبوب پکښې پیدا دے، دانوارونه ده ډکه
دَډیره مبارکه ، دَډیره مبارکه

## نعت شریف(۹۳)

ډیرے معطرے دِ محبوبہؐ ښکلے لارے دی
یارسول اللہؐ کوځے دِ ډیرے خوشبودارے دی
ستاوجود اطهرپکښې دے پاکه مدینه لرے
ته پکښې موجود دے ځکه نورانی جنګله لرے
ښکلے قدرتی دِ په رنجوسترګے خمارے دی
یارسول اللہؐ کوځے دِ ډیرے خوشبودارے دی
نمر به څه رنړاکړی چه رخسارلرے حسینه ته
هم ورکیٔ رنړا دُنیاته ډیردنمرنه سپینه ده
نمر سپوږمیٔ په انوارته جلوه دارے دی
یارسول اللہؐ کوځے دِ ډیرے خوشبودارے دی
ډیر عجب منظروی چه بابُ السلام ته راشمه
سترګے مِ اُوچیږی کله تاته په ژړا شمه
ستاسوفراقت مِ جاری دِ اُوښکودارے دی



یارسول اللہؐ کوځے دِ ډیرے خوشبودارے دی
ته پکښې اُوسیږے ځکه زمکه ئے مبارکه ده
غوره په دُنیا ده والله داهم دَفلکه ده
زرو نه قیمة والله ستاسو دَ درخاورے دی
یارسول اللہؐ کوځے دِ ډیرے خوشبودارے دی
دومره اُوچت شان چه ملائك دِخادمان دی
ښکلے چه ځلیږی لکه ستوری دَآسمان دی
شین ګنبدلره لس منارے دِ مزیدارے دی
یارسول اللہؐ کوځے دِ ډیرے خوشبودارے دی
څه لطیف الله سیفی محبوبه مدینه کښې یم
تاسوله راغلے اے ګلابه ستاروضه کښې یم
دلته مِ تیریږی ورځے شپے ډیرے په لارے دی
یارسول اللہؐ کوځے دِ ډیرے خوشبودارے دی

## نعت شریف(۹٤)

محبوبہؐ عاشقان درله درځی تهول په خندا
دَ خوانه چه دِ ځی محبوبہؐ ډیر وی په ژړا
داستادمینے دردځان سره یوسی په سینه کښې
زړګے دلته خپل پریږی په دِښکلے مدینه کښې

نوکوی دراتلوستاسوخواته بیابیاتمنا
دَخوانه چه دِ ځی محبوبهؐ ډیر وی په ژړا

په زړه زخمی روان شی ګُله ستاښکلے روضے نه
په شا شادرته ګوری قدم نهٔ ئے ځی جنګلے نه
تیریږی لمدے سترګے دَبقیع په دروازه
دَخوانه چه دِ ځی محبوبهؐ ډیر وی په ژړا

دَ مینے یونظرباندے مِ خپل خوانه رخصت کړه
نزدے مِ لږ جنګلے ته ګُله ډیرپه محبت کړه
نونشته راته خوږ محبوبهؐ بل ثوك بے لتا
دَخوانه چه دِ ځی محبوبهؐ ډیر وی په ژړا

راکاږی مدینه منوره دِ زړنه ځانته
سترګے نه مړیږی په کتوګنبد روښان ته
نوډیرعجب منظر لری ستا هره مناره
دَخوانه چه دِ ځی محبوبهؐ ډیر وی په ژړا

واخست زجازت مِ مدینے منورے نه نن
زړه باندے سورے شومه ستانورانی جنګلے نه نن
نواوکړه یونظر دَمینے ډیریم بے نوا
دَخوانه چه دِ ځی محبوبهؐ ډیر وی په ژړا



ملګری راسره دی اشرف خان اوطاؤس خان
هم دغسے قاری اسرار، رسول خان اومختیارخان
هم دوی سره ملګرے دے قاضی ذبیح الله
دَخوانه چه دِ ځی محبوبهؐ ډیر وی په ژړا

راغلے دے روضے لره سیفی لطیف الله یم
ولاړ قاری هارون سره محبوبهؐ درکښے ستایم
هم دے راسره خواکښے بل قاری حبیب الله
دَخوانه چه دِ ځی محبوبهؐ ډیر وی په ژړا

## نعت شریف(۹۵) ربیع الاول شریف

دَربیع الاول میاشت کښ،ګُل پیدا شوپه په مکه کښے
خوشحالئ شوے هرطرف ته، بُتان پریوتل کعبه کښے
دربیع الاول میاشت کښے

خوشحالئ شوے په هرلور پاك حضورؐ راغے دُنیاته
دَکسرئ مانړی ښکاره شوے ډیردلرینه هرچاته
رحمتونه راخواره شو، هره لارهره کوڅه کښے
خوشحالئ شوے هرطرف ته، بُتان پریوتل کعبه کښے
دربیع الاول میاشت کښے

عزازیل دَ ډیره غمه نسکورپریوتوپه زمکه
غلبه دغم شوه زیاته په شیطان لعین بے شکه

دانــواوروبــاران راغــے ، پــه تــمــامــه عــلاقــه کښې
خوشحالئ شوے هرطرف ته، بُتان پریوتل کعبه کښې
دربیع الاول میاشت کښې
داسے کُل راغے دُنیاته ملائکې ئے خادمانے
هم خدمت ته ئے ولاړے جنتي ښکلے بیبیانے
دَ الله دے نازولے نورلرې ښکلے چهره کښې
خوشحالئ شوے هرطرف ته، بُتان پریوتل کعبه کښې
دربیع الاول میاشت کښې
حضورؐ دومره حسنداروو شو هریوترینه فیضیابه
چه لیدلو چارُخساربه ئے ځلنده وو له آفتابه
والله ډیرورته حیران وو، نمرسپوږمئ په تماشه کښې
خوشحالئ شوے هرطرف ته، بُتان پریوتل کعبه کښې
دربیع الاول میاشت کښې
رنځوران به جوړیدل محبوبؐ په یودیدار
چه پرده به ئے ورته لرکړه دَمحبوبؐ دسپین رخسار
عجیبه لبان به سره وولکه گُل وی باغیچه کښې
خوشحالئ شوے هرطرف ته، بُتان پریوتل کعبه کښې
دربیع الاول میاشت کښې
دَسیفي لطیف الله دَزړگی مرهم جانان دے
دموړپلاراو دَدُنیانه والله هرچانه ډیرگران دے
څه عاشق پرے دموودیم محبت لرم سینه کښې



خوشحالئ شوے هرطرف ته، بُتان پریوتل کعبه کښې
دربیع الاول میاشت کښې

## منقبت شریف (۹۶) پیرارچی مبارکؒ

فقیرآبادکښې مو دَ پیرارچي مسکن دے
راشه ورله لړ سالکه ښکلے گلشن دے
نامه لرې فقیر آباد
پکښې وی زړونه مدام خاد
په مبارك صیب دے آباد
روضه لرې په وجودپروت ئے سپین کفن دے
راشه ورله لړ سالکه ښکلے گلشن دے
دلته کښې پیر سیف الرحمانؒ
دَهر عاشق دَ زړه درمان
ځلیږي ستورے دَ آسمان
ترینه زار شوے هرمریددَخپل بدن دے
راشه ورله لړ سالکه ښکلے گلشن دے
دَ فیوضاتو عظیم کان ډیره
چه نه ئے منی دے ازلی سپیره

دَ سیف په توره لګیدلے تیره
خوشحاله نه به شي دا کس همیش غمژن دے
راشه ورله لرِ سالکه ښکلے ګلشن دے

دلته میلاؤ شی برکتونه
مریدان دی خائسته ګلونه
څلیړی سَم لکه لعلونه
ارمانی هریوئے دَ ښکلے خوړ دیدن دے
راشه ورله لرِ سالکه ښکلے ګلشن دے

هریوئے کړو دَ یوبل رور
باطل ته ئے اوښودلوزور
څکه خاموش دی نه کړی شور
هریوسیراب دے که موجودپه هروطن دے
راشه ورله لرِ سالکه ښکلے ګلشن دے

لطیف الله سیفی بُلُبُلُ یمه
مریددَ خادم ظفیرګل یمه
تل په صفت کښے ئے مشغول یمه
هریورنګ کړے ئے دَ خپل لباس په تن دے
راشه ورله لرِ سالکه ښکلے ګلشن دے



## منقبت شریف (۹۷) پیرارچی مبارکؒ

لرِ راشه، پیرارچی مِ کړی فقیرآباد آرامونه
لرِ راشه

سینه دے نه کړے چرته شاړه ،لرِ راشه
دَ زندګئ مزه مو لاړه ، لرِ راشه
دَ مبارك صیب به ووښکلی محلفونه
لرِ راشه، پیرارچی مِ کړی فقیرآباد آرامونه
لرِ راشه

ځان کړه فیضیابه دَ روضے نه ، لرِ راشه
فیضونه یوسه دَچینے ، لرِ راشه
ورکئ هرچاته دَ دربارنه ډیرفیضونه
لرِ راشه، پیرارچی مِ کړی فقیرآباد آرامونه
لرِ راشه

کان دعلو موسمندروو، لرِ راشه
دوست دَ مولی غنی اکبر وو، لرِ راشه
بے نوا نه پریږیدربارنه عالمونه
لرِ راشه، پیرارچی مِ کړی فقیرآباد آرامونه
لرِ راشه

لاړو زمونږ دَ زړګی تسکین ، لړ راشه
ستوری ښکاره وو په زمین ، لړ راشه
اُوس هم سینه وهی په عشق کښے موجونه
لړ راشه، پیرارچی مِ کړی فقیرآباد آرامونه
لړ راشه

لړے کړه زړه نه دِ تُورزنګ ، لړ راشه
که ئے بے رنګه شے به رنګ ، لړراشه
اُوڅکه دربارکښے ئے دَمینے شربتونه
لړ راشه، پیرارچی مِ کړی فقیرآباد آرامونه
لړ راشه

دَمبارك صیب برکات دی ، لړ راشه
ښکاره هرځائے کرامات دی،لړ راشه
خیژی روضے نه ئے دنُورسپین چراغونه
لړ راشه، پیرارچی مِ کړی فقیرآباد آرامونه
لړ راشه

بے ادبی درنه اُونشی ، لړ راشه
په ځان به اړوپوهه نشی ، لړ راشه
مه اخله دَښکلے مبارك نه ازرونه



لړ راشه، پیرارچی مِ کړی فقیرآباد آرامونه
لړ راشه

ده ظفیرګل په دُعارنګ یم،لړ راشه
زه دَخپل پیردَ درملنګ یم ، لړ راشه
دا سیفی لطیف الله کوی درته سوالونه
لړ راشه، پیرارچی مِ کړی فقیرآباد آرامونه
لړ راشه

## منقبت شریف(۹۸) پیرارچی مبارکؒ

دَنُورشمع ده بلیږی ارچی ځوان دے خائسته
مبارکؒ صیب ځمونږ خواجه ئے خواجګان دے خائسته
نن چه ښکاری ځلیدونکی لکه ستوری زیبا
مریدان دَمبارکؒ صیب په هرلوری زیبا
ترے شرمیږی ډیرګلونه ګلستان دے خائسته
مبارکؒ صیب ځمونږ خواجه ئے خواجګان دے خائسته
داچه لړ وخت کښے باطل باندے شوتندرګزار
لاړشه اوئے کړه زیارت فقیر آبادنه شه زار
منورمزارلری مَردِ میدان خائسته
مبارکؒ صیب ځمونږ خواجه ئے خواجګان دے خائسته
په نن وخت کښے په لکهونو مریدان چه لری

دَزړګونونه سِواخلیفه ګان چه لړی
خلفاؤ کښے مِ پیرلعل الرحمن دے خائسته
مبارکؒ صیب ځمونږخواجه ئے خواجګان دے خائسته

په نن وخت کښے دَفیضونوسمندرګوره
عالمان لړی خواړه ډك دَ اثرګوره
منورے ئے کړے سینے دَنُورباران دے خائسته
مبارکؒ صیب ځمونږخواجه ئے خواجګان دے خائسته

چه چا کړے ګستاخی هغه تباه کړو الله
شرمیدلے په دُنیا باندے رسوا کړو الله
توره تیره لړی پیرسیف الرحمنؒ دے خائسته
مبارکؒ صیب ځمونږخواجه ئے خواجګان دے خائسته

په نن وخت کښے په تاروکښے لړی ښکلے ګلاب
طریقت او شریعت کښے والله دے لاجواب
پیرسیدنورعلی شاهؒ نوری چشمان دے خائسته
مبارکؒ صیب ځمونږخواجه ئے خواجګان دے خائسته

داسیفی لطیف الله چه په سیفی شولویاد
دیدن غواړی دجانان په زړه زخمی شولویاد
مدینه منوره کښے ئے جانان دے خائسته
مبارکؒ صیب ځمونږخواجه ئے خواجګان دے خائسته



## منقبت شریف(۹۹) باچاصیب مبارکؒ

مرشدلرم تاروکښے ځه والله نوری چشمان
سیدوسادات نورعلی شاه صاحب دے ګران
ځلیږی لکه نمرغوندے دنیاته دے عیان
شمع ده بلیږی لری نورانی چهره
باچا باچامینه دَباچاصاحب خوږه ده
راځه راځه مینه ئے دَهر مریدسره ده

راشه په یوځل ورله عجب لری دربار
یاد به درته شی الله رسولؐ ئے په رُخسار
خیژی ئے دمخ نه والله ډیرښکلے انوار
ځان باندے عاشق کړی هربنده په یوګفتار
اَچوی سینه کښے دَتقویٰ لویه جذبه ده
باچا باچامینه دَباچاصاحب خوږه ده
راځه راځه مینه ئے دَهرمریدسره ده

رب رضا کوی همیش خفه ئے کړوشیطان
دائے عقیده ده دائے دین دائے ایمان
مینه ساتی زړه کښے دَحجازدَخوږ جانان
ځکه په الله اوپه رسولؐ باندے دے ګران

رب ورلــه ورکـړے دومـره لـویــه مـرتبــه ده
راځـــه راځـــه میـنـــه ئـے دَهـر مـریـدسـره ده
بـا چـا بـا چـا میـنـــه دَبـا چـا صـاحب خـوږه ده
ځان ترے کړه فیضیابه دَفیو ضوعظیم کان دے
لـرے کـړه دَزړه نـه بُعض بُعض دِ تاوان دے
مـکـوه عِـنـاد عِـنـاد کـول کـاردَشیـطـان دے
پاك دے مبـارك پـاك ئـے هم واړه خاندان دے
ورکـړے هرمـریدلـه ئـے دَ میـنـے وظیـفـه ده
راځـــه راځـــه میـنـــه ئـے دَهـر مـریـدسـره ده
بـا چـا بـا چـا میـنـــه دَبـا چـا صـاحب خـوږه ده
خپـلــه مبـارك دے مبـارك لـری خپـل پیـر
ځکـه پـه زبـان خپـل کښے لـری دومـره تـاثیـر
رائـے شـه لږ خوالـه پـه ایمـان بـه شے آمیر
بیـابـه اوکـړے تـه یوښتـه لږ دَخپـل ضمیـر
هـرچـاتـه فـراخـه ئـے دَفیـض لـویـه سینـه ده
راځـــه راځـــه میـنـــه ئـے دَهـر مـریـدسـره ده
بـا چـا بـا چـا میـنـــه دَبـا چـا صـاحب خـوږه ده
شپـه ورځ عبادت کښے دالله تعالیٰ مشغول دے



ژبـه پـه قـلـم بـانـدے دَپـاك نبی بُلُبُلُ دے
عـاشـق ډیـرپـه الله اوهم پـه خـاتم الرُسُلُ دے
دَدوی دے خلیـفـه اوځماپیرصیب ظفیرگل دے
رب ورلـــه ورکـــړے داشـعــاروخــزانــه ده
راځـــه راځـــه میـنــه ئـے دَهـر مـریـدسـره ده
بـاچـا بـاچـا میـنـــه دَبـاچـا صـاحب خـوږه ده
کـړم صفت پـه مینـه دِ سیفی لطیف اللّٰہیمه
ځــه خــودَهــریــوولــی الله دَ درگـدایــمــه
ډیریمه خوشحاله چه عاشق په مصطفیٰ ؐ یمه
ځان بـه پـرے قربان کړمه عاشق پرے دَپخوایمه
دغـــه مِ ایـمـــان دے ځـمـــا دغــه عـقـیـده ده
راځـــه راځـــه میـنـــه ئـے دَهـر مـریـدسـره ده
بـاچـا بـاچـا میـنـــه دَبـاچـا صـاحب خـوږه ده

## منقبت شریف (۱۰۰) نابغه شهیدؒ

ارمـــــــــــــان کـــــــوم
شیخ غـلام حضـرت صیب رانه یوړل تشریفونه
ارمـــــــــــــان کـــــــوم
ورځ دَ جـمـعــے وه مبـارکـــه ،، ارمـان کـوم

دَغم نه دغه ورځ وه ډکه ،، ارمان کوم
لاسونه ئے مات شه چه چا اوکړل دا ظلمونه
ارمان کوم
شیخ غلام حضرت صیب رانه یوړل تشریفونه
ارمان کوم
ته دَعلوموعظیم کان وے ،، ارمان کوم
ډیر مجاهد مردِ میدان وے ،، ارمان کوم
مدام له تابیانول به حدیثونه
ارمان کوم
شیخ غلام حضرت صیب رانه یوړل تشریفونه
ارمان کوم
قدر دِ راغے رانه لاړے ،، ارمان کوم
سینے دَعلم نه شوے شاړے ، ارمان کوم
په هرمحفل کښے به کول دِ تقریرونه
ارمان کوم
شیخ غلام حضرت صیب رانه یوړل تشریفونه
ارمان کوم
پیدا به نشی ستا پشان ،، ارمان کوم



که اوګوری ثوك تهول جهان ،، ارمان کوم
دَدین اسلام دِ کړے ګُله خدمتونه
ارمان کوم
شیخ غلام حضرت صیب رانه یوړل تشریفونه
ارمان کوم
شهادت شولو دے نصیب ،، ارمان کوم
میلمه شوے ته دَ پاك حبیبؐ ،،ارمان کوم
الله درکړے به وی ښکلے جنتونه
ارمان کوم
شیخ غلام حضرت صیب رانه یوړل تشریفونه
ارمان کوم
په قبرستا خواره انوارشه ،، ارمان کوم
هریو لوګے ستا دَ مزار شه ،، ارمان کوم
تا دَ حضورؐ په اُمت اوکړل احسانونه
ارمان کوم
شیخ غلام حضرت صیب رانه یوړل تشریفونه
ارمان کوم
لطیف الله سیفی ژړیږی ،، ارمان کوم

ستاخوږ دیدن راته یادیږی،، ارمان کوم
راکړه په خوب کښے راله بیابیا زیارتونه
ارمان کوم
شیخ غلام حضرت صیب رانه یوړل تشریفونه
ارمان کوم

## رباعی (۱)

دَمدینے منورے دَجانان ښکلے دربار
پرے راوریږی دَ مولا دَ نُوری ښکلے انوار
تروتازه شی په سینه کښے روح قراربیامومی
جنګلودننه مِ لری محبوب ډیرښکلے رُخسار
غم په راحت کښے بدلوی کمال لری دامحبوب
که دِ زیارت دَمدینے اوکړوپه ژوند کښے یو وار
سینه به ډکه یوسے فیض به درحاصل شی یودم
جنګلوسره دیدن کوه دپاك نبی ؐ دَمزار
هرڅه معلوم به درته شی په خپلوسترګودلته
که دجانان جنګلوته اودریدے یوځل په قطار
دَدُنیادَلِزتونوبه نفرت پیداکړے
که دَ شینکی ګنبد دِ اوکړویوځل ښکلے دیدار



لطیف الله سیفی الله دِ مدینے ته بوځه
ستادَ دِ سوی سینے دے هلته کښے ښکلے قرار

❁❁❁❁❁

## رباعی (۲)

کاش چه ښکلے مدینه وے زماکلے
په باب السلام جانان له تلے راتلے
دَجنګلوسره سرښکته ملامته
دردونه سلامونه مِ وئیلے
غلے غلے مِ کتے دبنړولاندے
په ګریوان مِ ترمے اُوښکے بهیدلے
دصدیق رض اودعمر رض نه شمه زار
درسره خواکښے دے هریونازولے
دَ زړه درد به مِ وے ختم ستاسوخواکښے
نه به مابیادَفراق سلګئ وهلے
دَ زړه کوربه مِ آبادنه به وے غم
چه مِ شین ګنبدته هروختے کتلے
ته طبیب دَبیمارانوئے سرداره

ستا په یو نظر به ګُله جوړیدلے

❁❁❁❁❁

## رباعی (۳)

مدینه منوره دَ یار وطن دے
دَ جانان ښکلے روضه دَ یار وطن دے
اے زړګیه ستا ارمان الله پوره کړو
مخامخ ښکلے جنګله دَ یار وطن دے
سترګے اولګوه ښکلے دروازے دی
دَ ادب هره کوڅه دَ یار وطن دے
دَ دنیا په یو خائست به ئے ورنه کړم
څه عجبه نظاره دَ یار وطن دے
لږ نظر اوکړه دِ ښکلے شین ګنبد ته
څومره ښکلے مناره دَ یار وطن دے
خیال کوه بے ادبی درنه اُونشی
اے سیفی لطیف الله دَ یار وطن دے

## رباعی (٤)



ته دَ مینے محبت لویه سینه ئے
حقیقت کښے په رښتیا چه مدینه ئے
ستا په غیږه کښے جانان اُوسی قربان شم
ځکه شهدونه خوږه اوشرینه ئے
تاکښے ګرځی فرشتے عجیبه ښارئے
دمحبوب په مخ والله ډیره درنه ئے
تاکښے ډیرے دروازے دی دَ آدب
ته کامیابه دباب السلام کوڅه ئے
خوشحالئ به تولے زارکړم دَ نظرنه
مخامخ چه شین ګنبداومناره ئے
جنتونه درنه کُل واړه لوګے شه
دَ جنت نه والله ښکلے باغیچه ئے
داخوستا نظرِ کرم دے ستا په خواکښے
اے سیفی لطیف الله خفه په به څه ئے

## رباعی (۵)

ژوند مِ ګران شو په غم کښے بے لتانه
یو نظر دَ مینے اوکړه خوږ جانانه
مدینے منورے پسے رنځور شُوم

سخته کړه په مادَهیجرته آسانه
داستا غم به نوربرداشت نه شي زمانه
یوځل خوب کښې راشه پاك نبیؐ سلطانه
په هرغم پسے راحت وي دا رښتیادي
غم مِ کړه ته په راحتبدل نورګرانه
چه سینه شي منوره دَ انوارو
چه مِ سترګے دواړه ډکے شي رنړانه
بے لتانه ګرانه ډیره زندنګي ده
په غمونوکښے آخته یم پریشانه
دسیفي لطیف الله دَزړګي سرئے
مینه کړي درسره ډیره دَپخوانه

## رباعی (۶)

پاك نبیؐ خیرالبشر دے مدینه کښے
دهرچا دزړګي سردے مدینه کښے
نومدینه منوره ده پرے روښانه
ځا انوار دے منور دے مدینه کښے
چه آفسردے دَهمه واړونبیانو
دَلولاك تاج ئے پسردے مدینه کښے



چه په مخ ئے کائنات تمام ظهور شو
چه خائسته له شمس قمر دے مدینه کښے
درسره په خواکښے دوه یاران آرام کړي
یوصدیقؓ اوبل عمرؓ دے مدینه کښے
ځه سیفي لطیف الله شم ترینه زار
ځما ښکلے خوږدلبر دے مدینه کښے

## رباعی (۷)

ستا دَمینے محبت نه شمه زار
مدینه کښے چه اوسیږے مِ دلدار
یوځه نه یم ستابے شمیره عاشقان دي
په وصال پسے ستا دي په زړه بیمار
ستاپه مینه کښے له مال اوسرنه تیردي
دي په طمع درته ټول دَخوږ دیدار
بے لتانه ئے قرار زړګي ته نشته
ستادَهجرتیغ ویشتلے دي پرهار
یونظر دِعاشقانوله کافي دے
هریو ستاسودَنظر دے طلبګار
دسیفي لطیف الله ارمان پوره کړه

دَرخسارنه حجاب لرے کړه یووار

❁❁❁❁❁

## رباعی (۸)

چه خاتم دَ انبیاؤ سردار راغے
په مکه بانده دَګُلونو بهار دے
خزان لاړه دَ اُمید ډیوه شوه بله
هرطرف ته رنړاګانے انوار راغے
بُت خانے شولے تباه په هغه دم
په شیطان لعین دَ تندر ګزار راغے
لَا اِلَهَ اِلَّا اللّٰہ وړمے شروع شوے
دَوحدت ګلشن ته ښکلے مالیار راغے
ژوندئ لونړه خخول به شی ختم
چه خاتم دَ انبیاؤ سالا راغے
هرطرف ته به شی خور داسلام زور
دغریب اُمت دپاره غم خوار راغے
دَسیفی لطیف اللّٰہ دَسترګو تور دے
په نامه بانده ئے زړهٔ ته قرار راغے

## رباعی (۹)

مدینه منوره ده ترینه زارشم
دجانان ښکلے روضه ده ترینه زارشم



اے زړګیه ستا آرمان اللّٰہ پوره کړو
داخو نورانی جنګله ده ترینه زار شم
په ادب ګورمه مخامخ جنګلو کښے
ښکاری ښکلے شنه پرده ترینه زارشم
دَپردودننه خوږ جانانه آرام کړی
ځومره نورانی چهرے ده ترینه زارشم
په ګلشن کښے ښکلی درے یاران اُوسیږی
ځومره ښکلے باغیچه ده ترینه زارشم
اے سیفی لطیف اللّٰہ ډیر بختورئے
دَجانان خواکښے دِشپه ده ترینه زارشم

## رباعی (۱۰)

په دیدن دَجانان کله ځوك مړیږی
دهجران غمونه ډیردی نه کمیږی
یو لحظه که مِ واللّٰہ دَ زړه بهرئے
اندرون زړګی کښے صِرف ته اوسیږے
دوِصال په طمع شپے ورځے تیروومه
دانادان زړګے ځما کله صبریږی
یوځل ماسیراب کړه دَښکلے دربارنه
ستا دربار کښے ډیر فیضونه حاصلیږی
دَسیفی لطیف اللّٰہ بے لتا ځوك دی

فـريـادونـه دَ سينـے نـه مِ راخيـژي

**رباعی** (۱۱)

پـه تـمام جهان کښے خوږنبیؐ سرور دے
رب ورکړے دے عزت دوست دَ اکبر دے
اولين هم آخرين دِ نازنين
دبی بی آمنےؓ خوږ دَزړګی سر دے
پـه دُنيا ئے دی پـه مونږه احسانونـه
بل شفيع نبیؐ رويئدار موپـه محشر دے
ترے شرميږی دَرخساره تهول ګلان
مخ پټهئ پانړوکښے ډير زيات جلوه ګر دے
اويازره پردے شتـه ئے پـه رُخسار
حيرانيګی کـه آفتاب دے اوکه نمر دے
بل پرتـه ئی ده سُرخی پـه سرولَبانو
پتهوی ترے ځان ګلاب دے که صدبر دے
اے لطيف الله سيفی شکرګزارشه
رب درکړے درلـه ډيرښکلے دلبر دے

**رباعی** (۱۲)

چـه آئين دَ زړګی وی دچاصفا



دِ ليدلے شی جلوے دَ مصطفیٰؐ
چه ګنده ئی وی ضميرزړه کښے درغل وی
کاميـاب نـه بـه شی پـه دوجهانو دا
چـه دَ تـوروزلفو ګل سره کړی مينـه
رب بـه ورکړی تورے زلفے خامخا
ځکه دے خاتم دَتهولو انبيـاؤ
پاك الله قرآن کښے قرآن کښے کړے داوينا
نورانی حُسن تـه ئے ثوك کله رسيږی
کـه آفتاب مهتاب کوی سپينـه رنړا
چـه جهان وربـاندے فخرکوی تهول
صفتونـه ئے ځائے پـه ځائے کوی الله
تهول جهان که په يوه خپه باندے چانړکړی
پيدا نـه بـه شی بل داسے يوزيبا
ځه سيفی لطيف الله به ډيرخوشحال شم
کـه خادم د کرم پـه خپل درکښے ګدا

**رباعی** (۱۳)

زړګے ووم مدينـه پسے پريشان
شکر شکر چـه پوره مِ شو ارمان

تصور کښې به ئې کو ځو کښې ګرځیدمه
حقیقت کښې نن یم دلته کښې روان
کله راغلم به په خیال کښې شنې روضې له
مخامخ به اودریدمه دَسلطان
دے نه بله خوشحالي به چرته راشي
چه حرم مِ اولیدلو په چشمان
داسې ځائې بل په جهان کښې نشته چرته
لکه څنګه چه حرم دے دَجانان
عُشاق تهول ئي سلامئ ته دي ولاړ
وی دا هر یو په درود سلام ګویان
نو ځه لطیف الله سیفي دجنګلو خواته
سلامونه مِ جاري دي په زبان

**رباعی** (۱٤)

اے محبوبهٔ حرم ډیر لرے خائسته
کوی هر ځائے نه ګنبد شین دِ رڼا
منارے دِلَس ځلیږی لکه نمر
ښکاری لرے نه رنګینه باغیچه
عاشقان پکښې تمام په درود سَروی



سلامونه وائی دوئ په مصطفیٰ
جنتی ګلشن جوړ شوے مزیدار دے
اے رضوانه که دے اوکړه تماشه
نو ځه لطیف الله سیفی جنت نه غواړم
غواړم رب نه دا رنګینه مدینه

**رباعی** (۱۵)

تۀ لرے ښکلے حسینه مدینه
عجیبه ښکلے رنګینه مدینه
کړی شپه ورځے رڼاګانے په هر لور
ښکاری هر ځائے نه داسپینه مدینه
رڼاګانے شین ګنبد کوی لورایه
په هر چا باندے شرینه مدینه
اودریږه لږ په آدب دَجنګلو خواته
زړه راښکونکے او تسکینه مدینه
اے سیفی لطیف الله رب دِ نصیب کړه
رب دِ درکړی دا شرینه مدینه

**رباعی** (۱٦)

یادیدو به مِ دا ښار دَمدینے

نن موجود یم په ګلزارد مدینے
دا دَرب فضل وکرم ډیرزیات په ما دے
چه م اولیدودربارد مدینے
هر ګلشن لره خزان وی حقیقت دے
خزان نه لری بهاردَمدینے
خوشبودارے اورنګینے ئی کوڅے دی
تلوبه دلته پاك سرداردَمدینے
بُلبلان پکښے تمام په درودسَر وی
سلام وائی په تاجدار دَ مدینے
اے سیفی لطیف الله قدم په نازږده
فرشتے ګرځی په لاردَمدینے

**رباعی** (۱۷)

اے محبوبهٔ ستاپشان خُوبرِیان نشته
په دُنیاکښے ستاپه مثل ګلان نشته
تورے زلفے دے خورے په سپین جبین دی
ګُله ستا پشان حسین په جهان نشته
په عرشِ برین اینبودے قدم تادے
والله غوره ستاپشان بل انسان نشته



رب درکړے لقب کَآفَّةً لِلنَّاسُ دے
څلیدونکے ستورے بل ستاپشان نشته
په یٰسین اوپه طٰهٰ باندے موصوف ئے
ستانه پس راتللو والا نبیان نشته
څه لطیف الله سیفی پتاعاشق یم
مادَپاره ستاپشان بل جانان نشته

**رباعی** (۱۸)

چه دُنیاته تشریف راوړوپاك سردار
تیاره لاړله دَکفرشونهار
په هرځائے دَخوشحالئ وړمے خورے شوے
چه پیداشو محمدٌ نبی روئیدار
پاك الله تمام کړوحُسن په محبوبٌ
تجلیٰ ئے مخ کوله دَانوار
په دُنیاکښے په هرځائے رنړا رنړاشوه
نورانی رخسار سرګند چه کړوتاجدار
بُتان پرمخے کعبه کښے شونسکور
چه پیداشوپه کوم وخت خیرالابرار
نو دَسیفی لطیف الله څه خطرنشته

چـه شفیـع لـری مـحشـر کښے جلوه دار

❁❁❁❁❁

**رباعی (۱۹)**

چرته سرداردوجهان چرته کښے ځه غریب خوار
چرتـه دیـدن دَمـدینـے چرته کښے ځه ګنهګار
مولی کریمـه لـویـه ذاته داتهول فضل دے ستا
چـه مـدینـه منوره کښے زړه تـه راغـے قـرار
هیـڅ خوشـحالـی مِ زړه ته رانغله په بل یو مکان
خوشـحالـی راغـله چه دشین ګنبدمِ اوکړودیدار
محبوبـهٌ ستـانظـرکـرم دے چـه دِ راوستـمه
دُعـاکـولـه راتـه ډیره زیاتـه موراوهم پلار
شکـرکړم شکـرچـه مِ اوکړوزیارت ستادَروضے
عظیم احسان رابانـدے اوکړوخپل مولیٰ کردیګار
سیفی لطیف الله ولاړیـم لاس پـه نام درتـه ځه
شے پـه مـحشـرکښـے مِ شفیع دَ دوجهانو سردار

**رباعی (۲۰)**

موجود یم ځه دَ مدینے منورے په ګلزار
دلته موجود هم دے پخپله دَ نبیانو سردار



زړه راتهولیـږی مِ ډیـردلتـه پـه دِ ښکلی حرم
دلتـه آرام کړی دزخمی زړونوډیرښکلی قرار
پـه مینه ډیرے دَ صلات سلام نعرے جوړے دی
تهول بلبلان چغیـږی دلتـه پـه دِښکلی دربار
هریو ارامان کړی چه جنګلے په مینه ښکل کړمه زه
لیـکن جنګلوسره ولاړوی بے آداب څوکیدار
زړه ئے خالی وی دَحضورعلیه السلام مینے نه
شائے روضوطرف ته وی څنګه خدمت کړی دَیار
پـه دے بقیع کښے دَروضوسره سلام په زوره
دَشرك تاپه دربانـدے اړدی اوباسی ستانه ګزار
یووے پردیس بل دجانان وطن کښے راشی افسوس
زمـا سـره څـه کیـږی څـومـره مِ کوو انتظـار
بـس دَجـانـان حـرم کښـے ځان لـه تسلی ورکوو
شـام وسـحـر چـه راوریـږی پکښـے ډیـر ډیـر انوار
لطیف الله سیفی دیدن ته دے تیرے ورځے شپے
کـه ئے نصیب چرته دیدارشی ستاد.ښکلے رُخسار

**رباعی (۲۱)**

ستـا پـه میـنـه کښـے سوزیـږمه محبوبهٌ
درپسـے هـروخـت ژړیـږمـه مـحبـوبـهٌ

نو په وصال ستا به مِ ټول زخمونه جوړشي
بے لتا کله جوړیږمه محبوبهٌ
دهجران په پوله ناست یم غم زپلے
بے دیداره نه صبریږمه محبوبهٌ
دَ رحمت نظر په ماګنهګار اوکړه
داغیار کله خپلیږمه محبوبهٌ
ستا دَمینے او جمال څه دیوانه یم
دَرُخسار نه دِ زاریږمه محبوبهٌ
څه لطیف الله سیفی درپسے ژاړم
بے لتا نه قلاریږمه محبوبهٌ

**رباعی (۲۲)**

سوال همیش کوؤمه څه دَخپل مولیٰ
چه نصیب مِ شی دیدار دَمصطفیٰ
ډیر مخلوق به سوال دَمال اودَدولت کړی
څه کومه سوال دګنبد خضرا
نصیب کړے مُو رب سفر دَ مدینے
چه څه وینم شین ګنبد او مناره
په خاطر دخپل جانان دتوروزلفو



مونږ ته اوښائے خپل کوردَبیت الله
هم دَریاض الجنت ډیرارمانی یم
چه دیدار نصیب شی څو ځلے ځما
دَبقیع دَ مقبرے دیدن هم راکړئے
چه پکښے دے ذوالنورین عثمانؓ اعلی
دَ سیفی لطیف اللہ نورارمان نشته
که ئے ښکل کړه دَ محبوب ښکلے جنګله

**رباعی (۲۳)**

اے مسلمه روره واوره نصیحت
غم پکار دے تاله ډیر دَ آخرت
چه په صدق مسلمان وائے ته ځانته
محبت پیدا کړه ځان کښے دحضرت
الصلوة والسلام په جانان وایه
په زړګی کښے لره ډیرئے محبت
فام کوه بے ادبی درنه اُوشی
داسے ژوند کړه تیر چه وی دشریعت
چه دَیارسول لله نه انکاری وی
اوبه نه وینی په دِ سترګو جنت

ځان غلام کړه دَمحبوب په توروزلفو
شی میلاؤ به درته هرقسمه نعمت
ستاادنٰی غلام سیفی لطیف الله یم
معاف کره راله رسولهؐ معصیت

**رباعی** (۲٤)

په مدینه منوره کښے دَ انواروباران
اوسیږی ګُل پکښے دَپاك الله محبوبِ سبحان
او چه رحمة اللعالمین شی په قرآن بللے
هغه عظیم درحمتونوفیوضاتو لوئے کان
هرشاه ګدا ئے دجنګلو څه ملامت وی ولاړ
دافضیلت الله ورکړے رب پرے ډیرمهربان
سوالونه غواړئ دالله نه وسیله کړئ داګُل
سوال ئی قبول شی دمحبوب نه ورته بل څوك دی ګران
کمے ئی نشته په دربارکښے وسیله کړه محبوبؐ
بیابه معاف درله پاك رب کری همګی عصیان
سیفی لطیف الله غلام دے ستاادنٰی اُمتی
کوه نظرراته مرهم مِ ئے دَ خوږ زړه درمان

**رباعی** (۲۵)



محمدؐ نبی سرورپه جهان راغے
ښکلے ستورے منوردَسبحان راغے
په راتلوئی تجلیٰ دَنورخوره شوه
دَګلاب ګل دبهارپه بوستان راغے
نورب مکه اومدینه په ګُل خائسته کړه
ښکلے باغ ته دَمکے خوږ جانان راغے
په مکه باندے رحمت دَرب نازل شو
خپل اُمت ته دَ رحمت لوئے باران راغے
بُتان پرمخے کعبه کښے ټول نسکورشو
په کافرونا ګهانه خزان راغے
ښکلے ګُل چه دَعُقبیٰ په لوری لاړو
په سیفی لطیف الله ډیرهجران راغے

**رباعی** (۲٦)

راغلمه څه دَمدینے منورے په ګلزار
دَدوجهانودَ بادشاه مِ دلته اوکړو دیدار
پرون ګدا ووم نن بادشاه شومه په پاك حرم کښے
دقسمت ستورے زما شولوالله یودم بیدار
دلته زخمی زړونه رغیږی په نظردَ روضو

ډکه سینه شی دَ فیوضوزړه ته راشی قرار

خلق ئے خواب کښے دیدارغواړی هروخت خپل مولیٰ نه

په حقیقت کښے مودیداراوکړودَدِ ښکلے ښار

دا دَ رب فضل دے په ماغریب ناتوانه بنده

چرته سرداردوجهان چرته کښے ځه غریب خوار

لطیف الله سیفی په کوم شان کړی شکرونه ادا

دَخپل مولیٰ دَنعمتونه هډونشته دے شمار

**رباعی (۲۷)**

تالیدلے نه دے ښاردَمدینے

که دِ اولیدودربار دَمدینے

ډیرزیات ښکلے برکتونه عظمتونه

حاصلیږی په ګلزاردَ مدینے

اے عاشقه که تااولیدوحرم

شے حیران به ئے په دیداردَ مدینے

ډیره ښکلے باغیچه مِ دَ محبوب ده

ځکه کرم صفت بسیاردَ مدینے

زړه به غواړی چه جنګلے خامخا ښُکل کړم

دلته پروت دَ زړه قراردَ مدینے



اے لطیف الله سیفی شکرګزارشه

چه عاشق ئی په سرداردَ مدینے

**رباعی (۲۸)**

محبوب خوشبوکړی چه مدام په کومه لار راځی

خزان شی ختم پرے موسم یودم بهار راځی

ځان دَمحبوب پشانے مه ګنړه تباه به شے ته

په مخ اویازره پردوکښے پټ انوار راځی

په محبت کښے نه په مال اونه په ځان وی ثوك

په خوب کښے هرعاشق له هاشمیؐ سردار راځی

ستاپه سینه کښے مینه نشته تش کهنډړاتے دے

محبوبؐ دهریوغم کوی ورله غمخوار راځی

که ته عاشق شولے په مینه کښے بیاځانته ګوره

بیابه په ویخه خوب کښے تل مدینه ښار راځی

لطیف الله سیفی دعوے مکوه ته دَمینے

مینه هغه ده دَمنصورغوندے په دار راځی

**رباعی (۲۹)**

اے مجنونه په لیلیٰ پسے ژړیږے

ارام نه راځی دِ زړه ته ډیرسوزیږے

راشه اوکړه عِشق دپاك رسول الله م
که دَمینے حقیقت باندے پو هیږے
نه به راشی درله غم په زندګئ کښے
که دَتوربلال ؓ پشانے قربانیږے
دَجنت حورانے کړی چه پرے نازونه
دِمنزل ته به بیا هَله ته رسیږے
دَدُنیا مینے دا ټولے مجازی دی
دَالله او دَ رسول ؐ نه که زاریږے
دَسیفی لطیف الله زړه کښے نورخوك دی
اے محبوبهٔ صِرف ته پکښے اُوسیږے

**رباعی (۳۰)**

راشه اوکړه لږ دیداردَمدینے
پکښے اُوسی پاك سردار دَمدینے
دَیثرب نه مدینه منوره شوه
په دِ پاك نورالانوار دَمدینے
مدینه منوره ښکلے وطن دے
که دِ اولیدو سِنګار دَ مدینے
که منبر دے که محراب دے یاصُفه ده



برکت لری اثار دَ مدینے
خیال کوه قدم دِ کیده ډیر په آدب
فرشتے ګرځی په لار دَمدینے
په درود سلام همه ژبه وَئیګی
سلام وائی په تاجدار دَ مدینے
اے سیفی لطیف الله ډیر بختورئے
چه موجود ئے نن په ښار دَ مدینے

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁